بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

الحمد لله و كفى، والصلاة والسلام على عباده الذين الصطفى.

په عربي، اردو او فارسي ژبو کې مې د تاريخ، تاريخي او علمي شخصيتونو، علومو، فنونو، ان يوازي پر ځانګړو افرادو او حتا تر يوه هيواده او يا تر يوه فکره محدودو کسانو په اړه ډېر څه وليدل، ولوستل او وکتل.

دې ګڼو کتابونو وهڅولم چې په پښتو ژبه کې به د افغان محدثينو په نوم يوه داسې وړه ټولګه ليکم چې پکې ځای پر ځای شوي اشخاص يې ټول د افغانستان د همدې اوسني جغرافيوي جوړښت سره تعلق ولري.

هدف مې دادئ چې په دې کتاب کې يوازي هغه افراد او حديث پوهان راوړل شي چې زموږ د ګران هيواد په همدې اوسني جغرافيوي محدوديتونو کې دننه وي؛ خو امام نسائي له دې اصله بيل دی.

دادئ په دې اړه مې يوه وړه ټولګه چمتو کړې ده، دا چې په دې ميدان کې به څومره بريالی يم؛ نو فيصله د لوستونکو پر غاړه ده.

تر وسه مې هڅه کړې ده چې مالومات کره او دقيق وي؛ سرچينې د هر محدث د ژوند ليک په پای کې ور کړل شوې دي؛ داسې مې نه دي کړي چې دهرې خبرې، مسلې او پراګراف حواله تر ختمېدا [illegible] ور کړې، بلکې د [illegible] مې له ګڼو کتابونو راټوله کړې ده، د لوستونکو د اسانی په خاطر مې د ليکنې تسلسل نه دی خراب کړی او مراجع مې ټول په اخير کې ذکر کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه یادونه دا لازمي بولم چې دا ټول مراجع ما خپله نه دي کتلي، بلکې ځینې مراجع داسې دي چې په یوه کتاب کې د لټې مهال به مې یوه بل کتاب ته هم پام شول چې دغه کتاب به حواله ور کړې وه، نو ما دواړې حوالې راوړې دي چې د لوستونکو لاس رسی ورته اسانه شي؛ ځکه که لږ کتابونه د ماخذ په ډول استعمال شي ممکن هر ځای هر لوستونکی که وغواړي نو لاس رسی ورته ونه لري، له دې امله مې حوالې تر هغو کتابونو زیاتې ور کړې دي چې ما لوستي وو او له هغو کتابونو مې اقتباس کړی دی. د ۲۰۱۳ م مهال چې ما دا کتاب لیکه، زه د تحقیق له دې اصل څخه خبر نه وم چې یوازي هغه مرجع یادېدلای شي چې لیکوال یا ټولونکي هغه لیدلی وي او مخامخ یې اقتباس کړی وي، اما دا چې زما کتاب په هماغه پخوانۍ بڼه چاپ شوی دی او ممکن اوس بازار کې خلاص وي، نو مې اراده وکړه چې دا کتاب pdf خپور کړم څو خلک استفاده ځنې وکړي؛ اما په مراجعو کې مې لاس ځکه ونه واهه چې یوځل له همدې مراجعو سره نشر شوی دی، نو اوس یې هم کمول مناسب نه بولم.

کتاب کې د الفبا طریقه په پام کې نیول شوې ده، ځکه نو ځینې مشران علماء تر کشرانو وروسته راغلي دي، یا هم مشهور تر نامشهورو وروسته شوي دي.

په دې هیله چې کتاب زموږ د ټولنې یوه ډېره وړه تشه ډکه کړي او په دې لار کې لومړی پل شي.

محمدرسول پېروز

۲۰۱۹/نومبر/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



( أ )

## ( ۱) ابراهيم بن يعقوب الجوزجاني

### لنډه پېژندنه:-

ښاغلى امام په جوزجان كې پيدا شوى او وروسته دمشق ته تللى ان تر مرګه همدلته اوسېدى، بصرې، رملې، مكې او نورو ته يې هم سفرونه كړي، پوهانو له باوري او حافظو راويانو څخه ګڼلى، د نسب لړى يې داسي ذكر شوې:

إبراهيم بن يعقوب بن إسحاق السعدى أبو إسحاق الجوزجاني.

### زوكړه:-

د زوكړې دقيقه نېټه يې نه ده مالومه شوې.

### زده كړه، استادان او شاګردان:-

د ماشومتوب پر مهال يې د خپلې سيمې پر پوهانو زده كړې وكړې، بيا يې د عالي تحصيلاتو لپاره د نړۍ نور علمي مركزونه وكتل، د خپلو زده كړو پر مهال يې له دې كسانو پوهه لاس ته راوړې:

يزيد بن هارون، أبو عاصم النبيل، حسين بن علي الجعفي، حجاج بن محمد الأعور، عبد الصمد بن عبد الوارث، الحسن بن عطية، أبو عتاب سهل بن حماد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبيد الله بن موسى العبسي، يونس بن محمد، عمرو بن عاصم، قبيصة، الحجاج بن نصير، عثمان بن عمر، مسلم بن إبراهيم، زيد بن الحباب، سليمان بن حرب، جعفر بن عون، شبابة بن سوار، عبيد بن عقيل، عبدان عبد الله بن عثمان المروزي، الجارود بن يزيد، أبو مسهر الغساني، عبد الله بن يوسف التنيي، عبد الوهاب بن نجدة، إبراهيم بن عبد الله بن العلاء بن زبر، محمد بن أسد الخشني الإسفرايني، يحيى بن صالح الوحاظي، سلامة بن بشر بن بديل، يحيى بن عبد الله بن الضحاك، هشام بن عمار، أبو صالح (د الليث كاتب)، سعيد بن أبي مريم.

د شاګردانو په کتار کې يې د دې اشخاصو نومونه يادولای شو:

إبراهيم بن دحيم، عمرو بن دحيم، أبو زرعة الدمشقي، أبو زرعة الرازي، أبو حاتم الرازي، إبراهيم بن عبد الرحمن بن مروان، أبو جعفر الطبري، زكريا بن يحيى السجزي، أبو الحارث أحمد بن سعيد، أبو الحسن بن جوصا، أبو العباس محمد بن جعفر بن محمد بن هشام بن ملاس، محمد بن أحمد بن راشد بن معدان، أبو الأصيد محمد بن عبد الله بن عبد الرحمن الأزدي، عبد الصمد بن عبد الله بن عبد الصمد، أبو بكر محمد بن أحمد بن الوليد بن أبي هشام القبيطي، أبو الميمون أيوب بن محمد القاضى، أبو بكر محمد بن أحمد بن المثنى، أحمد بن عبد الله بن نصر بن هلال السلمي، أبو بشر الدولابي.

په اړه يې د پوهانو ويناوې:-

قال النسائى: ثقة . نسائي ويل: باوري دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال الدارقطنی : أقام بمكة مدة و بالبصرة مدة و بالرملة مدة و كان من الحفاظ المصنفين و المخرجين الثقات .
قال ابن حبان فی " الثقات " : كان حروزی المذهب ، و لم يكن بداعية ، و كان صلبا فی السنة حافظا للحديث.
قال السلمی عن الدارقطنی ـ بعد أن ذكر توثيقه ـ : لكن فيه انحراف عن علی.

دارقطني ويل: په مكه، بصره او رمله كې څه وخت اوسېدلی، دی د حديثو له حافظانو، مصنفينو او باوري حديث روايت كوونكو څخه وو.
ابن حبان په الثقات كې ويلي: دی د حريز بن عثمان پر تګلاره وو، خو بلنه يې ورته نه كوله، په سنتو كې ټينګ او د حديثو حافظ وو.
سلمي د دارقطني په حواله ويلي: (د توثيق تر بيان وروسته) خو په ده كې له علي د مخ اړولو عيب وو.

ابن حجر وايي چې ابو داؤد، ترمذي او نسائي ترې روايات كړي.

بل ځای وايي: ابن جرير الطبري هم په خپل تفسير او تاريخ كې ترې څو ځايه روايات نقل كړي.

حافظ په تقريب كې همدا راز وايي: **ثقة حافظ رمى بالنصب.**

باوري، حافظ خو د نصبيت نسبت ورته شوی.

هدف يې دا دئ چې له علي سره يې جوړه نه وه، ناصبي هغه ته وايي چې په خبرو كې پر علي رض تشدد كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکنې:-

امـام زرکلـي پـه الأعلـام کـې ده تـه دوه کتابونـه منسوب کړي يـو يـې « الجـرح والتعـديل » او بـل يـې « الضعفاء » دئ، دی وړاندي وايي:

وقال ابن كثير: له مصنفات منهـا (المتـرجم فيـه علـوم غزيرة وفوائد كثيرة)

ابـن کثيـر ويلـي: دی يـو شمېر ليکنې لري چې پـه هغـو کـې ډېـرى علـوم او ګڼشـمېر فوائـد پېژنـدل شوي.

مړينه:-

دی په دمشق کې د (۲۵۶) پر مهال يا هم د (۲۵۹ هـ) پـر مهال وفـات شـوى او دا د ذى القعـدې مياشـت وه.

مراجع:-


۱ ) تهذيب التهذيب ۱ / ۱۸۲
۲ ) الكامل (۱۳۲) لابن عدي
۳ ) تهذيب الكمال ۲/ ۲۶۸
۴ ) مشيخة النسائي «۹» استاذ
۵ ) الوافي بالوفيات ۶ / ۱۷۰
۶ ) الجرح والتعديل ۱/ قسم ۱/ ۱۴۸
۷ ) الولاة والقضاة: ۳۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۲) امام نسائي ﷬

لنډه پېژندنه:-

نسائي د هرات له مشهوروعلماؤ ګڼل کېدی، لوی محدث ، فقيه، مفسر اوستر عابد وو. سېرت ليکوونکويې دنسب لړۍ دارنګه بيان کړې ده:

ابو عبيدالرحمن احمد بن شعيب بن علي بن سنان بن بحر بن دينار النسائي الخراساني القاضي.

النسائي:- د خراسان يو مشهور ښار چې هرات ته نژدې دی د نساء په نوم يادېږي،امام نسائي همدې ښارته منسوب دی، ځيني عرب يې النسوي هم وايې چې همزه په واوبدلوي.

زوکړه:-

امام نسايي ﷬ په (۲۱۵هـ) کې پيدا شو ، په همدي ښار کې لوي شواو لومړنۍ زده کړې يې د دې ښار پر علماؤ وکړې.

زده کړې:-

امام ذهبي ﷬ وايي: امام نسايي په حديث پوهنه کې د زده کړې په موخه لومړی قتيبة بن سعيد بغلاني ته ورغی ، دامهال يې عمر( ۱۵) کاله وو.وروسته يې نورو سيمو لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



خراسان ، عراق ، جزيرې ، شام او مصر ته د علم په لټه سفرونه وکړل.

استاذان:-

امام نسايي هم د نورو محدثينو په شان پر ګڼو استاذانو ديني علوم ولوستل او په ځانګړي ډول له ډېرو حديث پوهانو يې نبوي سنت زده کړل چې د ټولو استاذانو شمېر يې خورا زيات دئ زه به يې دلته څو نوموتو استاذانو ته اشاره وکړم:

امام اسحاق بن راهويه، هشام بن عمار، محمدبن نصرالمروزي، ابو کريب، حميد بن مسعدة، علي بن خشرم، محمود بن غيلان، حافظ ابو داؤد سليمان بن الاشعث السجستاني، حارث بن مسکين، هناد بن السري، محمد بن بشار، احمد بن منيع، بشر بن هلال الصواف، علي بن حجر، محمد بن المثنى، نصر بن علي الجهضي، امام بخاري او نور...

شاګردان:-

امام نسايي ﷺ هم تر زده کړې وروسته د اسلامي ټولنې په روزنيزه لړۍ کې ونډه واخيسته او ګڼ شاګردان يې وروزل چې د ځينو مشهورو نومونه يې دادي:

ابوبشرالدولابي، ابو قاسم الطبراني، ابو جعفر الطحاوي، محمد بن هارون بن شعيب، ابو الميمون بن راشد، ابراهيم بن محمد بن صالح بن سنان، ابو بکر احمد بن محمد بن اسحاق السني الحافظ، ابو علي الحسين بن محمد نيشاپوري، ابو قاسم حمزة بن محمد بن علي الکناني، محمد بن معاويه بن الاحمرعبدالکريم او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام نسايي ﷫ ستر علمي مقام:-

ده په علم حديثوکې لوی لاس درلود، د جرحې او تعديل په برخه کې هم وتلی ماهر وو، ډير زاهد، متقي، متواضع او خاکسار انسان وو، ځلور ښځې يې درلودې، د وخت علماؤ په ډېره درنه سترګه ورته کتل اود ده ستر علمي مقام يې مانی.

د سنن نسايي د ليکلو انګېزه:-

امام نسايي ﷫ تر دې کتاب ياني سنن نسائي وړاندي سنن کبری ليکلی وو، خو په هغه کې د ضعيفو رواياتو تله ډېره درنه وه له همدې امله يې د سنن نسائي په ليکلو لاس پوري کړ او هغه ټول روايات يې پرېښودل چې ده په سنن کبری کې نقل کړي ول او علماوو نيوکې پرې کړې وې.

سنن نسايي د ابو بکر محمد بن اسحاق السني په ذريعه روايت شوی او موړته په همدې روايت را رسېدلی دی.

د احاديثو په شپږو مشهورو کتابونو کې تر شېخينو او ابو داؤد وروسته د نسائي درجه ده.

شرحې:-

پر سنن نسايي هم ډېرو حديث پوهانو ګڼې شرحې ليکلي

دي چې يوه پکې د علامه سيوطي شرحه ده پر دې شرحې شيخ ابوالحسن ابن عبدالهادي حاشيه ليکلې ده او بله مشهوره شرحه يې سراج عمر چې په ابن القعذهم مشهور دی ليکلې ده.

ليکنې:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام نسايي ﵀ هم په علمي ډګر کې ګڼ اثار پرېښي چې د ځينو نومونه يې دادي:

١) السنن الكبرى دا كتاب ابو بكر محمد بن معاويه چې په ابن الاحمر الاندلسي هم مشهوردئ روايت کړی دئ.

٢ ) كتاب الضعفاء والمتروكېن

٣) كتاب الجمعه

٤) عمل اليوم والليلة

٥) كتاب المدلسين

٦) كتاب الاسماء والكنى

٧) مسندعلي τ

٨) مسند منصور بن زاذان

٩) اغراب شعبة على سفيان، وسفيان على شعبة

١٠) خصائص علي τ

١١) سنن نسائي ياسنن صغرى

مړينه:-

امام نسايي ﵀ د( ٨٨ ) کالو په عمر په (٣٠٣هـ) کې وفات شو.

روح يې ښاد او ياد يې ژوندی

مراجع:

١)سير اعلام النبلاء، الطبقة السابعة عشر، (٢٥٨٦) كس(نسائي) پېژندنه, ١١/ ٧٩

٢)تهذيب التهذيب، د (٦٦) راوي پېژندنه، ٣٦/١.

٣)تهذيب الكمال في اسماء الرجال، ٤٨راوي، ٣٢٨/١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۳) ابو يعقوب الطالقاني

د پوره ژوندليک په اړه يې څه نه دي ويل شوي خو په تاريخي پاڼو کې يې نسب نامه داسي ښودل شوې:

إسحاق بن إسماعيل الطالقاني، أبو يعقوب، المعروف باليتيم.

زوکړه:-

د پيدائښت دقيق تاريخ يا نېټه يې هم نه ده روښانه شوې.

استاذان او شاګردان:-

د زده کړې او تحصيلاتو په اړه يې هم ډېر څه نه دي ويل شوي خو يوازي د يو شمېر استاذانو او شاګردانو نومونه يې په تاريخ کې خوندي دي، لومړی د استاذانو نوملړ:

إبرَاهِيم بن عُيَينَة، جرير بن عبد الحميد الرازي (د)، حاتم بن وردان البَصرِيّ، حسين بن علي الجعفي، حكام بن سلم الرازي (د)، أبو أسامة حَمَّاد بْن أسامة، سفيان بن عُيَيْنَة (د)، سُلَيمان بن الحكم بن عوانة الكلبي، عبد الرحمن بن سعد بن عمار المؤذن، عبدة بن سُلَيْمان (د)، عثام بن علي العامري، عدي بن الفضل، أبو داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



عُمَر بـن سـعد الحفري، عيسـى بـن يـونس، أبـو معاوية مُحَمَّد بن خازم الضرير، محمد بـن عُبَيـد الطنافسـي، محمد بـن فضـيل بـن غـزوان، معتمـر بـن سُلَيْمان، وكيـع بـن الجـراح، يحيـى بـن سـليم الطـائفي، يحيـى بـن عيسـى الرملي، يزيد بن هارون.

د شاګردانو په کتار کې يې د دې مشـهور پوهـانو نومونه د ياد وړ دي:

أَبُـو داود، إبـراهيم بـن إسـحاق الحربـي، أَحْمَـد بـن الْحَسَـن بـن عَبـد الْجَبَّـارِ الصـوفي، أبـو يَعلَـى أحمـد بـن علي بن المثنى الموصلي، أَحمَد بـن الوليـد الكرابيسـي المعروف بابن شَيبة، أحمد بن يـونس الضـبي، إدريـس بن عَبد الكريم الحداد المقرئ، جرير بن يحيى، جعفر بن مُحَمَّد بن شاكر الصائغ، خلـف بـن عَمـرو العكبري، أبـو بَكر عَبد اللَّهِ بن مُحَمَّد بن أَبـي الـدنيا، أَبُـو الْقَاسِـم عَبـد اللَّـهِ بـن مُحَمَّـد بـن عَبـد العزيـز البغـوي (دا يـې اولنـى شيخ دئ چـې ليكـل يـې ترې كړي)، يعقـوب بـن شَـيبَة السدوسي.

په اړه يې د پوهانو نظرونه:-

ابو بكر المروزي وايي له امام احمده مي د اسحاق بن اسماعيل په اړه پوښتنه وكړه نو ده وويل:

لا أعلـم إلا خيـرا قلـت : إنهـم يـذكرون أنـه كـان صـغيرا ، قال : قد يكون صغير يضبط.

ژبـاړه: يـوازي يـې پـه خيـر علـم لـرم، مـا وويل: دوئ يې يادوي چې دى كوچنى وو؟، ده وويل: كوچنى دئ خو ياد يې ښه دئ.

قـال عثمـان بـن سـعيد الـدارمى عن يحيى بـن معين : أرجـو أن

عثمان بن سعيد الـدارمي د يحيـى پـه حوالـه ويـل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يكون صادقا .
و قال عبد الخالق بن منصور عن يحيى بن معين : صدوق .
قال يعقوب بن شيبة : عثمان بن محمد و إسحاق بن إسماعيل ثقتان و إسحاق أتقن من عثمان رواية و كان يحيى بن معين يوثق إسحاق بن إسماعيل جدا .
قال أبو داود و الدارقطني : ثقة .
و قال عثمان بن خرزاذ : ثقة ثقة .
و قال ابن حبان فى " الثقات " : كان من ثقات أهل العراق و متقنيهم ، حسده بعض الناس فحلف ألا يحدث حتى يموت ، و ذلك فى أول سنة خمس و عشرين و مئتين ، و مات فى آخرها ، مستقيم الحديث جدا .
و قال ابن قانع فى " الوفيات " : ثقة.

هيله لرم چې رښتنی دئ.
عبد الخالق بن منصور له یحیی په حواله ویل چې زښتنی دئ.
یعقوب بن شیبه ویل: عثمان بن محمد او اسحاق بن اسماعیل دواړه ثقه دي، خو اسحاق تر عثمان د روایت ښه یادوونکی وو، یحیی بن معین د اسحاق بن اسماعیل ډېر توثیق کاوی.
ابو داؤد او دارقطني ویل: باوري دئ.
عثمان بن خرزاذ ویل: باوري او ثقه دئ.
ابن حبان په الثقات کې وایي: دی د عراقیانو له باوري او یادوونکو کسانو څخه وو، ځینو خلګو ور سره کینه وکړه نو ده لوړه وکړه چې ترمرګه به حدیث نه بیانوي، دا د (٢٢٥) په پیل کې وه او په اخیر کې یې مړ شو، خو ډېر کره حدیث یې وو.
او ابن القانع په الوفیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ويلي: ثقه وو.

مړينه:-

احمد بن الحسن ابو ابو القاسم البغوي ويلي چې په (۲۳۰ هـ) کې ومړ، خو بغوي زياته کړې چې دا د روژې مياشت وه او ما په ( ۲۲۵ ) کې ترې ليکل وکړل خو تر مرگ پنځه کاله مخکې يې حديث بيانول ايله کړل او ږېره يې نه سره کوله.

مراجع:-


۱) تاريخ الخطيب: ۶ / ۳۳۵

۲ ) الثقات: ۱/ ۲۶ د ابن حبان

۳ ) الجرح والتعديل: ۱/۱/ ۲۱۲ د ابن ابی حاتم

۴ ) تهذيب التهذيب: ۱/ ۲۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۴) ابو يعقوب اسحاق الهروي

د ابو يعقوب اسحاق الهروي په اړه تر ډېره بريده كتابونه چوپ دي، ما تر ډېري لټېي وروسته هم د نوموړي په اړه اوږده تفصيلات ونه موندل.

د نسب سلسله يې په دې ډول ده:

الحَافِظ الإمَام مُحدث خُرَاسَان أَبُو يَعقُوب إسحَاق بن أبي إسحَاق إبرَاهِيم بن مُحَمَّد بن عبد الرَّحمَن السَّرخسِيّ ثمَّ الهَرَوِيّ.

زوکړه:-

حافظ سيوطي په طبقات الحفاظ كې ليكې:

ولد سنة اثْنَتَيْنِ وَخمسين وثلاثمائة.

دى د (۳۵۲ هـ) پر مهال پيدا شوى.

خو د زده كړو، استاذانو او هم يې د شاګردانو يا تدريس په اړه څه نه دي ويل شوى، يوازي دا ثابته ده چې يو شمېر ليكنې يې كړې او تاريخونو كې يې يادونه شوې ده.

### د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

حافظ سيوطي ليكې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَـهُ المصـنفات الْكَثِيـرَة الدَّالَّـة علـى حفظـه وسـعة علمه.

دى زياتې ليكنې لري چې د ده پر حفظ او ډېر علم دلالت کوي.

بيا وايي:

وَله تَارِيخ وَكَانَ زاهداً.

دى تـاريخ هـم لـري او ښـه زاهـد شـخص وو. د المنتخـب مـن كتـاب السـياق لتـاريخ النيسابور ليکوال ليکې:

مَشْـهُورٌ مِـنَ الْحُفَّـاظِ بِهَـرَاةَ، كَتَـبَ الْكَثِيـرَ وَجَمَـعَ وَسَافَرَ وَصَنَّفَ الأَبْوَابَ وَالتَّوَارِيخَ.

د هـرات لـه مشـهورو حافظـانو څخـه وو، ډېرې ليکنې يې کړې، علوم يې راغونډ کړي، سـفرونه يـې کـړي او ابـواب و تاريخونـه يـې تصنيف کړي.

مړينه:-

د مـرګ پـه نېټـه کـې يـې اختلاف دئ، د المنتخـب ليکوال وايـي چې د ( ۴۰۹ هـ) پـر مهال پـه هـرات کـې وفات شوی او دا د شعبان مياشت وه.

خـو حـافظ سـيوطي بيـا وايـي چـې د ( ۴۲۹ هـ) پـر مهال وفات شوی دئ.

مراجع:-

۱ ) طبقات الحفاظ (۹۶۰) راوي، ۱/ ۴۲۴
الطبقة الثالثة عشر د سيوطي ليکنه
۲ ) المنتخب ۳۸۱ راوي د تقی الدين العراقي ليکنه، ۱۶۵/۱، د دار الفکر للطباعة والنشر چاپ، کال: ۱۴۱۴هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۵) ابراهيم بن عبد الله الهروي

### لنډه پېژندنه:-

ستر محدث، لوی عالم ابراهيم بن عبد الله چې په الهروي شهرت لري له آره د هرات اوسېدونکی وو خو وروسته بغداد ته ولاړ نو له دې امله يې بغداد ته هم نسبت کېږي، د نسب لړۍ يې پوهانو داسي بيان کړې:

الحافظ، الامام، شيخ الاسلام، ابو اسحاق ابراهيم بن عبد الله بن حاتم الهروي البغدادي.

### زوکړه:-

نوموړی امام د ( ۱۷۸ ) هجري پر مهال زېږېدلی. (المشائخ النبل)

### زده کړه، استاذان او شاگردان:-

د وخت له دوود سره سم يې لومړی اولنۍ زدکړې له نژدې پوهانو پيل کړې او وروسته د لوړو زدکړو په تکل تر لرو سېمو هم تللی دئ او له لاندينيو کسانو يې زدکړې کړې دي:

عبد الرحمن بن أبي الزناد، عبد العزيز بن محمد الدراوردي، إسماعيل بن جعفر الزرقي، خلف بن خليفة الأشجعي، إسماعيل ابن علية، هشيم بن بشير، جرير بن عبد الحميد, ابو اسماعيل المودب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شــاګردانو پــه نــوملړ کــې يــې د دې شــاګردانو نومونه ډېر روښانه او مشهور دي:

الترمذي، ابن ماجة، الحارث بن أبي أسامة، ابن أبي الدنيا(په خپلو ليکنو کې)، المعمري، موسى بن هارون، جعفر الفريابي، أحمد بن فرج المقري، أحمد بن الحسين الصوفي الصغير.

د ده په اړه د پوهانو ويناوې:-

قال أحمد بن محمد بن القاسم بن محرز عن يحيى بن معين : لا بأس به .

احمد بن محمد بن القاسم د يحيى په حواله ويل چې د لا بأس به(توثيق يې کړی) مرتبه يې وه.

و قال أبو زرعة الدمشقى : سمعت رجلا قال ليحيى بن معين عن من يكتب حديث هشيم ؟ قال : عن إبراهيم الهروى ، و سريج بن يونس .

ابو زرعه ويلي له يوه کسه مي واورېدل چې يحيى بن معين ته يې ويل: د هشيم حديث له چا ليکل غوره دي؟ ده وويل: له ابراهيم الهروي او سريج بن يونس څخه.

و قال يعقوب بن شيبة بن الصلت السدوسى : حدثنى خال أبى أبو إسماعيل عبد الله بن هبيرة بن الصلت ، قال: سألت يحيى بن معين ، قلت : يا أبا زكريا من أصحاب هشيم الذين يعتمد عليهم؟ فقال : إبراهيم الهروى، و محمد بن الصباح الدولابى.

يعقوب السدوسي ويل ما ته مي د پلار ماما ابو اسماعيل عبد الله هبيره بن الصلت بيان وکړ چې ده ويل له يحيى بن معينه مي پوښتنه وکړه ومي ويل: اې د زکريا پلاره! د هشيم په ملګرو

قال على بن الحسين بن حبان : وجدت فى كتاب أبى بخط يده : سألت أبا زكريا ، فقلت : اختلف محمد بن الصباح و الهروى فى حديث عن هشيم . لمن يقضى منهما ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال : حتى يجىء ثالث .
قلت : ليس ثالث ؟
قال : ينظر فى الحديث إن كان حدث بـه غير هشيم إنسان ، و كان الصواب فى يد أحدهما ، كان القول قوله .
قلت : فإن كان لم يحدث به غير هشيم ؟
قال : كان الهروى أكيسهما .
قال أبو داود : ضعيف .
و قال النسائى : ليس بالقوى .
و قال أبو زرعة الرازى ، و صالح بن محمد البغدادى : صدوق .
و قال أبو حاتم : شيخ .
و قال الدارقطنى : ثقة ثبت .

کې باوري څوک دي؟ ده وويل: ابراهيم الهروي او محمد بن الصباح الدولابي.

علي بن الحسين بن حبان ويل د خپل پلار په کتاب کې مې د ده په لاس ليکل شوى ليک وموند چې ما له ابو زکريا پوښتنه وکړه ومې ويل: يوه حديث کې محمد بن الصباح او هروي له هشيمه اختلاف وکړ، د کوم يوه په حق کې به پرېکړه کېږي؟
ده وويل: څو درېيم راشي.
ما وويل:درېيم نه شته؟
ده وويل: حديث ته به کتل کېږي، که له هشيم پرته بل چا هم بيان کړى وو او په دوئ دوو کې د يوه وينا حقه وه نو د هغه خبره باوري ده.
ما وويل: که له هشيم پرته بل چا بيان کړى هم نه وو؟
ده وويل: نو هروي په دوئ کې خيرک دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو داؤد ويل: ضعيف دئ.
نسائي ويل: پياوړی نه دئ.
ابو زرعه الرازي او صالح بن محمد البغدادي ويل: رښتنی دئ.
ابو حاتم ويل: شيخ دئ.
دارقطني ويل: ثقه و باوري دئ.

دا چې ابو داؤد او نسائي ولي پرې جرحې کړې او نورو يې توثيق کړی؟، په اړه يې د انصاف فيصله امام ابن حجر کړې، دی په تهذيب التهذيب ( ۱/ ۱۳۳ ) کې کاږي:

تضعيف او د ځينو رد يې د مسلک له مخې وو، البته په حديثو کې يې د باوريتوب او رښتنولۍ مرتبه لرله.

کېدای شي چې په ځينو شيانو کې يې داسي اجتهادونه در لودل چې له عامو پوهانو به افراد يا تفردات بلل کېدل، داسي ډېر وخت کېدای چې يو کس د ځينو مسايلو په اړه له نورو پوهانو سره د رايې اختلاف ولري، خو له دې امله نو د هغه ټول شيان نه شي ايله کېدلای.

ابن حجر خو دا هم ليکلي چې نوموړی د قران په اړه د تخليق نظريه درلوده، ځکه دی وايي:

صدوق حافظ تكلم فيه بسبب القرآن.

رښتنی، حافظ خو د قران له وجې په کې خبرې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړينه:-

امام په روژه کې د ( ٢۴۴ هـ) هجري پر مهال ومړ.

مراجع:-


١) الجرح والتعديل ٢ / ١٠٩

٢ ) تاريخ بغداد(3148) راوي ۶ / ١١٨- ١٢٠

٣ ) تهذيب الكمال، ورقة: ۵٨

۴ ) ميزان الاعتدال ١ / ۴٢، ۴۴

۵ ) تذهيب التهذيب ١ / ٣٨

۶ ) تذکرة الحفاظ ٢ / ۴٨۴

٧ ) تهذيب التهذيب ١ / ١٣٢، ١٣٣

٨ ) طبقات الحفاظ: ٢٠٩

٩ ) خلاصة تذهيب الکمال: ١٨

١٠ ) شذرات الذهب ٢ / ١٠۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ( ۶) ابو سعيد ابراهيم بن طهمان الهروي

## لنډه پېژندنه:-

د اتباع التابعينو ستر محدث، وتلى عالم، منلى امام، ابو سعيد ابراهيم الهروي د هرات په ولايت کې زېږېدلى او وروسته نيشاپور ته کوچېدلى، بيا بغداد ته تللى او هلته يې د احاديثو مينوالو ته حديث بيان کړي او په مکه کې د هستوګنې پر مهال نوموړى مړ شوى.

ابو سعيد د صحاحو د راوي وياړ لري او پوهانو يې د نسب لړۍ داسي ذکر کړې:

إبراهيم بن طهمان بن شعبة الخراسانى أبو سعيد الهروى.

## زوکړه:-

ابو سعيد د کوچنيو اصحابو په وروستي دور کې نړۍ ته راغلى.

## زده کړه، استاذان او شاګردان:-

ابو سعيد هغه مهال زېږېدلى چې لا د علومو بېلا بېلو فنونو سر نه وو را څرګند کړى، هغه مهال عالي زده کړو ته د وزګارېدا په لار کې دومره ستر خنډونه نه ول، په پيل کې د قران زده کړه، نحو، صرف، عربيت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـو څـو نـورو فنونـو بسـنه کولـه، نـور بـه نـو د پـوهې مينوالو له قران او نبوي احاديثو څخه خبرې کولې، بېلا بېل قراءات يې زده کول، د تفسير په اړه يې د وخـت له پوهانو زده کړې کولې او هم به يې نبوي احاديثو ته پوره پاملرنه کوله.

په روايت و درايت به يې ځان خبراوه، هم به يـې د مؤتلف او مختلف په اړه معلومات چمتو کـول، د هغـه مهال زده کوونکو شعوري تحصيلات کول، داسي نه وو چې که به هر يـوه لـه کـوم اسـتاذ سره زده کـړې کـړې وې، نو به يې خپلې سيمې ته همغه فکر رانقلاوه.

ابو سعيد هم يو له دې هوښيارو، پوهو او ښه فکر لرونکو زده کوونکو څخه وو، ځکه يې نـو د ارجـاء هغـه عقيده چې يو وخت ورته معتقد وو تر څېړنې او پلټنـې وروسته ايله کړه.

نوموړي د خپلو زده کړو پر مهال د اسلامي نړۍ له دې وتليو، منـل شـويو، ځلانـده او مشـهورو پوهـانو زده کړې وکړې:

إبـرَاهِيم بـن مسـلم الهجـري، آدم بـن علـي، أيـوب السـختياني (خـت)، بـديل بـن ميسـرة العقيلـي (د س)، ثابت بن أسلم البناني، جـابر بـن يزيـد الجعفـي، الجعـد، أبو عثمان (خت)، الحجـاج بـن الحجـاج البـاهلي، الحسـن بن عمارة، حسين بن ذكوان المعلم (خ د ت ق) ، حميد الطويـل، حنظلـة بْـن أَبـي صـفية، خالـد ابـن ميمـون، سَـعِيد بـن أَبـي عَرُوبَـة، أبـو مسـلمة سَـعِيد بـن يزيـد، سـفيان الثـوري، أبـو حـازم سـلمة بـن دينـار المـدني، سُلَيمان التَّيْمِيّ، سُلَيمان الأعمش (س)، سُـلَيمان أبـي إسـحاق الشـيباني (خـت س)، سـماك بـن حـرب (م د)،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شَرِيك بن عَبد اللَّهِ بن أَبي نمر، شعبة بن الحجاج (خت س)، صفوان بن سليم، عاصم بن بهدلة، عاصم ابن سُلَيمان الأحول، عبد الله بن دينار، عبد الأعلى بن عامر الثعلبي (عس)، عبد الرحمن بن إسحاق المدني (د س)، وعبد العزيز بن رفيع (د س)، عبد العزيز بن صهيب (خت)، أبي حصين عثمان بن عاصم الأسدي (م)، عطاء بن السائب، عطاء بن أَبي مسلم الخراساني، علي بن عبد الاعلى (د ت)، عُمَر بن سَعِيد بن مسروق الثوري (س)، عَمرو بن دينار المكي، أبو إسحاق عَمرو بن عَبد الله السبيعي (س)، عَمرو بن يحيى بن عمارة بن أَبي حسن المازني (ق)، العلاء بن عَبد الرحمن بن يعقوب مولى الحرقة، محمد بن إسحاق بن يسار، محمد بن أَبي حفصة (س)، محمد بن ذكوان (ق)، محمد ابن زياد الجمحي (خ س)، أبو الزبير مُحَمَّد بن مسلم المكي (م د ق)، مطر الوراق (د)، مغيرة بن مقسم الضبي (س)، منصور بن المعتمر (سي)، مهران بن حكيم بن معاوية بن حيدة القشيري، موسى بن عقبة (عس)، أبي جمرة نصر بن عِمران الضبعي (خ د)، هشام بن حسان (د)، هشام الدستوائي، يحيى بن سَعِيد الأَنْصارِيّ (س)، يعقوب بن زيد بن طلحة التَّيمِيّ (سي)، يونس بن عُبَيد، أبو عثمان صاحب أنس بن مالك (س) .

د نومونو په لړ کې چې په حروفو کومې اشارې شوې هغه د راويانو حالت ځرګندوي چې د حديثو به کتابونو کې ترې چا روايات کړي.

په شاګردانو کې يې د دې پوهانو نومونه د يادولو وړ دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أبـو منصـور إسـمَاعِيل بـن عَبـد المَلِـك الزئبقـى، الحسـين بـن الوليـد النيسـابوري، حفـص بـن عَبـد الله السـلمي النيسـابوري (خ د س ق) ، خالـد بـن نـزار بْـن المغيرة بن سليم الأيلي (خد)، سفيان بن عُيَيْنَة، شيبان بن عَبد الرحمن النحوي، (دا تر ده لوی وو)، صفوان بـن سليم(دا يې استاد هـم دئ)، عبـد الله بـن المبـارك (خ)، زوی يـې عَبـد الخـالق بـن إبـرَاهِيم بـن طهمـان، عبـد الرحمن بن سلام الجمحي، عبد الرَّحمَنِ بن عَبد اللَّهِ بن سـعد الدشـتكي الـرازي، عبـد الـرحمن بـن مهـدي، عبـد الملك بن إبرَاهِيم الجدي (سي)، أبو عامر عَبد المَلِك بن عَمْـرو العقـدي (خ م د ت س)، عُمَـر بـن عَبـد اللَّـهِ بـن رزين السـلمي (م)، غسـان بـن سُلَيمان الهـروي، فضـل بـن سُـلَيمان النميـري، مالـك بـن سُـلَيمان الهـروي(د غسـان هـروي ورور)، محمد بـن جعفـر بـن أبـي كثيـر المدني (عـس) (دا يـې هـم سـنه وو)، محمد بـن الحسـن بـن الزبيـر الأسـدي (خ)، محمد بـن سـابق البغـدادي (م د سي)، محمد ابن سنان العـوقي (د)، أبـو أحمـد مُحَمَّـد بـن عَبد اللَّهِ بن الزبير الزبيري (د)، محمد بن محبب أبو همام الدلال، المعافى بـن عِمـران الموصـلي (س)، معـن بـن عيسـى القـزاز (خ د)، أبـو حذيفـة موسـى بـن مسـعود النهدي (ق)، أبو حنيفة النعمان بـن ثابـت (دا هـم تـر ده ستر وو)، وكيع بن الجراح، يحيى بن أبي بكيـر الكرمـاني (م د س)، يحيى بن الضريس البجلي الرازي (م) .

د ده په اړه د پوهانو ويناوې:-

**قال نوح أبو عمرو المروزى ، عن سفيان بن عبد الملك عن ابن المبارك : صحيح الحديث .**

نـوح ابـو عمـرو لـه سـفيان بن عبد الملک هغه له ابن المبارکـه پـه حوالـه ويـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



و قال عبد الله بن أحمد بن حنبل عن أبيه و أبو حاتم : ثقة .
و قال عبد الله بن أحمد عن يحيى بن معين : لا بأس به .
و كذلك قال العجلى .
و قال أبو حاتم : صدوق ، حسن الحديث .
و قال عثمان بن سعيد الدارمى : كان ثقة فى الحديث ، لم يزل الأئمة يشتهون حديثه ، و يرغبون فيه و يوثقونه .
و قال صالح بن محمد الحافظ : ثقة حسن الحديث ، يميل شيئا إلى الإرجاء فى الإيمان ، حبب الله حديثه إلى الناس ، جيد الرواية .
و قال إسحاق بن راهويه : كان صحيح الحديث ، حسن الرواية ، كثير السماع ، ما كان بخراسان أكثر حديثا منه ، و هو ثقة .
و قال أبو الصلت عبد السلام بن صالح الهروى : سمعت سفيان بن عيينة يقول : ما قدم علينا خراسانى أفضل من أبى رجاء عبد الله بن واقد الهروى .
قلت له : فإبراهيم بن طهمان ؟
قال : كان ذاك مرجئا .
و قال الدارقطنى : ثقة إنما تكلموا فيه للإرجاء .
و قال البخارى فى " التاريخ "

چې صحيح الحديث دئ.
عبد الله له خپل پلار احمد او ابو حاتم څخه په حواله وايي: ثقه دئ.
عبد الله له يحيى څخه په حواله وايي: باک پرې نه شته.
عجلي هم دا ويلي، ابو حاتم ويل: رښتنى او حسن الحديثه دئ.
عثمان بن سعيد الدارمي ويل: په حديثو کې ثقه وو، امامانو يې تل د حديثو هيله کوله، ده ته يې خلګ مايل کول او باوري يې بالى.
صالح بن بن محمد ويل: ثقه حديث يې حسن دي، په ايمان کې يې د ارجا لور ته ميلان وو، الله يې حديث خلګو ته خوښ کړي، روايات يې جيد دي.
اسحاق بن راهويه ويل: صحيح الحديثه وو، روايت يې حسن، د زياتې اورېدنې خاوند، په خراسان کې تر ده د زياتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



: حدثنا رجل حدثنى على بن الحسن بن شقيق سمعت
ابن المبارك يقول : أبو حمزة السكرى و إبراهيم بن طهمان صحيحا العلم و الحديث .
قال البخارى : و سمعت محمد بن أحمد يقول : سألت أبا عبد الله أحمد بن حنبل عن إبراهيم فقال : صدوق اللهجة .
و قال ابن حبان فى " الثقات " : قد روى أحاديث مستقيمة تشبه أحاديث الأثبات
و قد تفرد عن الثقات بأشياء معضلات .
قلت : الحق فيه أنه ثقة صحيح الحديث إذا روى عنه ثقة ، و لم يثبت غلوه فى الإرجاء و لا كان داعية إليه بل ذكر الحاكم أنه رجع عنه و الله أعلم .

حديثو خاوند نه وو او دى ثقه دئ.
ابو الصلت عبد السلام بن صالح الهروي ويل: له سفيان بن عيينه مي واورېدل ويې: له خراسانه موږ ته تر ابو رجاء عبد الله بن واقد الهروي غوره کس نه دئ راغلی، ما ورته وويل: نو ابراهيم بن طهمان؟، ده وويل: هغه مرجئ وو.
دارقطني ويل: ثقه دئ، خلګو د ارجاء له امله پکې خبرې کړې.
امام بخاري په تاريخ کې وايي: ما ته يو کس بيان وکړ ده ويل ما ته علي بن الحسن بن شقيق بيان وکړ ده ويل له ابن المبارکه مي واورېدل ويل يې: ابو حمزه السکري ابو ابراهيم بن طهمان د صحيح علم او حديثو خاوندان ول.
امام بخاري ويل له محمد بن احمده مي وارېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويـل بـه يـې ابـو عبـد الله احمد بن حنبل څخه مي د ابــراهيم پــه اړه پوښــتنه وكـړه، ده وويـل: پـه وينـا كې رښتنى وو.

ابـن حبـان پـه الثقـات كـې وايـي: كلـه يـې مسـتقيم روايات راوړي چې د باوري راويانو له احاديثو سره يـې مشـابهت وو، خـو كلـه يـې له ثقه راويانو ګډوډ شيان راوړي.

ابن حجر وايـي: حقـه خبـره پــه كــې دا ده چــې ثقــه حديث يـې صحيح دي كـه ثقه راوي تـرې روايـت وكـړ، پــه ارجــاء كــې يــې زياتــه غلوه نه ده ثابته او نه يـې ورته بلنه كوله بلكې امـام حاكم ويلي چې رجوع يـې ترې وكړه.

په « من تكلم فيـه وهـو موثـق » نـومي كتـاب كـې ذهبي وايي:

صدوق مشهور وثقه.

ژباړه: رښتنى، مشهور او ثقه دئ.

مړينه:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ( ۱۵۸ یا هم ۱۶۳هـ ) کې یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې؛ خطيب په تاريخ بغداد کې وروستی قول غوره بللی دی.

مراجع:-


۱) طبقات خليفة: ۳۲۳
۲ ) التاريخ الكبير: ۱/ ۲۹۴
۳ ) الضعفاء: خ: ۱۹
۴ ) مشاهير علماء الأمصار: ۱۹۹ الفهرست: المقالة السادسة الفن السادس
۵ ) تاريخ بغداد، (۳۱۴۳) راوي: ۶ / ۳ ۱۰۳ - ۱۱۰
۶ ) الكامل لابن الأثير: ۶ / ۶۲
۷ ) تهذيب الكمال: خ: ۵۷ - ۵۸
۸ ) تذهيب التهذيب: خ: ۱/ ۳۷
۹ ) تذكرة الحفاظ: ۱/ ۲۱۳
۱۰) ميزان الاعتدال: ۱/ ۳۸
۱۱ ) تهذيب التهذيب: ۱/ ۱۲۹ - ۱۳۱
۱۲ ) طبقات الحفاظ: ۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ح )

# ( ۷ ) امام ابوسليمان الخطابي ﷺ

لنډه پېژندنه:-

ابـو سـليمان د افغانسـتان د هلمنـد ولايـت د وتلـو پوهانو او علمـاؤ پـه زرينـه لـړۍ کـې د سر و زرو ديـوې ښې قيمتې کړۍ حيثيت لري. نومـوړی د وخـت لـه ډېـر و سترو محدثينو ګڼل کېدی. په تاريخ کـې يـې د نسـب لړۍ داسي راغلې ده:

سـتر پوهانـد، حـافظ، د ګڼـو ليکنـو څښـتن او لغـت پوه أبو سليمان حمـد بـن محمد بـن إبـراهيم بـن خطـاب البستي الخطابي.

بسـت د بـاء پـه پـېښ او سـين وتـاء پـه غړونـدي د افغانستان د جنوبي ولايت هلمندپه مرکز کـې د يـوې سـيمې نـوم دئ. امـام خطـابي ﷺ د همـدې سـيمې اوسـېدونکی وو، همـدې سـيمې تـه پـه نسـبت بسـتي بلـل کېـري او خطـابي ورتـه ځکـه وايـي چـې د زيـد بـن خطاب له اولادې څخه دئ.

زوکړه:-

امــام ابــو ســليمان پــه څــه دپاســه درې ســوه لس(۳۱۰هـ) کې زېږېدلی دئ. زرکلي(۱۳۹۶ کـې مړ) پـه اعلام کې ۳۱۹ تاريخ د زوکړې ياد کړی.

زده کړه، استاذان او شاګردان:-

امـام خطـابي ﷺ د افغانسـتان د جنـوبي ولايـت هلمند اوسېدونکی وو، په ماشومتوب کې يې د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمې پر وتلو علماؤ زده کړه وکړه او وروسته يې د نورو زده کړو په موخه دې سيمو ته سفرونه وکړل:

حجاز، عراق، بصره،کوفه، شام، مصر او نور...

امام خطابي ﷺ د خپلې تعليمي دورې پر مهال پر دې استاذانو مختلف علوم ولوستل:

أبو سعيد بن الأعرابي، إسماعيل بن محمد الصفار ، أبو بكر بن داسة، أبو العباس الأصم، أبو عمرو بن السماك، مكرم القاضي، د ثلعب غلام أبو عمر، حمزة بن محمد العقبي،أبو بكر النجاد، جعفر بن محمد الخلدي، أبو بكر القفال الشاشي، أبو علي ابن أبي هريرة او نور...

د شاګردانو په سلسله کې يې د دې اشخاصو نومونه د يادولو وړ دي:

ابو عبد الله الحاكم (دا د نوموړي له همزولو بلل کېږي)، امام أبو حامد الإسفراييني، أبو عمرو محمد بن عبد الله الرَّزجاهي، علامة أبو عبيد أحمد بن محمد الهروي، أبو مسعود الحسين بن محمد الكرابيسي، أبو ذر عبد بن أحمد، أبو نصر محمد بن أحمد البلخي الغزنوي، جعفر بن محمد بن علي المروزي المجاور، أبو بكر محمد بن الحسين الغزنوي المقرئ، علي بن الحسن السجزي الفقيه، محمد بن علي بن عبد الملك الفارسي الفسوي، أبو الحسين عبد الغافر بن محمد الفارسي او نور...

ليکنې:

نوموړي د خپل عمر په اوږدو کې يو شمېر ګټور کتابونه ليکلي چې نوملړ يې په دې ډول دئ:

١) معالم السنن - دوه جلده د ابوداؤد غوره شرحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ ) بيان إعجاز القرآن

۳ ) إصلاح غلط المحدثين اصل نوم يې داسي دئ: إصلاح خطأ المحدثين، اما په وفيات کې (غلط) دی، زرکلي بيا په اعلام کې دويم نوم سم بللی دی.

۴ ) غريب الحديث، د دې کتاب په اړه ميمني په خپلو يادابنتونو کې ويلي:

قال الميمني في مذكراته: منه مخطوطة كاملة كتبت سنة ۴۸۸ في خزانة عاشر أفندي باستنبول، الرقم۲۳۴ . (اعلام، د زرکلي:۲/ ۲۷۳)

ميمني په خپل يادابنت کې ويلي: د دې يوه کامله مخطوطه نسخه په (۴۸۸ هـ) کې ليکل شوې، د استنبول د عاشر افندي په کتابتون کې شته، شمېره يې: ( ۲۳۴ )ده.

۵ ) شرح البخاري چې وفيات الاعيان کې يې د اعلام السنن في شرح البخاري په نوم ياد کړی دی؛ اما زرکلي د تفسير احاديث الجامع الصحيح البخاري نوم ور کړی دئ.

۶ ) شرح أسماء الله الحسنى

۷ ) کتاب الغنية عن الكلام وأهله

۸ ) کتاب العزلة

۹) کتاب الشّحاح

۱۰) شأن الدعاء

په اړه يې د پوهانو نظرونه:-

وَذكره الإِمَام أَبُو المظفر بن السمعانى فى كتاب القواطع فى أصُول الْفِقْه عِنْد الْكَلَام على الْعلَّة وَالسَّبَب وَالشّرط وَقَالَ قد كَانَ من الْعلم بمَكَان عَظِيم وَهُوَ إِمَام من أَئِمَّة السّنة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: امام ابو المظفر بن السمعاني په خپل كتاب القواطع فى اصول الفقه د علت، سبب او شرط په بحث كې ذكر كړى ويلي يې دي: په علم كې يې ستر مقام درلود او د سنتو له امامانو څخه ګڼل كېدى.

د طبقات الشافعيه ليكوال السبكې ليكې:

كَانَ إِمَامًا فى الْفِقْه والْحَدِيث واللغة.

ژباړه: دى په فقه، حديثو او ژب پوهنه كې امام وو.

د « انباة الرواة على أنباة النحاة » ليكوال جمال الدين القطفي وايي:

كان يشبّه فى عصره بأبى عبيد القاسم بن سلّام علما وأدبا، وزهدا وورعا، وتدريسا وتأليفا.

ژباړه: دى په خپل وخت كې د علم، ادب، زهد، تقوا، تدريس او ليكنې له مخې له ابو عبيد القاسم بن سلام سره مشابه وو.

امام زركلي په الاعلام كې وايي:

فقيه محدّث، من أهل بست.

ژباړه: فقيه، محدث او د بست اوسېدونكى وو.

مړينه:-

امام خطابي ﷺ د ربيع الاخير درې سوه اته اتيا (۳۸۸هـ د بل قول له مخې ۳۸۶هـ) پر مهال په بست كې وفات شو. زركلي ليكلي دي چې د هيرمند(هلمند) د رود پر څنګ مړ شو.

د تفصيلي پېژندنې لپاره يې دا كتابونه كتلاى شئ:

1) تحفة ذوي الأرب: ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢ ) الوفيات ١: ١۶۶
٣ ) التبيان - خ.
۴ ) ومجلة المجمع العلمي ١۵: ٣۴١
۵ ) إنباه الرواة ١: ١٣۵ وسماه (أحمد)
۶ ) خزانة الأدب ١: ٢٨٢ نوم يې (أحمد) وركړی
٧ ) يتيمـة الـدهر ۴: ٢٣١، دلتـه د (أحمـد) تـر نـوم لاندي راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(س)

## ( ۸ ) سعيد بن يعقوب الطالقاني

لنډه پېژندنه:-

سعيد ستر ثقه عالم، حديث پوه، د ګڼو حديث پوهانو استاد وو چې د اوسني افغانستان له شمالي برخې سره يې تړاؤ درلود. د مسلم(۲۶۱ کې مړ) پر الکنى نومي کتاب محقق عبد الرحيم محمد القشقري ليکلي دي چې سعيد طالقان ته منسوب دی چې د مروالروذ(د هغه وخت له نوم سره سم) او بلخ ترمنځ د يوه ښار نوم دی.

زوکړه:-

تر ډېري هڅې وروسته هم په دې ونه توانېدم چې د نوموړي امام د زوکړي دقيقه نېټه معلومه کړم.

زده کړې، استاذان او شاګردان:-

د هغه وخت له دود سره سم نوموړي لومړی د خپلې سيمې له پوهانو زده کړې وکړې، مروج علوم يې ولوستل، د هغو فنونو له ويلو يې ډډه ونه کړه چې د يوه عالم لپاره يې هغه مهال لوستل اړين وو.

د خپلو زده کړو پر مهال يې د اسلامي نړۍ ډېري سيمې ګز - وپل کړې، بې شمېره ښارونه يې وغوښتل د بغداد، شام او حجازپه شان له سترو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي مرکزونو يې ليدنه وکړه او له دې استاذانو يې زده کړې وکړې:

حماد بن زيد، خالد بن عبد الله، ابن المبارك، معتمر بن سليمان،أبو تميلة، يزيد بن زريع، عثمان بن يمان، هشيم، عبد السلام بن حرب، يحيى بن الضريس، أيوب بن جابر او نور...

کله چې يې د زده کړو لړۍ پاي ته ورسوله او د يوه استاذ په حيثيت را څرګند شو نو د نړۍ له ليرو او نژدې سيمو څخه د زده کوونکو بهير ورته را مات شو، چې د مشهورو شاګردانو نومونه يې په لاندي توګه دي:

أبو داود، ترمذي، نسائي، أبو بكر الأثرم، أبو زرعة، أبو حاتم، موسى بن هارون، يعقوب بن سفيان، عباس الدوري، الحارث بن أبي أسامة، عبد الله بن أحمد، محمد بن إسحاق السراج او نور...

له نوموړي امام څخه په ابوداؤد، ترمذي او نسائي کې روايات شوي، له دې معلوميږي چې د سننو ليکوالانو يې پر رواياتو پوره باور کاوه او دې ټولو محدثينو هم باروي و ثقه کس بالى.

د ده په اړه د حديث پوهانو نظرونه:-

قال الأثرم رأيته عند أحمد يذاكره الحديث وقال أبو زرعة والنسائي ثقة وقال أبو حاتم صدوق وذكره ابن حبان في الثقات وقال ربما أخطأ.

وقال الحاكم في تاريخه هو محدث خراسان في عصره قدم نيسابور قديما وحدث بها فسمع منه الذهلي وأقرانه ومن زعم أن بن خزيمة سمع منه فقد وهم وقال مسلمة والدارقطني ثقة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: امام اثرم ويل: له احمد بن حنبل سره
مي وليد چې د حديثو په اړه يې بحث کاوه، ابو زرعه او نسائي ويل: ثقه دئ، امام ابوحاتم ويل: رښتنی دئ. ابن حبان په ثقاتو کې ذکر کړی ويل يې چې کله ناکله تېروتی.
او حاکم په خپل تاريخ کې ويل: دی په خپل وخت کې د خراسان محدث وو، يوځل نيشاپور ته راغی او هلته يې حديث بيانول چې امام ذهلي او د ده هم عصرو ترې واورېدل او چا چې دا ګومان کړی ابن خزيمه له ده اورېدنه کړې نو بې شکه خطا شوی. مسلمه او دارقطني ويل: باوري شخص وو.
سعيد ته د امام احمد ليک:-

عن سعيد بن يعقوب قال: كتب إليّ أحمد: من أحمد بن محمد إلى سعيد بن يعقوب، أمّا بعد، فإنّ الّدنيا داء والسّلطان داء، والعالِم طبيب. فإذا رأيتَ الطبيب يجرُ الدّاء إلى نفسه فاحْذرْه، والسّلام عليك. (اكمال تهذيب الكمال (۲۰۶۶) راوي: ۳۷۶/۵.)

ژباړه: سعيد ويل: ما ته احمد وليکل د احمد بن حنبل له لوري سعيد ته، اما بعد: دنيا مرض دئ او پاچا هم او عالم طبيب دئ، که تا وليدل چې طبيب ځان ته مرض را کشوي نو ځان ترې وساته، والسلام عليک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر معاویه په اړه هم نوموړي د خپل استاذ ابن المبارک وینا په دې ټکو نقل کړې:

قَالَ سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالْقَانِيُّ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الْمُبَارَكِ يَقُولُ: تُرَابٌ فِي أَنْفِ مُعَاوِيَةَ أَفْضَلُ مِنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ.( البداية والنهاية: ٨/ ١٤٨، سنة ستين من الهجرة النبوية ترجمة معاوية)

ژباړه: سعید ویل له ابن المبارکه مي واوریدل ویل یې: د معاویه په پزه کې خاورې تر عمر بن عبد العزیز غوره دي.

مړینه:-

نوموړی د ( ٢٤٤ هـ ) پر مهال په بغداد کې ومړ او بخاري همدا رایه خوښه کړې. امام ذهبي(مړینه٧٤٨) په تاریخ الاسلام و وفیات المشاهیر و الاعلام کې دوه قوله راوړي چې په یوه کې (٢٤١) او بل کې (٢٥٠) ذکر شوي دي.

مراجع:-

د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندینیو کتابونو ته رجوع کولای شئ:

١ ) تاريخ البخاري الكبير: ٥٢٢/٣، الترجمة ١٧٤٨،
٢ ) وتاريخه الصغير: ٢ / ٣٨٠
٣ ) الكنى لمسلم حرف الباءمخ: ١٣٣/١
٤ ) الجرح والتعديل: ٤ / الترجمة ٣٢٠
٥ ) ثقات ابن حبان: ١/ مخ ١٦٤
٦ ) تاريخ أصبهان: ١/ ٣٢٨
٧ ) تاريخ بغداد: ٩ / ٨٩
٨ ) شيوخ أبي داود للجياني، مخ ٨٢
٩ ) المعجم المشتمل، الترجمة ٣٨٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ ) تاريخ الاسلام، د (۲۰۷) كس معرفي:۱۱۴۵/۵
۱۱ ) تذهيب التهذيب: ۲ / مخ ۳۱
۱۲ ) تذكرة الحفاظ: ۲ / ۴۶۰
۱۳ ) الكاشف: ۱ / الترجمة ۲۰۰۳
۱۴ ) إكمال مغلطاي: ۲ / مخ ۱۰۱
۱۵ ) نهاية السول، مخ ۱۲۱
۱۶ ) تهذيب ابن حجر: ۴ / ۱۰۳
۱۷ ) خلاصة الخزرجي: ۱ / الترجمة: ۲۵۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ٩ ) سعيد بن منصور

لنډه پېژندنه:-

ښاغلی امام د هیواد په سطح د یوه ستر دین پوه، محدث، مفسر او مورخ په توګه پېژندل کېږي.

نوموړی د شمالي ولایت جوزجان اوسېدوونکی خو په مکه مکرمه کې د زیاتې اوسېدنې له کبله ورته مجاور هم وایي، د نسب لړۍ یې په تاریخونو کې داسي راغلې:

سعيد بن منصور بن شعبة الحافظ الإمام الحجة شيخ الحرم أبو عثمان المروزي، الخراساني، ثم البلخي المجاور صاحب السنن.

زوکړه:-

د امام سعید بن منصور الجوزجاني رحمه الله د زوکړې صحیح تاریخ مالوم نه دئ البته دومره ویل کېدای شي چې نوموړی امام تر یونیم سل(۱۵۰) هجري لږ مخکې د افغانستان په مشهور شمالي ښار جوزجان کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي او دې ته په څېرمه ښار بلخ کې ستر شوی دئ. امام ذهبي په سیر اعلام النبلاء کې ویلي دي چې د اتیا(۸۰) یا تر دې د زیاتو کلو وو چې ومړ، د مرګ په نیټه کې یې اختلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، که یې اخیري ۲۲۹ سهي وبولو نو هم باید تر ۱۵۰ هجري مخکې پیدا شوی وي.

زده کړه او استاذان:-

امام چې له علمي پلوه په یوه ښه غني سیمه کې نړۍ ته سترګې غړولې وې او له ماشومتوبه یې له زده کړو سره مینه درلوده نو ځکه یې له پخواني دود سره سم لومړی په خپلو سیمه کې پر پوهانو زده کړې پیل کړې.

د عمر په زیاتېدو سره یې علمي احساس په خپل ښار کې تم نه کړ بلکې د پوهي په لټون یې د اسلامي نړۍ زیات ښارونه وکتل.

تاریخي لاسوندونه ثابتوي چې نوموړي جزیرې، خراسان، مصر، عراق، حجاز، کوفې، بصرې، شام، مکې، مدینې او ... ته سفرونه کړي او هلته یې پر ډېرو پوهانو زده کړې کړې دي.

نوموړی د وخت له درسي نظام سره سم په نحو، صرف، قرات، تفسیر، حدیث پوهنه، لغت، تاریخ او ... کې زده کړې وکړې او د علم حدیث په میدان کې نوموړی د نورو ډګرونو په نسبت ښه وځلېد.

سعید بن منصور ګڼ استاذان لري د ځینو نومونه یې داسي دي:

مالك، فليح بن سليمان، ليث بن سعد، أبو معشر السندي، عبيد الله بن إياد بن لقيط، أبو عوانة الوضاح، الوليد بن أبي ثور، فرج بن فضالة، هشيم، حماد بن زيد، حزم بن أبي حزم، أبو الاحوص، خالد بن عبد الله، إسماعيل بن عياش، خلف بن خليفة، فضيل بن عياض، مهدي بن ميمون ، حديج بن معاوية، عبد الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـن جعفـر المـديني، سـفيان بـن عيينـة، جريـر بـن عبدالحميد، يحيى ابن أبي زائدة، أبو شهاب الحناط، شريك القاضي، إسماعيل بن زكريا، حماد بن يحيـى الابح، عتـاب بن بشيـر، عبد العزيز بـن محمـد، أبو معاوية، داود العطار، عبد العزيز بن أبي حازم او نور...

شاګردان:-

د زده کړو تر پای ته رسولو وروسته دا درونـد امام په سيمه کې د يوه ستر استاذ او دينـي رهبر په توګه وپېژنـدل شـو او ګڼـو خلکـو يـې لـه پـوهي د ونـډې اخيستنې سيالۍ پيل کړې.

نومـوړي ډېـر شاګردان روزلـي د ځينـو نومونـه يـې دادي:

أحمـد بـن حنبـل، أبـو بكـر الأثرم، مسـلم، أبـو داود، بشر بن موسى، محمدبـن علـي الصائغ، أبـو ثـور الكلبـي، أبو محمد الدارمي، سلمة بن شبيب، إسماعيل سـمويه، محمد بـن يحيـى الـذهلي، محمد بـن علـي الصـائغ، أبـو شعيب عبد الله بن الحسن الحراني، بهلول بـن إسحاق الانباري، أبـو زرعـة الدمشـقي، أبـو حـاتم الـرازي، عثمان بن خرزاذ، أبو الموجه محمد بـن عمـرو المـروزي، العبـاس الاسفاطي، علي بـن عبـد العزيـز البغـوي، الحسـين بـن إسحاق التسـتري، خلـف بـن عمـرو العكبـري، سـعيد بـن مسعدة العطار، عمير بن مرداس او نور...

د نوموړي په اړه د علماؤ نظرونه:-

قـال سـلمة بـن شـعيب: ذكـرت سـعيد بـن منصـور لأحمد بن حنبل فأحسن الثناء عليه وفخم أمره.

وقـال أبـو حـاتم: ثقـة مـن المتقنـين ممـن جمـع وصنف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقال حرب الكرماني: أملى علينا نحوا من عشرة آلاف حديث من حفظه.
قال حنبل بن إسحاق : قال أبو عبد الله : كان سعيد من أهل الفضل والصدق .
ژباړه: سلمه وايي: سعيد مي د امام احمد په وړاندي ياد کړ، نو هغه وستايه او دده شان يې ستر وبالی.
ابوحاتم وايي: امام سعيد رښتنی، پياوړی او د هغو پوهانو له ډلې وو چې ليکنې يې کړې او زيات معلومات يې راغونډ کړي.
حرب وايي: موږ ته يې لس زره (۱۰۰۰۰) حديث له حافظې وليکل.
ابن اسحاق وايي امام ابوعبد الله ويل : سعيد غوره او رښتنی کس وو.
ليکنې:-
امام ابو عثمان سعيد بن منصور رحمه الله د خپل ژوند اکثره برخه په ديني خدمتونو کې تېره کړه، نوموړي له ګڼو علمي بوختياوو سره – سره د ليکنې لوری هم هېر نه کړ خو له دې ستر امام سره تاريخي پاڼو بې انصافی کړې، نه يې دده په اړه پوره، کره او جوت مالومات په خپله غېږه کې ساتلي او نه يې د ده ليکنې او تاليفات خوندي کړي دي.
ان په دې اړه موږ صرف دومره ويلای شو چې نوموړي په تفسير کې د تفسير القران او په احاديثو کې د السنن په نوم کتابونه ليکلي او بس . په دې اړه هم تاريخ چوپه خوله دئ چې د ده تفسير په څه ډول ليکل شوی وو؟، صرف د ايتونو تفسير وو او که يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمن کې احکام ، مسائل، د بلنې اصول او ... هم تشريح کول؟.

د السنن په اړه يې په دې نه پوهېږو چې چا ترې روايت کړی، څومره احاديث يې پکې راغونډ کړي او د احاديثو په کتابونو کې کومه رتبه لري؟، البته له تاريخي لاسوندونو دا خبره په پوره يقين سره کولای شو چې تفسير القران او السنن د امام سعيد اثار دي.

مړينه:-

امام سعيد د روژې په مياشت د دوه سوه اووه ويشت پرمهال د مکې په سپېڅلي ښار کې د څه دپاسه اتيا کالو په عمر له نړۍ وکوچېد. انا لله وانا اليه راجعون!

مراجع:-

د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ:

١ ) تهذيب الکمال ، مخ : ٥٠٨

٢ ) طبقات ابن سعد ٧ / ٣٠٧

٣ ) التاريخ الکبير ٨ / ٧٢، ٧٣

۴ ) التاريخ الصغير ٢ / ٣٥٧

٥ ) الجرح والتعديل ٨ / ۴٣٨

۶ ) الاکمال ٧ / ٢۴٩

٧ ) الجمع بين رجال الصحيحين ٢ / ٥٢٢

٨) تذکرة الحفاظ الطبقة الثامنة:٥/٢

٩) سير اعلام النبلاء(١٧۴۴) کس:١٢/٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۰) امام ابو داؤد ﷬

لنډه پېژندنه:-

امــام ابــو داؤد د افغانســتان لــه وتلــو علمــاؤ، محدثينو، فقهاؤ او مشهورو عابدانوګڼل کېدی. د وخت علماؤ زيات ستايلی دی او زيات شمېر ليکنې لري.

د نسب لړۍ يې په دې ډول ده:

ابــو داؤد ســليمان بــن الاشــعث بــن اســحاق بــن بشيربن شدادبن عمرو بن عمران الازدي السجستاني.

ازد په يمن کې مشهوره قبيله ده امام ابو داؤد ﷬ همدي قبيلې ته منسوب دئ ځکه نو ازدي ورته ويل کېږي.

سجستان دامام ابو داود ﷬ د وطن نوم دئ او د ده نسبت هماغه ته شوی دی خو دا چې سجستان چېرته واقع دئ؟ نو په دې اړه مورخ ابن خلکان وايي:

دی سجستانة ته منسوب دی او دا د بصرې يوکلی دی. خو امام ذهبي ﷬ وايي: د سند او هرات تر منځ سيمه ده چې کندهار ته نژدې پرته ده.

زما په اند سجستان کې اوسنی هلمند او نيمروز ولايتونه دواړه داخل دي چې امام ابو داؤد ﷬ هماغې ته منسوب دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مورخينو په اند دا وروستى قول راجح دئ لوى مـورخ علامـه يعقـوبي هـم پـه تـاريخ البلـدان كـې سجسـتان يـوه پراخـه سيمه بـولي او وايـي بسـت او د نننى نيمروز ولايت مركز زرنج يې مركزي سيمې دي.

ابن الفقيه ليكې:

ومن كرمان إلى سجستان مائة وثمانون فرسخا. ولهـا مـن المـدن : زالـق وكركويـه وهيسـوم وزرنـج وبسـت وناشـروذ والقـرنين ... ونهرهـا المعـروف بالهندمند.

(البلدان الجانب الشرقى: ۱/ ۴۱۶)

ژباړه: له كرمانه تر سجستانه يو سل اتيا فرسخه واټن دئ، د سجستان ښارونه: زالـق، كركويـه، هيسـوم، زرنـج (د اوسـني نميـروز مركز)، بست (په اوسنى لښكرګا كې د يوې سـيمې نـوم دئ)، ناشـروذ او القـرنين... بيـا وروســــته كـــــاري: د سجســــتان رود د هندمند(هلمند) په نوم مشهور دئ.

لـه دې جـوتيږي سجسـتان يـوه پراخـه سـيمه وه، د اوسـني هلمنـد، نيمـروز، كنـدهار، بلوچسـتان او ان تـر زابله (زابلسـتان) يـې سـيمې پـه خپلـه پراخـه غيږه كـې رانغښتې دي.

د المسـالک ليكـوال د سجسـتان دننـه ښـارونه او سيمې يادوي چې ځيني يې د نوم په لير تبديلي اوس هم پر همغه حال پاتې دي لكه دا:

وامّا مدنها ومـا يقع فى اضـعافها ممّا يحتـاج الـى معرفتـه فلهـا مـن المـدن زرنـج وكسّ ونـه والطـاق والقـرنين وخـواش وفـره وجـزه وبسـت وروذان وسـروان وصـالقان وبغنـين ودرغـش وتـلّ وبشـلنك

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبنجواى وكهك وغزنة والقصر وسيوى واسفنجاى وجامـان.(المسالک والممالک سجستان د ابو اسحاق ابراهيم الكرخي ليكنه)

ژباړه: د سجستان ښارونه او هغه چې په دننه کې يې واقع دي او مور يې پېژندنې ته اړتيا لرو دا دي: زرنج، كس ونه، طاق، قرنين، خواش، فره (اوسنی فراه)، جزه، بست، روذان( اوسنی روزگان)، سروان (سپېروان) صالقان، بغنين (باغران)، درغش، تل، بنجواى(پنچوايي)، كهک، غزنه(غزنی)، قصر، سيوى( اوسنی سيوی)، اسفنجای(پنجپای) او جامان ( اوسنی دامان چې د کندهار هوايي ميدان ته نژدې د پرتې سيمې نوم دئ.)

دی په همدې ځای کې بيا وايي:

ومدينتها العظمى تسمّى زرنج.

ژباړه: د سجستان مرکزي ستر ښار په زرنج نومول کېدی.

نوموړی د سجستان په پېژندنه کې وړاندي ليکې:

وارضها سبخة ورمال وهى حارّة بها نخيل ولا يقع بها ثلوج وهى ارض سهلة لا يرى فيها جبل واقرب جبالها بناحية فره وتشتدّ رياحهم.

ژباړه: ځمکه يې ښرنه (تروه) او رېگنه ده، ډېره گرمه او خورماوې لري البته واوره پرې نه کېږي، دا ځمکه نرمه ده چې غر پرې نه شته تر ټولو نژدې غر يې د فراه په سيمه کې دئ خو سخت بادونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټولي نښې بيا هم د هلمند، کندهار، فراه او نيمروز په سيمه کې پوره دي، رېګ خو يې په نړۍ کې مشهور دئ، ان له يوه ځايه بله ته روان وي او په ليږ وخت کې دلته بيا هلته د غونډيو په شان کوټې جوړ وي، دا له هلمنده پيل او بيا تر کندهاره غزېدلی دئ، دښتونه يې دومره پراخ دي چې د سيمې په کچه مشهور دي، ګرمه هوا لري، ځمکه يې رښتيا هم نرمه ده، زيات غرونه نه لري او بادونه يې ګرم او تېز دي.

ابو القاسم عبيد الله الخرذدابه هم په خپل کتاب المسالک والممالک کې ليکي:

> وتلی كرمان من جهة المشرق سجستان وقصبتها تعرف بزرنج. (المسالک والممالک الباب السادس فی مملكة الاسلام: ۱/ ۲۴۲)
>
> ژباړه: کرمان (ايرانی ښار) د ختيځ له پلوه سجستان ته نژدې دئ او مرکزي ښار يې زرنج نومېږي.

د المسالک ليکوال د کهک او خج نومي سيمې د پنجوايي معرفي کوي او الداور بيا د باغران او غور بولي. نوموړی وايي چې د دې سيمو اوسېدونکې زياتې غلې تر لاسه کوي او له دې امله ښه غوره ژوند لري.

د معجم البلدان ليکوال يې په اړه وايي:

> وأهل تلك الناحية يسمونها زمنداور ومعناه أرض الداور. (معجم البلدان داور: ۲/ ۴۳۴)
>
> ژباړه: د دې سيمې اوسېدونکې يې زميداور بولي او معنا يې دا ده چې د داور ځمکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا سيمه ښايي اوس په همدې زمينداور مشهوره وي او خلکو يې پخوانی نوم له پامه اچولی وي، د همدې معجم ليکوال وايي چې د سجستان سيمه د عمر په خلافت کې عاصم بن عدي التميمي فتح کړه.

ښاغلی ليکوال يو بل ځای زياتوي:

زِمِنْدَاوَر: بكسر أوّله وثانيه، ونون، وفتح الواو، والراء: ولاية واسعة بين سجستان والغور، وهو المسمّى بالداور، وهذا اللفظ معناه أرض الداور.

(معجم البلدان زمنداور: ۳/ ۱۵۱)

ژباړه: د لومړي حرف او دويم حرف په زير، ساکن نون لري، د واو او راء په زور د سجستان او غور ترمنځ پراخ ولايت دئ چې داور هم ورته ويل کېږي او د دې توري معنا دا ده چې د داور ځمکه.

دارنګه د مسالک ليکوال د تل او درغش ښارونه د هلمند سيمې بولي او بيا څو نوري سيمې هم يادوي چې ځينو خلګو يې اسلام منلی وو او نورو يې سوله کړې وه.

بيا وايي: بست د سجستان په ښارونو کې تر زرنج وروسته لوی ښار وو، قرنين بست ته د تللې لارې چپه اړخ ته کوچنی ښار ګوڼی وو.

بالس د يوې سيمې نوم بولي او مرکز يې سيوی معرفی کوي، طاق هم وړوکی ښار ګڼي او وايي چې زرنج ته نژدې موقعيت لري، چې زياتره ميوه يې انګور ده. خواش، قرنين ته بيخي قريبه يوه علاقه ده چې له بست څخه نيم فرسخ واټن لري، تر قرنين ستر، ونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او خورماوې هم پکې شته، وايي: قرنين او خواش دواړه روانې اوبه لري.

فراه بيا ستر ښار بولي او وايي چې خورماوې، کښتونه او ډېري مېوې لري، ان پر شپېتو کليو محيطه سيمه ده، ځمکه يې نرمه او يو رود هم لري. جزه له سجستانه چې خراسان ته ځې نو د تلونکې کېڼ اړخ ته د پاتېدونکې وړوکې ښار نوم دئ چې له خټو جوړ شوی دئ.

سپېروان بيا د قرنين په شان کوچنی ځای دئ، زياتې مېوې لکه انګور، خورما او نوري لري، ښه زراعتي ځمکې يې شته، له بست څخه ډېره ليرې نه ده او ترمنځ يې پر يوه مرحله د فيروزقند په نوم سيمه هم پرته ده.

فيروزقند ته نژدې روزګان ګڼي، وايي له دې سيمې زياتره نورو علاقو ته مالګه وړله کېږي، خو له دې سره مېوې هم لري او د زراعت ځمکې يې هم شته، صالقان هم بست ته نژدې سيمه ده چې اوبه يې له والو څخه دئ د قرنين په شان ستر دئ او ميوې هم لري. (المسالک والممالک سجستان ۲۸۳)

خو پاتې دوه نور ښارونه بيا په « حدود العالم من المشرق الى المغرب » نومي کتاب کې معرفي شوي:

4- كش:مدينة عامرة ذات نعم ومياه جارية طيبة الهواء وهي على ساحل نهر هيذمند.

5- نه:مدينة عامرة ذات زروع وفواكه كثيرة، ولا يكون بها البعوض. (ياد شوی کتاب ۸ خواش ۱/ ۱۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم ښار کش دئ چې اباد دئ، ځاروي لري، اوبه يې جاري او ښه هوا لري، د هلمند سيند پر غاړه پروت دئ.

پنځم ښار « نه » دئ چې ودان، د زياتو کښتونو او ميوو لرونکی دئ او هلته غوماش هم نه شته.

دا د سجستان سيمه وه چې د المسالک ليکوال په خپل کتاب کې معرفي کړې وه.

دې ته په کتلو مونږ ويلای شو چې سجستان د اوسني افغانستان پراخه سيمه ده چې ان بلوچستان هم پکې داخل دئ او دا سيمه (بلوچستان) د ګران افغانستان يو ولايت او سيمه وه خو وروسته د ډيورنډ منحوسې کرښې دا سيمه له ګران هيواده بېله کړه.

د تحقيق ما للهند ليکوال د کنوج د ښار په پېژندنه کې ليکي:

> وأرض «السند» منها في غربها والوصول من عندنا إلى السند من أرض «نيمروز» أعني أرض «سجستان» وإلى الهند من جانب «كابل».
>
> (تحقيق ما للهند من مقولة مقبولة ١/ ١٤٠)
>
> ژباړه: او د سند ځمکه ځيني يې د کنوج لوېديځ ته ده او زمونږ له لوري سند ته رسېدل د نيمروز يعني د سجستان له ځمکې کېدای شي او هند ته د کابل له لوري.

له دې هم داسې برېښي چې اوسنی نميروز مخکېنی سجستان دئ، البته ساحه يې کمه شوې.

زوکړه:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



امـام ابـو داؤد﷬ د ( ۲۰۲هـ) پـر مهـال همدلتـه دسجستان په سيمه کې پيدا او لوی شو.

زده کړه:-

لـومړنۍ زده کـړې يـې پـه خپلـه وطـن کـې وکـړې، وروسـته يـې د علـم حـديث پـه زده کـړه پسـې ډيـرو اسلامي هيوادونو لکه: عراق ، خراسان ، شام ، مصر ، حجاز ، جزيرې او... ته سفرونه وکړل .

استاذان:-

د علومـــود زده کـړې پرمهـــال يـې پـــر زياتـــو مشهـــــورو محـــــديثينو زده کـــــړې وکـــــړې، د ټولواستاذانوشـمېريې نـژدې درې سـوو تـه رسـېږي، د ځينو مشهورو نومونه يې په لاندي ډول دي:

امام احمدبن حنبل، قتيبة بن سعيد بغلاني، يحـي بن معين، عبدالله بن مسلمة القعنبي، عثمان بـن ابـي شيبة، ابو الوليد الطيالسي، احمـدبن يـونس، ابـو جعفـر بن نفيلي،مسلم بن ابراهيم، مسدد بن مسرهد او نور...

شاګردان:-

د تفسير، علم حديث، فقهـې او نـورو فنونـو تـر زده کړې وروسته چې کله امام ابـو داؤد ﷬ د فراغـت سـند تر لاسه کړ نو په ښوونه او روزنـــه يـې پيـــل وکـــړ چې لاندي لوی شخصيتونه يې هم شاګردان دي:

زوی يې ابو بکر بن ابي داؤد، امام ابو عبد الـرحمن النسائي، امام ابو عيسي الترمذي، احمدبن محمد الخلال ، ابو عوانة، ابو بشرالدولابي، امام احمدبن حنبل تـرې د عتيـرې حـديث اوربـدلی دی، ابـو سـعيد الاعرابي، ابـو علي اللؤاؤي، ابو بکر بـن داسـة، ابـو سـالم بـن محمد بـن سعيد الجلودي، ابو عمرو احمد بن علي او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سنن ابی داؤد د تالیف انګېزه:-

د امام ابو داؤد ﷺ په زمانه کې خلک د تعصب اوعصبیته له امله پر دوو ډلو محدیثینو او فقهاوو تقسیم شوي ول، محدثین د حدیث پوهنې په روایت او درایت بوخت ول او فقهاوو د مسائلو حل ته پام اړولی وو چې ډېری یې په شخصي او مسلکې تعصب اخته ول، له همدې امله یې پر حدیث پوهانو تورونه لګول او ویل یې:

فلانی محدث فقیه نه دئ او په درایت نه پوهېږي او د ده یې له حدیث او فقهې سره څه؟.

همدې لاملونو ته په پام د وخت دې ستر امام، مفسر، حدیث پوه او مجتهد د سنن ابي داؤد په لیکلو پیل وکړ او په داسي ډول یې ترتیب کړ چې د متعصبو فقهاوو ټولې نیوکې یې له منځه یووړې او ثابته یې کړه چې محدثین نه یوازي د حدیثو په روایت پوهېږي بلکې په درایت او فقه کې هم تر تش په نوم فقهاوو په څو چنده لوړ دي بلکې دا حقیقت په سرچپه ډول خلګو ته وړاندي کېږي چې د حدیثو او فقهې تر منځ یو لوی واټن دئ او کوم څوک چې محدث وي هغه فقیه نه شي بلل کېدای او څوک چې فقیه وي هغه محدث نه شي بلل کېدای.

حقیقت داسي نه دئ کوم څوک چې محدث وي هغه فقیه هم کېدای شي ځکه د مسائلو د استنباط سرچېنې قرآن او حدیث دي، مجتهدین له همدې دوو سرچېنو په خپل فهم او ادراک اخذ کوي کوم څوک چې په حدیثو کې پوهه ونه لري په هیڅ صورت هم فقیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شي بلل كېداى نو ويلاى شو چې محدث له خپل مسلک سره فقيه هم كېداى شي.

د سنن ابى داؤد ټول احاديث:-

تر شيخينو( صحيح البخاري او صحيح مسلم ) وروسته سنن ابي داؤد د علماؤ په اند د حديثو معتبر كتاب دئ.

د ابو بكر داسة ﷫ په وينا امام ابوداؤد﷫ په خپل سنن كې (۴۸۰۰) احاديث راغونډ كړي دي.

د سنن ابى داؤد ځانګړتياوې:-

امام ابو داؤد ﷫ په خپل سنن كې يوه ځانګړې لاره او سبک غوره كړى چې ځيني امتيازات يې په دې ډول دي:

۱ ) كوم حديث چې متروک ول او حديث پوهانو پرېښي دي، ده هم نه دي روايت كړي.

۲ ) د متن دوه سندونه سره يوځاى كوي، خو وروسته يې توپير بيانوي.

۳ ) كله – كله ډير سندونه اوزيات متنونه يوځاى كوي، د حديث تر روايت وروسته وايي چې د حديث دا برخه فلاني روايت كړې، دا برخه فلاني روايت كړې او...

۴ ) ځيني وختونه د راوي نسب هم ذكركوي څو شكوک ختم كړي.

۵ ) د ترجمة الباب موافق يو حديث روايت كوي بل يې مخالف روايت كوي څو خلگ وپوهيږي چې د دې مسئلې په دواړو خواوو كې حديثونه شته.

۶ ) كله – كله تر ترجمة الباب وروسته مخالف حديث روايت كوي، د ترجمة الباب د مسئلې يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکې نه وي، مطلب يې داوي چې که د هغې مسئلې حکم داسي وي نو د دې مسئلې حکم همدغه دئ.

٧ ) ځينـي وختونـه د اوږده حـديث هغـه ټوټـه پـه باب کې ذکر کوي چې تعلق ورسره لري، بيا وايي: دا د اوږده حديث ټوټه ده څو اشتباهات پيدا نه شي.

٨ ) د عن پر روايت د تحديث روايت مخته کوي.

٩ ) کله – کله له دوو يا درو سندو سره يو متن ذکر کوي، بيا وايي :عن فلان کذا، و عن فلان کذا مطلب دا چې دا حصه له دې او دا حصه له هغه روايت شوې ده.

د سنن ابی داؤد راويان:-

د ابـو داؤد مـتن د څلـورو راويـانو لـه لارې مـوږ تـه رسېدلی دئ:

١ ) محمد بن احمد بـن عمـرو اللؤلـؤي، همـدا نسخه په ختيځ هند، پاکستان او افغانستان کې مشهوره ده.

٢ ) ابو بکر محمد بن عبد الرزاق بـن داسـة، دانسخه په لوېديځ کې شـهرت لـري او لـومړۍ نسـخې تـه نـژدې بلله کېږي.

٣ ) ابو سعيد احمد بن محمد بن زيـاد بـن الاعرابي، دا نسخه ناقصه ده کتاب الفتن او نور پکې نه شته.

۴ ) ابو عيسی اسحاق بن موسی بن سعيد الرملي، دانسخه مهشوره نه ده.

د سنن ابي داؤد دا څلور راويان مشهور دي، که نـه نورو هم روايـت کـړی دئ،البتـه تـر ټولـو سـيي نسخه د اللؤلؤي ده، ځکه ده تر ټولو وروسته روايت کړی دئ، د تغير او نقصان احتمال پکې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابو داؤد شرحې:-

پر سنن ابي داؤد ګڼو پوهانو شرحې کړې دي چې ځيني يې دادي:

۱) معالم السنن:- دسليمان احمد بن محمد بن ابراهيم بن الخطاب الخطابي(مړينه۳۸۸) شرحه ده. د حلب د المطبعة العلمية له لوري په (۱۹۳۲) کې چاپ شوې ده.

۲ ) امام نووي هم پرې شرحه ليکلې، خوپوره کړې يې نه ده.

۳ ) انتحاءالسنن واقتفاء السنن:- د شهاب الدين ابو محمد بن محمد بن ابراهيم هلال المقدسي شرحه ده.

(۴ ) مرقاة الصعودالی سنن ابي داؤد:- د ستر ليکوال او ګڼو تصنيفاتو د څښتن علامه سيوطي شرحه ده.

ليکنې:-

له سنن ابي داؤد پرته ځيني نور تاليفات هم لري؛ لکه:

۱ ) المراسيل
۲ ) الردعلی القدرية
۳ ) الناسخ والمنسوخ
۴ ) ما تفرد به اهل الامصار
۵ ) فضائل الانصار
۶ ) مسند مالک
۷ ) المسائل
۸ ) معرفة الاوقات
۹ ) کتاب بدء الوحي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړینه:-

امام ابو داؤد ﷺ د ور پېښې ناروغۍ له امله په (۲۷۴یا ۲۷۵ه) کې وفات شو؛ چې دا مهال یې عمر ۷۳ کاله وو. اناالله وانااليه راجعون!

روح يې ښاد او ياد يې ژوندی

مراجع:
۱)د امام ذهبي تاريخ الاسلام، حرف السين، د (۳۹۲) كس معرفي: ۲/ ۳۵۷
۲)البدايه والنهايه، د ابوداؤد معرفي: ۶۴/۱۱
۳)شذرات الذهب في اخبار من ذهب، ۲۷۵ كال: ۳۱۳/۳
۴)تاريخ بغداد د خطيب(مړينه ۴۶۳) باب السين، د (۴۶۳۸)كس معرفي: ۵۶/۹
۵)معجم البلدان:۳/ ۱۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ع )

## ( ۱۱) ابو النصر عبد الرحمن الهروي

لنډه پېژندنه:-

د هرات وتلی محدث، ثقه، امام او باوري راوي دئ، د نسب لړی یې په دې توګه ده:

الحافظ أبو النصر عبد الرحمن بن عبد الجبار بن عثمان بن منصور الهروي محدث هراة.

زوکړه:-

ابو النصر په هرات کې د ( ۴۷۲ هـ) پر مهال پیدا شوی.

زده کړې، استاذان او شاګردان:-

نوموړي په اولني عمر کې زده کړو ته مخه کړه، له یو شمېره غوره استاذانو یې زده کړې وکړې او په دې لار کې یې ډېر سفرونه او ستونزې وګاللې، د تحصیلاتو پر مهال یې له دې ښاغلو علم زده کړی:

أبو عبد الله محمد بن علي العميري، نجيب بن ميمون الواسطي، أبو عامر محمود بن القاسم الأزدي، شيخ الإسلام أبو إسماعيل الأنصاري، أبو القاسم بن الحصين، هبة الله بن علي البخاري او نور...

په شاګردانو کې یې دوه حافظان ابن عساکر او سمعاني او هم ابو روح عبد المعز الهروي د یادولو وړ دي.

د ده په اړه د پوهانو ويناوې او ليکنې:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمعاني په خپل تاريخ کې د ده په اړه وايي:

نوموړی په بغداد کې اوسېدی، ښه اخلاق او غوره سيرت يې وو، ډېر لمونځ، ذکر او خيراتونه يې کول، متواضع او خاکساره انسان وو، په حديثو او ادب کې يې لوی لاس درلود.

سمعاني نوموړی په ثقه او مامون القابو او همدارنګه په ثقة الدين ياد کړی، دی وايي: ما په هرات کې ترې حديث ليکلي.ده يې د « تاريخ الصغير » په نوم يو کتاب هم ياد کړی او په اړه يې نور تفصيلات نه دي ذکر کړي.

مړينه:-

ښاغلی امام د ذي الحجې پر ( ۲۵ ) د ( ۵۴۶ هـ) پر مهال ومړ.

مراجع:-


۱) العبر: ۴/ ۱۳۴

۲ ) طبقات الحفاظ: ۴۸۳

۳ ) شذرات الذهب: ۴/ ۱۴۰

۴ ) النجوم الزاهرة: ۵/ ۳۱۰

۵ ) هدية العارفين: ۱/ ۵۱۸

۶ ) الأنساب: ۹/ ۲۳۴، ۲۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۱۲) ابو روح عبد المعز الهروي

لنډه پېژندنه:-

د خراسان مسند، ستر عالم، د هرات محدث ابو روح عبد المعز الهروي د خپل وخت ستر امام وو، په تاريخ کې يې د نسب لړۍ داسي راغلې:

أبو روح الشيخ الجليل الصدوق المعمر مسند خراسان حافظ الدين أبو روح عبد المعز بن محمد بن أبي الفضل بن أحمد بن أسعد بن صاعد الساعدي الخراساني الهروي البزاز.

زوکړه:-

نومړی په ذي القعده کې د ( ۵۲۲ هـ) پرمهال په خپل همدې هرات ښار کې پيدا شوی.

زده کړه، استاذان او شاګردان:-

د وخت له دود سره سم يې لومړۍ زده کړې د خپلې علاقې پر پوهانوکړې او وروسته يې نورو سيمو ته سفرونه وکړل او له لاندينيو علماوو يې پوهه تر لاسه کړې:

عبيد الله بن أبي عاصم (دا يې مورنی نيکه دئ)، تميم بن أبي سعيد الجرجاني، زاهر بن طاهر، محمد بن إسماعيل الفضيلي، يوسف بن أيوب الهمذاني الزاهد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد بن علي المضري، عبد الرشيد حفيد أبي عمر المليحي او نور...

د تدريس پر مهال دې شاګردانو ترې علمي ګټه پورته کړې:

البرزالي، الضياء، ابن النجار، المرسي، البكري، عبد الحق المنبجي، الصريفيني او مشهور النرباني.

مړينه:-

ضياء وايي: نومړی ترکانو په ربيع الاول کې د ( ۶۱۸ هـ) پر مهال قتل کړ.

مراجع:-

۱) ذيل التقييد فی معرفة رواة السنن والمسانيد د (۱۳۳۲) راوي پېژندنه.

۲) التقييد لمعرفة رواة السنن والمسانيد د ( ۵۰۷ ) راوي پېژندنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۱۳) ابو الموفق عبد الواسع الهروي

### لنډه پېژندنه:-

د ښاغلي امام په اړه په تاريخ کې ډېر تفصيلات نه موندل کېږي، البته دومره څه يې په اړه تر لاسه کېږي چې د يو محدث په صفت يې را وپېژني، د نوموړي امام د نسب سلسله سمعاني په دې ډول ذکر کړې:

أبو الموفق عبد الواسع بن عبد الرحمن بن الموفق بن عبد الله بن محمد بن أحمد بن إبراهيم بن السري بن المغلس السقطي الهروي.

### زوکړه:-

نوموړی په ذی الحجه کې د ( ۴۸۵ هـ) پر مهال په هرات کې زېږېدلی.

### استاذان او شاګردان:-

د ښاغلي امام په اړه دا نه دي ويل شوي چې کومو ښارونو ته يې سفرونه کړي البته د ګوتو په شمار استاذانو نومونه يې ياد شوي:

أبو عطاء عبد الأعلى بن عبد الواحد المليحي، أبو محمد حاتم بن محمد الحاتمي او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام سمعاني وايي ما په هرات کې ترې حديث اورېدلي، نور شاګردان يې نه دي ذکر شوي.

مړينه:-

دی په ربيع الاخر کې د ( ۵۴۹ هـ) پر مهال د درې نی (سې شنبې ) په ورځ وفات شوی.

مراجع:-

۱) المنتخب من معجم شيوخ السمعاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۱۴) ابو الخير عبد الله الهروي

### لنډه پېژندنه:-

امام، محدث ابو الخير هراتی عالم او په خپل وخت کې د زياتو سفرونو له امله په الرحال مشهور وو، دی د شيخ الاسلام ابو اسماعيل الانصاري مرېيی وو، د نسب سلسله يې په دې ډوله ده:

الإِمَـامُ، المُحَـدِّثُ، الرّحَّـالُ، أَبُـو الخَيـرِ عَبـدُ اللهِ بـنُ مَـرزُوق الهَرَوِيّ، مَوْلَى شَيخِ الإِسلاَمِ أَبِي إِسمَاعِيْلَ الأَنصَارِيّ.

### زوکړه:-

ذهبي يې د زوکړي په اړه کاږي:

وُلِدَ سَنَةَ إِحْدَى وَأَرْبَعِيْنَ وَأَرْبَعِ مائَةٍ.

ژباړه: د (۴۴۱) هجري پر مهال پيدا شوی.

### زده کړه، استاذان او شاګردان:-

ښاغلي امام د علم د تر لاسه کولو لپاره له پيله ډېري هڅې کړې، سفرونه يې کړي او له خپل وس سره سم يې پوره کوښښ کړی، د ډېرو استاذانو په وړاندي يې د شاګردۍ منډون وهلی، هر ځای چې به يې د يوه عالم او محدث په اړه څه اورېدل هلته ورتلی او خپله علمي تنده يې ترې ماتوله، خو له دې ټولو سره – سره يې ليک او خط ډېر کمزوري ول، د ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذانــو په فهرست كــي دا كسان مشهــور او نـوم وتي دي:

أَبَو عُمَرَ المَلِيْحِي، مُحَمَّد بن عَبْدِ العَزِيْزِ الفَارِسِيّ، أَبَـو مَعْمَرٍ أَحْمَد بن عبد الوَاحِد البَانكِي، عبدَ الرَّحْمَن بـن مَنْدَه، (ورور يـې) أَبَو عَمْرٍو، أَبَو القَاسِمِ بن البُسْرِيّ او نور...

په شاګردانو كې يې هم د دې ښاغلو نومونه د ياد او ذكر وړ دي:

القَاضِي يَعْقُوْبُ بن إِبْرَاهِيْمَ إِمَام الحنَابلَة، هِبَةُ اللهِ بـن السَّقَطِيّ او نور...

نومـوړى د هـرات اوسـېدونكى خـو بيـا پـه اصـفهان كې اوسېدى.

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

امام ذهبي په سير اعلام النبلاء كې داسي وايي:

قَـالَ ابْـنُ النَّجَّـار: قرَأَ العِلْم، وَرُزِقَ الفَهم، وَسَمِعَ الكَثِيْـرَ، وَسَـافَرَ وَكَتَـبَ وَحصَّـل، وَكَـانَ مَوْصُـوَفاً بِالحِفْظ وَالمَعْرِفَة، وَحُسْنِ السِّيْرَةِ، وَكَانَ خطُّـه رديئـاً، ثَقُلَ سَمعُهُ بِأَخَرَةٍ.

ژبـاړه: ابـن النجـار ويـل: علـم يـې زده كـړ، ښه فهم يې در لـود، لـه ډېـرو يـې واورېـدل، سفرونه يې وكړل، ليكنې يې وكړې او علوم يــې ترلاســه كــړل، دى پــه حفــظ او ښــې پېژنـدنې مشـهور وو، غـوره اخلـاق يـې ول، خــو خــط يــې كمــزورى وو او پــه وروســتي وخت كې يې د اورېدلو قوه هم درنه شوه.

قَـالَ السِّلَفِيّ: سَمِعْتُ إِسْمَاعِيْلَ بـن مُحَمَّدٍ الحَـافِظ يَقُوْلُ: أَبُو الخَيْرِ الهَرَوِيّ حَافظٌ لِلْحَدِيْثِ مُتْقِن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: امام سلفي ويل له اسماعيل بن محمد الحافظه مي واورېدل ويل يې: ابو الخير الهروي د حديثو حافظ او باوري وو.

قَالَ أَبُو مُوْسَى المَدِيْنِيّ فِي (مُعْجَمه) :حَدَّثَنَا الحَافِظُ الزَّاهِد عَبْدُ اللهِ بن مَرْزُوْق الهَرَوِيّ، وَكَانَ ثقيلَ الأُذُنِ.

ژباړه: ابو موسى المديني په خپل معجم کې ويل: موږ ته حافظ، زاهد عبد الله بن مرزوق الهروي حديث بيان کړ او د ده په غوږو کې دروند والى وو.

مړينه:-

وَمَاتَ فِي جُمَادَى الآخِرَةِ، سَنَةَ سَبْعٍ وَخَمْس مائَة.

امام ذهبي وايي: دى په جمادى الاخير کې د (۵۰۷) پر مهال مړ شو.

مراجع:-

١) مختصر طبقات علماء الحديث: الورقة ٢٢٣
٢ ) تاريخ الإسلام: ۴ / ١٨١
٣ ) تذكرة الحفاظ: ۴ / ١٢۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۱۵) عبد الله بن محمد الهروي

### لنډه پېژندنه:-

د خراسـان شـيخ، سـتر محـدث، د رسـول الله ρ د صحابي ابو ايوب الانصاري له اولادې څخه وو، له دې امله يې په نسب کې انصاري هم شته، تـاريخ پوهـانو يې نسبي لړۍ داسي راوړې:

الإمام القدوة، الحافظ الكبير أبو إسماعيل، عبد الله بن محمد بن علي بن محمد بـن أحمـد بـن علـي بـن جعفـر بن منصور بن مت الأنصاري الهروي.

### زوکړه:-

نومـوړی امـام د درې سـوه شـپږ نـوي (۳۹۶ هــ) پـر مهال دې نړۍ ته سترګې پرانيستې.

### زده کړه، استاذان او شاګردان:-

نومـوړي امـام د خپلـو زده کـړو پـر مهـال د ډېـرو پوهـانو پـه وړانـدي ګونـډه ماتـه کـړه، هلتـه - دلتـه يـې سفرونه وکړل، ډېري سيمې يې د پوهي په لټه کې ګز وپل کړې، د اسلامي نـړۍ لـه سـترو دينـي پوهـانو يـې خپل عالي تحصيلات وکړل چـې د يـو شـمېر اسـتاذانو نومونه يې په دې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبد الجبار بن محمد الجراحي، القاضي أبو منصور محمد بن محمد الـأزدي، أبو الفضل محمد بن أحمد الجارودي الحافظ، أبو سعيد عبد الرحمن بن أحمد بن محمد السرخسي، أبو الفوارس أحمد بن محمد بن أحمد بن الحويص البوشنجي الواعظ، أبو الطاهر أحمد بن محمد بن حسن الضبي، أحمد بن محمد بن مالك البزاز، أبو عاصم محمد بن محمد المزيدي، أحمد بن علي بن منجويه الأصبهاني الحافظ، أبو سعيد محمد بن موسى الصيرفي، علي بن محمد بن محمد الطرازي، أبو نصر منصور بن الحسين بن محمد المفسر، أحمد بن محمد بن الحسن السليطي، أبو بكر أحمد بن الحسن الحيري ( خو روايات يې ترې نه دي كړي)، محمد بن جبرائيل بن ماحي، أبو منصور أحمد بن محمد بن العالي، عمر بن إبراهيم الهروي، علي بن أبي طالب، محمد بن محمد بن يوسف، الحسين بن محمد بن علي، يحيى بن عمار بن يحيى الواعظ، محمد بن عبد الله بن محمد بن إبراهيم الشيرازي، أبو يعقوب القراب الحافظ إسحاق بن إبراهيم بن محمد الهروي، أحمد بن محمد بن إبراهيم الوراق، سعيد بن العباس القرشي، غالب بن علي بن محمد، محمد بن المنتصر الباهلي المعدل، جعفر بن محمد الفريابي الصغير، محمد بن علي بن الحسين الباشاني، منصور بن رامش، أحمد بن أحمد بن حمدين، الحسين بن إسحاق الصائغ، محمد بن إبراهيم بن محمد بن يحيى المزكي، علي بن بشرى الليثي، محمد بن محمد بن يوسف بن يزيد، أبو صادق إسماعيل بن جعفر، محمد بن محمد بن محمود، علي بن أحمد بن محمد بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



خميرويه، محمد بن الفضل بن محمد بن مجاشع، محمد بن الفضل الطاقي الزاهد او نور...

د شاگردانو په لړ کې يې دا ځيرې مشهورې او نوموتې دي:

المؤتمن الساجي، محمد بن طاهر، عبد الله بن أحمد بن السمرقندي، عبد الله بن عطاء الإبراهيمي، عبد الصبور بن عبد السلام الهروي، أبو الفتح عبد الملك الكروخي، حنبل بن علي البخاري، أبو الفضل محمد بن إسماعيل الفامي، عبد الجليل بن أبي سعد المعدل، أبو الوقت عبد الأول السجزي د ده خادم.

د ده په اړه د پوهانو اندونه:-

موتمن الساجي يې په اړه وايي:

يروي في مجالس وعظه الأحاديث بالإسناد ، وينهى عن تعليقها عنه . قال : وكان بارعا في اللغة ، حافظا للحديث ، قرأت عليه كتاب "ذم الكلام".

ژباړه: د نصيحت په مجلس کې يې احاديث په سند راوړل او له دې يې منعه کوله چې له ده معلق روايت نقل شي، ده ويل: دی ښه لغت پوه او د حديثو حافظ وو، ما پر ده ذم الكلام لوستی.

قال أبو سعد السمعاني: سألت إسماعيل بن محمد الحافظ عن عبد الله بن محمد الأنصاري ، فقال : إمام حافظ.

ژباړه: ابوسعد السمعاني ويل له اسماعيل بن محمده مي د عبد الله بن محمد په اړه پوښتنه وکړه نو ويې ويل: امام او حافظ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقال عبد الغافر بن إسماعيل : كان أبو إسماعيل الأنصاري على حظ تام من معرفة العربية والحديث والتواريخ والأنساب ، إماما كاملا في التفسير.

ژباړه: عبد الغافر بن اسماعيل ویل: اسماعیل الانصاري په عربیت، حدیث پوهنه، تاریخ او نسب کې ښه پوره علم در لود او په تفسیر کې خو بشپړ امام وو.

لیکنې او کړاوونه:-

امام ته د وخت جابرانو د خپل علم او غوره ایمان له امله تکلفیونه ور کول، نوموړي به خپل اعتقاد په ډاګه اعلاناوی، یو عالم یې په اړه کاږي:

قال شيخ الإسلام في "ذم الكلام" ، في أوله عقيب حديث الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ ونزولها بعرفة : سمعت أحمد بن الحسن بن محمد البزاز الفقيه الحنبلي الرازي في داره بالري يقول : كل ما أحدث بعد نزول هذه الآية فهو فضلة وزيادة وبدعة.

ژباړه: شیخ الاسلام د « ذم الکلام » په لومړي سر کې د « الیوم اکملت لکم دینکم » تر حدیث او د دې ایت چې پر عرفه نازل شوی وروسته لیکې: له احمد بن الحسن بن محمد البزاز چې حنبلي فقیه وو په رې ښار کې د ده پر کور واورېدل ویل یې: د دې ایت تر نزول وروسته چې هر څه پېښېږي هغه فضله، زیادت او بدعت دئ.

له دې په ډاګه کې کېږي چې نوموړي یوازې قران او سنت ته عقیده در لوده او نور شیان یې په دین نه ور ګڼول، دا عقیده چې هر چا ساتلې نو ډېرو خلګو ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره کلک مخالفت کړی او په لار کې یې ډېر خنډونه ورته اچولي.

مورخینو د ده په اړه لیکلي چې پنځه کتابونه یې لیکلي او نومونه یې په دې ډول نقل شوي:

١ ) ذم الکلام

٢ ) الاربعین د توحید په اړه

٣ ) او یو بل الاربعین د سنتو په اړه

۴ ) منازل السائرین

۵ ) او د امام احمد سیرت ځکه نوموړی په فقهي فروعو کې د ده په مذهب وو.

البته د «الفاروق » په نوم یې د حدیثو یو بل کتاب هم شته چې نه پوهېږم د اولني دویم نوم به وي که بېل کتاب دئ؟، په دې کې نوموړي د الله پر عرش د استوا په اړه سخت دریځ غوره کړی او ډېر دلائل یې راوړي چې الله پر عرش دئ، ان که به څوک له دې منکر وو نو ده پر هغه چا لعنت وایه چې د الله له استوا به یې انکار کاوه. نوموړی په اخیر کې له خپل ښار څخه هجرت ته اړ شو.

مړینه:-

نوموړی امام د ( ۸۴ ) کالو او یو څو میاشتو په عمر په ذی الحجه کې د ( ۴۸۱ هـ) پر مهال ومړ.

مراجع:-


١ ) طبقات الحفاظ مخ/۴۴٠

٢ ) تذکرة الحفاظ ٣/١١٨٣

٣ ) طبقات المفسرین ١/٢۵۵

۴ ) طبقات المفسرین للسیوطي مخ/٢۵

۵ ) سیر اعلام النبلاء ١٨/۵٠٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ ) شذرات الذهب ۳/۳۶۵
۷ ) الوافي بالوفيات ۱۷/۵۹۷
۸ ) التقييد لمعرفة رواة السنن والمسانيد د ( ۳۸۶ ) راوي پېژندنه
۹ ) دمية القصر ۲ / ۸۸۸
۱۰ ) طبقات الحنابلة ۲ / ۲۴۷ - ۲۴۸
۱۱ ) المنتظم ۹ / ۴۴ - ۴۵
۱۲ ) الكامل ۱۰ / ۱۶۸ - ۱۶۹
۱۳ ) دول الإسلام ۲ / ۱۰
۱۴ ) العبر ۳ / ۲۹۷ - ۲۹۸
۱۵ ) تذكرة الحفاظ ۳ / ۱۱۸۳ - ۱۱۹۱
۱۶ ) البداية والنهاية ۱۲ / ۱۳۵
۱۷ ) النجوم الزاهرة ۵ / ۱۲۷
۱۸ ) طبقات الحفاظ: ۴۴۱ - ۴۴۲
۱۹ ) طبقات المفسرين للداوودي ۱ / ۲۴۹ - ۲۵۰
۲۰ ) طبقات المفسرين للادنه وي(۱۷۴) كس معرفي: ۱/۱۳۷
۲۱ ) تاريخ الخميس ۲ / ۳۶۰
۲۲ ) كشف الظنون ۱ / ۵۶، ۴۲۰، ۸۲۸، و۲ / ۱۸۲۸، ۱۸۳۶
۲۳ ) شذرات الذهب ۳ / ۳۶۵ - ۳۶۶
۲۴ ) إيضاح المكنون ۱ / ۳۱۰ و۲ / ۱۱۸
۲۵ ) هدية العارفين ۱ / ۴۵۲ – ۴۵۳
۲۶ ) الرسالة المستطرفة: ۴۵
۲۷ ) طبقات السبكي ۴ / ۲۷۲ - ۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ( ۱۶) عبد الله بن سليمان بن اشعث السجستاني

لنډه پېژندنه:-

ابــو بكــر عبــد الله ســتر علمــي شخصــيت، د افغانسـتان وتلـى محـدث او مفسر، د نبـوي حـديثو پـه ننګه يې له خپل پلار امام ابـو داؤد سره ستر سـفرونه كړي، يو شمېر ليكنې يې كړې چې زياتره يې پر همدې حديثي او تفسيري فن راڅرخي.

مورخانو يې د نسب لړۍ په دې ډول ذكر كړې:

عبـد اللّـه بـن سـليمان بـن الأشـعث بـن إسـحاق بـن بشير بن شداد بن عمرو بن عمران أبو بكر بن أبِي داود الأزدي السجستاني.

زوكړه:-

نوموړى امام د دوه سوه دېرش (۲۳۰هـ) پـر مهـال زېږيدلى دئ، نوموړى د خپلې زوكړې په اړه وايي:

**أَخْبَرَنِـي الطنـاجيري، قَـالَ: حَـدَّثَنَا عمـر بـن أَحْمَـد الواعظ، قَالَ: سمعت عبد اللَّه بن سليمان بن الأشعث، يَقُول: ولدت سنة ثلاثين ومائتين.**

طناجيري له عمر بن احمد څخه نقل كړى ده ويـل چـې عبـد الله ويـل: زه د دوه سـوه دېرش پر مهال زېږدلى يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړې او سفرونه:-

عبد الله له خپل پلار سره زیاتو اسلامي ښارونو ته سفرونه وکړل، زده کړې یې وکړې، د وخت له پوهانو سره یې ملاقاتونه وکړل.

مورخین یې په اړه وایي:

رحل به أبوه من سجستان يطوف به شرقًا وغربًا، وسمعه من علماء ذلك الوقت، فسمع بخراسان، والجبال، أصبهان، وفارس، والبصرة، وبغداد، والكوفة، والمدينة، ومكة، والشام، ومصر، والجزيرة، والثغور واستوطن بغداد.

ژباړه: پلار یې له سجستانه ختیځ و لویدیځ ته بوتلی، د همدې وخت له علماؤ یې حدیث واورېدل، په خراسان، جبال، اصفهان، فارس، بصره، بغداد، کوفه، مدینه، مکه، شام، مصر، جزیره او ثغور کې یې زده کړې وکړې او بیا یې په بغداد کې هستوګنه غوره کړه.

عبد الله د خپلو زده کړو د پیل په اړه داسي وایي:

وأول ما كتبت سنة إحدى وأربعين عن مُحَمَّد بن أسلم الطوسي، وكان بطوس، وكان رجلًا صالِحًا وسر بي أبي لَما كتبت عنه، وقَالَ لي: أول ما كتبت كتبت عن رجل صالح.

ژباړه: ما په لومړي ځل د یوځلوېښت (یعني ۲۴۱هـ) پر مهال له محمد بن اسلم الطوسي څخه لیکل وکړل او هغه په طوس کې وو، دی ډېر نېک سړی وو، کله چې مي له ده لیکنه وکړه پلار بوتلم راته ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـومړۍ ليکنـه دي لـه نيـک او صـالح سـړي وکړه.

استاذان او شاګران:-

د اسلامي نړۍ دومره ښارونو ته د ورتګ پر مهال نوموړي له ډېرو علماوو د پوهي لاس ته راوړلو ویاړ تر لاسه کړی، حديث يې ترې ويلـي او لـه دې سره اړونـد علـوم يـې تـرې لـاس تـه راوړي، د مشـهورو اسـتاذانو نومونه يې په دې ډول دي:

علي بن خشرم الْمَرْوَزِيّ، أَبو داود سليمان بن معبد السنجي، سلمة بن شبيب، مُحَمَّد بـن يَحْيَـى الـذهلي، أَحْمَـد بـن الـأزهر النيسـابوري، إسـحاق بـن منصـور الكوسـج، مُحَمَّـد بـن بشـار بنـدار، مُحَمَّـد بـن المثنـى، عمـرو بـن علـي، نصـر بـن علـي، إسـحاق بْـنُ إِبْـرَاهِيمَ النهشلي، زياد بن أيوب، مُحَمَّد بن عبد اللّٰه المخرمـي، يعقوب الدورقي، يوسف بـن موسى القطـان، عبـاد بـن يعقوب الرواجني، أبو سعيد الأشج، مُحَمَّد بـن مصـفى الحمصي، المسيب بن واضح السلمي، علـي بـن حـرب الموصلي، عيسى بن حماد زغبـة، أَحْمَـد بـن صـالح، أبـو طاهر بن السرح، مُحَمَّد بـن سـلمة المـرادي، أبـو الربيـع الرشديني.

څه وخت چې يې د زده کړو لړۍ ودروله او نورو تـه يـې د ترلاسـه شـوي علـم انتقـال پيـل کـړ، نـو ډېـر زده کوونکې يې په وړانـدي را غونـډ شـول، پـه لويـه پيمانـه شـاګردان يـې د تـدريس پـه حلقـه کـې کښېنسـتل، د اسـلامي دنيـا ډېـری علمـي مينـه وال لـه دې چېنـې د خپلې تندې د ماتولو لپاره را وړاندي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یې د شاګرانو ټول نوملړ ولیکل شي نو زیاتوب به یې د لوستونکو د ستومانۍ سبب شي، یوازي د څو مشهورو شاګردانو په یادولو یې بسنه کوم:

أبو بكر بن مُجاهد المقرئ، عبد الباقي بن قانع، دعلج بن أَحْمَد، عبد العزيز بن مُحَمَّد بن الواثق باللَّه، أبو بكر الشافعي، مُحَمَّد بن إِسْمَاعِيل الوراق، مُحَمَّد بن عبد اللَّه بن الشخير، أبو عمر بن حيويه، أبو بكر بن شاذان، الدارقطني، ابن شاهين، أبو القاسم بن حبابة، مُحَمَّد بن عبد الرحمن المخلص، عيسى بن الوزير او نور...

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

له ابو حامد بن الاسد څخه د ده په اړه نقل شوی:

أَخْبَرَنَا عبيد اللَّه بن عمر المروروذي، قَالَ: حَدَّثَنَا أبي، قَالَ: سمعت أبا حامد بن أسد المكتب، يَقُول: ما رأيت مثل عبد اللَّه بن سليمان بن الأشعث، يعني في العلم وذكر كلامًا كثيرًا ما ضبطته، إلا إِبْرَاهِيم الحربي وأحسب أنه قَالَ: ما رأيت بعد إِبْرَاهِيم الحربي مثله، أو كلامًا يشبه هذا.

ژباړه: عبید الله ویل ما ته مي پلار بیان وکړ چې له ابو حامده مي واورېدل ویل یې: د عبد الله بن سلیمان په شان علمي شخصیت مي نه دئ لیدلی، ده زیاتې خبرې وکړې ما یادې نه کړې مګر ابراهیم حربي ګومان کوم ویې ویل: تر ابراهیم الحربي وروسته مي د ده په شان کس نه دئ لیدلی او یا دې ته ورته خبرې.

امام خطیب بغدادي یې په اړه داسي نقلوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَخْبَرَنَـا أبـو منصـور مُحَمَّـد بـن عيسـى الهمـذاني، قَالَ: حَدَّثَنَا أبو الفضل صـالِح بـن أَحْمَـد الحـافظ، قَـالَ: أبو بكر عبد اللَّه بن سليمان إمـام العـراق، وعلـم العلـم في الأمصار، نصب لـه السلطان المنبـر فحـدث عليـه لفضله ومعرفته، وحدث ديمًا قبـل التسـعين ومـائتين، قدم همـذان سـنة نيـف وثمـانين ومـائتين، وكتـب عنـه عامة مشايخ بلدنا ذلك الوقت، وكان في وقته بالعراق مشايخ أسند منه، ولم يبلغوا في الآلة والإتقان مـا بلـغ هو.

ژباړه: ابو منصور ويل ما ته ابـو الفضـل صـالح بيـان وكـړ چـې ابـو بكـر عبـد الله بـن سليمان د عراق امام وو، ښارونو ته يې پـوه ور وړه، پاچـا د ده د فضـل او غـوراوي لـه امله منبر ورته كېښود او ده پـرې بيـان وكـړ، تر دوه سوه نوي(۲۹۰ هـ) مخكې يې حـديث بيان كړل، همـذان تـه تـر دوه سـوه اتيـا ليـږ مخكـې راغـى او د دې وخـت مشـايخو تـرې ليكنې وكړې، د ده پر مهال په عراق كـې تـر ده باوري مشايخ ول، خو په تقـوا او غـوراوي كې د ده ځاى ته نه وو رسېدلي.

بيا هم خطيب ليكې:

سمعت الْحَسَن بن مُحَمَّد الخلال، يَقُول: كان أبو بكر بن أبي داود أحفظ من أبيه.

ژباړه: له حسن بن محمد الخلال څخـه مـي واوريـدل ويـل يـې: ابـو بكـر تـر خپـل پلـار ابوداؤد په حافظه كې زيات وو.

له امام دارقطني څخه نقل شوى:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذكر أبو عبد الرحمن السلمي أنه سأل الدارقطني، عن أَبِي بكر بن أَبِي داود، فَقَالَ: ثقة إلا أنه كثير الخطأ في الكلام على الحديث.

ژباړه: ابو عبد الرحمن السلمي ويل له دارقطني مي د ابو بكر بن ابى داؤد په اړه وپوښتل نو ويې ويل: باورى دئ خو پر احاديثو په كلام كې ډېر تېروتى.

په تاريخ بغداد او نورو كې د ده په اړه ليكل شوي دي:

من كبار حفاظ الحديث. له تصانيف. كان إمام أهل العراق، وعمي في آخر عمره. ولد بسجستان، ورحل مع أبيه رحلة طويلة، وشاركه في شيوخه بمصر والشام وغيرهما، واستقر وتوفي ببغداد.

ژباړه: د حديثو له سترو حافظانو څخه وو، زياتې ليكنې يې كړې، د عراقيانو امام وو، په وروستي عمر كې ړوند شوى، په سجستان كې پيدا شوى او له خپل پلار سره يې اوږده سفرونه كړي، د مصر او شام دواړو په استاذانو كې ور سره شريک دئ، په بغداد كې اوسېدلى او هملته مړ شوى دئ.

## ليكنې:-

نوموړي امام په يو شمېر فنونو كې ليكنې كړې او اسلامي امت ته يې د خپلو ګټورو ليكنو يوه غوره او ګټوره زېرمه په مېراث پرې اېښې، مورخين يې د لاندي كتابونو نوملړ يادوي:

١) المصاحف
٢) المسند

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ) السنن
۴ ) التفسير
۵ ) القرآآت
۶ ) الناسخ والمنسوخ

خطيب يې په اړه ليکي:

وصنف المسند، والسنن، والتفسير، والقراءات، والناسخ والمنسوخ، وغير ذلك وكان فهمًا عالِمًا حافظًا.

ده مسند، سنن، تفسير، قراءات، د ناسخ و منسوخ او نورو په اړه ليکنې کړې، هوښيار، پوه او د حديثو حافظ وو.

اولادونه:-

امام خطيب بغدادي يې د نورو معلوماتو تر وړاندي کولو وروسته د اولادونو په اړه هم مختصر څه ليکلي دي:

وخلف ثمانية أولاد أَبُو داود ومحمد وأبو معمر وعبيد الله وأبو أَحْمَد عبد الأعلى وخمس بْنات أكبر هن فاطمة وحدثت.

ژباړه: شا ته يې اته اولادونه ايله کړل، ابو داؤد محمد، ابو معمر عبيد الله، ابو احمد عبد الاعلى او پنځه لوڼې چې مشره يې فاطمه وه او له ده يې روايات هم کړي دي.

مړينه:-

نوموړی د درې سوه شپاړلس (۳۱۶هـ) د ذي الحجې پر دولس يا اتلس تاريخ وفات شوی، دا مهال يې عمر (۸۷) کاله وو.

خطيب بغدادي ليکې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَخْبَرَنَا القاضي أبو بكر مُحَمَّد بن عمر الداودي، قال: أَخْبَرَنَا مُحَمَّد بن عبد الله بن الفتح بن الشخير الصيرفي، قَالَ: مات أبو بكر بن أَبِي داود يوم الأحد لاثنتي عشرة بقيت من ذي الحجة من سنة ست عشرة وثلاث مائة، وصلى عليه مطلب صاحب الصلاة، ومات وهو ابن سبع وثَمانين سنة قد مضى له منها ثلاثة أشهر، ودفن في مقبرة باب البستان، وصلى عليه زهاء ثلاث مائة ألف إنسان وأكثر، وصلي عليه في أربعة مواضع، وأخرج صلاة الغداة، ودفن بعد صلاة الظهر.

ژباړه: قاضي ابو بکر محمد بن عمر ویل چې محمد بن عبد الله بن الفتح خبر راکړ ویل یې چې ابو بکر بن ابي داؤد د پیلنی د ذي الحجې پر دولس تاریخ ومړ چې درې سوه شپاړس سنه وه. لمنځونو ته ټاکلي امام مطلب الهاشمي پرې لمونځ وکړ دا مهال یې عمر (۸۷) کاله وو چې درې میاشتې یې تېري شوې وې، د باب بستان په هدیره کې ښخ شو او له درې لکو څخه زیاتو انسانانو پرې د جنازې لمونځ وکړ، د جنازې لمونځ یې څلور ځایه وشو، سهار یې جنازه وایستل شوه او ماپښین تر لمانځه وروسته ښخ کړل شو.

مراجع:-

د تفصیلي پېژندنې لپاره یې دې کتابونو ته رجوع کولای شئ:

۱ ) تذکرة ۲: ۲۹۸

۲ ) الوفیات ۱: ۲۱۴ د ده د پلار په پېژندنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ ) غاية النهاية ١: ٤٢٠
٤ ) ميزان الاعتدال ٢: ٤٣
٥ ) ابن عساكر ٧: ٤٣٩
٦ ) لسان الميزان ٣: ٢٩٣
٧ ) تاريخ بغداد(٥٠٩٥) كس معرفي ٩: ٤٧١
٨ ) طبقات الحنابلة ٢: ٥١
٩ ) المنتظم، لابن الجوزي ٢٧٥/٣
١٠ ) تاريخ أصبهان ٦٦/٢
١١ ) طبقات العبادي ٦٠
١٢ ) الفهرست ٣٢
١٣ ) وفيات الأعيان ٢١٤/١
١٤ ) الرسالة المستطرفة ٤٦
١٥ ) طبقات السبكي ٣٠٧/٣
١٦ ) طبقات ابن الجزري ٤٢٠/١
١٧ ) الأعلام ٩١/٤
١٨ ) شذرات الذهب ٢٧٣/٢
١٩ ) مرآة الجنان ٢٦٩/٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ١٧) ابو ذر عبد بن احمد الهروي

لنډه پېژندنه:-

ابو ذر د هرات له نوموتو پوهانو او ليکوالو علماؤ څخه ګڼل کېدی، له مستملي، الحموي او کهشماني هر يوه څخه يې په حرم کې صحيح روايت کړی، نوموړی ثقه راوي، ستر محدث، غوره ليکوال او د يو شمېر کتابونو مصنف هم دئ، مورخين يې د نسب لړی په دې ډول راوړي:

الحافظ الإمام المجود، العلامة، شيخ الحرم، أبو ذر، عبد بن أحمد بن محمد بن عبد الله بن غفير بن محمد، المعروف ببلده بابن السماك، الأنصاري الخراساني الهروي المالكي، صاحب التصانيف.

دی په فقهي تګلاره کې د امام مالک پلوی وو ځکه يې مالکې بولي، خراسان د همدې سيمې پخوانی نوم دئ له دې امله خراساني هم دئ او د هرات اوسېدونکی دئ ځکه يې نو نسبت هرات ته کېږي.

زوکړه:-

ده په خپلو ليکنو د خپل پيدائښت په اړه هم ليکلي دي:

ولدت سنة خمس أو ست وخمسين وثلاث مائة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په درې سوه پنځه يا شپږ پنځوست کې پيدا شوی يم.

زده کړه، استاذان او شاګردان:-

نوموړي له ماشومتوبه زده کړو ته مخه کړه، اول يې د هرات پر ځينو استاذانو زده کړې وکړې او وروسته يې د اسلامي نړۍ نورو ښارونو ته هم سفرونه وکړل، بلخ، بغداد، دمشق، سرخس، مکه، بصره او نور ښارونه يې د علم په موخه ولټول، په هرات کې يې له دې استاذانو زده کړې وکړې:

ابو الفضل محمد بن عبد الله بن خميرويه، بشر بن محمد المزني او نور...

په بغدا کې:

عبيد الله بن عبد الرحمن الزهري، أبو عمر بن حيويه، علي بن عمر السكري، أبو الحسن الدارقطني او نور...

په بصره کې:

أبو بکر هلال بن محمد بن محمد، شيبان بن محمد الضبعي بالبصرة او نور...

په دمشق کې:

وعبد الوهاب الکلابي او نور...

په مصر کې:

أبو مسلم الکاتب او د ده له امثالو...

په سرخس کې:

زاهر بن أحمد الفقيه.

په بلخ کې:

أبو إسحاق إبراهيم بن أحمد المستملي.

په مکه کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أبـو إسـحاق إبـراهيم بـن محمد بـن أحمـد بـن عثمـان الدينوري او نور...

وألـف "معجمـا" لشـيوخه ، وحـدث بخراسـان وبغداد والحرم.

ژبـاړه: د خپلـو اسـتاذانو پـر نومونـو يـې معجـم وليکـه او پـه خراسـان، بغـداد و حـرم کې يې حديث بيان کړي.

د تدريس پـر مهـال دې شـاګردانو تـرې خپلـه علمـي تنده خړوبه کړه:

زوی يــې أبــو مکتــوم عيســی، موســی بــن علــي الصـقلي، علـي بـن محمد بـن أبـي الهـول، القاضـي أبـو الوليد الباجي، أبو عمران موسی بن أبـي حـاج الفارسي، أبو العباس بن دلهاث، محمد بن شريح، أبـو عبـد الله بـن منظور، عبد الله بن الحسـن التنيسي، أبـو صـالح أحمـد بن عبد الملك المؤذن، علي بن بكار الصوري، أحمد بن محمد القزويني، أبو الطاهر إسماعيل بن سعيد النحوي، عبـد الله بـن سـعيد الشـنتجالي, عبـد الحـق بـن هـارون السهمي، أبو الحسين بن المهتدي بالله، علـي بـن عبـد الغالب البغـدادي، أبـو بكـر أحمـد بـن علـي الطريشيـي، أبو شاكر أحمد بن علي العثمانی.

په اجازه بيا دې پوهانو ترې نقل کړی:

أبو عمـر بن عبــد البر، أبو بكر الخطيـــب، أحمد بن عبـد القـادر اليوسـفي، أبـو عبـد الله أحمـد بـن محمد بـن غلبون الخولاني.

د ده په اړه د پوهانو ويناوې:-

قال عبد الغافر بن إسماعيل في "تاريخ نيسـابور" : كـان أبـو ذر زاهدا ، ورعـا عالمـا ، سـخيا لا يـدخر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيئا ، وصار من كبار مشيخة الحرم ، خرّج على "الصحيحين" تخريجا حسنا ، وكان حافظا ، كثير الشيوخ.

ژباړه: عبد الغافر بن اسماعيل د نيشاپور په تاريخ کې وايي: ابو ذر زاهد، متقي، پوه، سخي چې هيڅ يې نه زيرمه کول، د حرم له سترو شيخانو وو، پر صحيحينو يې غوره تخريج کړی، حافظ او له ډېرو شيخانو يې زده کړې کړې.

قال أبو بكر الخطيب : قدم أبو ذر بغداد ، وحدث بها وأنا غائب ، وخرج إلى مكة ، وجاور ، ثم تزوج في العرب ، وأقام بالسروات ، فكان يحج كل عام ، ويحدث ، ثم يرجع إلى أهله ، وكان ثقة ضابطا دينا.

ژباړه: خطيب بغدادي وايي: ابو ذر بغداد ته راغی او حديث يې بيان کړل خو زه ترې وتلی وم، بيا مکې ته ولاړ او هلته واوسېدی، بيا يې په عربو کې نکاح وکړه او سروات کې يې هستوګنه غوره کړه، هر کال به يې حج کاوه او حديث به يې بيانول بيا به خپل کور ته راګرزېدی، دی باوري، ساتونکی او د ديانت خاوند وو.

د ترتيب المدارک ليکوال وايي:

كان رحمه الله، مالكي المذهب، إماماً في الحديث حافظاً له، ثقة ثبتاً.

دی مالکي مذهبه، په حديثو کې امام او حافظ وو، د ثقاهت او ثبت مرتبه يې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکنې:-

قاضي عياض يې د کتابونو نوملړ په دې ډول بيانوي:

١) مستدرك على الصحيحين
٢) السنة
٣) الجامع
۴) الدعاء
۵) فضائل القرآن
۶) دلائل النبوة
٧) شهادة الزور
٨) العيدين
٩) فضائل مالك
١٠) الصحيح المسند المخرج على الصحيحين
١١) مسانيد الموطأ
١٢) كرامات الأولياء
١٣) المناسك
١۴) الربا
١۵) اليمين الفاجرة
١۶) مشيخته

خو له دې پرته دا کتابونه هم ده ته منسوب شوي:

١) كتاب الدواة
٢) كتاب القرآن - کېدای شي دا هم د فضايلو په اړه وي.
٣) كتاب فضائل يوم عاشوراء
۴) كتاب الرؤيا والمنامات
۵) كتاب بيعة العقبة
۶) حديث الجعرانة وخيبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ ) شهادة النبي وأصحابه
۸ ) ما روي في بسم الله الرحمن الرحيم

مړینه:-

نوموړي امام په ذي العقده کې د ( ۴۳۴ هـ) پر مهال له دې نړۍ سترګې پټې کړې، يو روايت د ( ۳۵ ) هم راغلی خو سهي ( ۳۴ ) دئ.

مراجع:-


۱) تاريخ بغداد ۱۱/ ۱۴۱
۲ ) والمنتظم لابن الجوزي ۱/ ۱۱۵
۳ ) والعبر ۳/ ۱۸۰
۴ ) وتذكرة الحفاظ ۳/ ترجمة ۹۹۷
۵ ) والنجوم الزاهرة لابن تغرى بردي ۵/ ۳۶
۶ ) وشذرات الذهب لابن العماد الحنبلي ۳/ ۲۵۴
۷ ) المنتظم لابن الجوزي ۲۸۷/۱۵
۸ ) سير أعلام النبلاء ۱۷ / ۵۵۹
۹ ) ترتيب المدارك وتقريب المسالک ابو ذر الهروي ۷/ ۲۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۱۸) امام عثمان بن سعيد الدارمي

### لنډه پېژندنه:-

امام سعيد ستر دين پوه، وتلی محدث، د حديثو په زده کړو او را غونډولو کې هڅاند او د افغانستان په لوېديځ کې د پراته ښار هرات اوسېدونکی وو، د نومړي د نسب سلسله مورخين داسي بيانوي:

الإمام الحافظ الناقد عثمان بن سعيد بن خالد بن سعيد التميمي الدارمي السجستاني، المكنى بأبي سعيد، صاحب "المسند" الکبير والتصانيف.

### زوکړه:-

نوموړی امام تر دوه سوه (۲۰۰ هـ) مخته زېږېدلی.

### زده کړې، استاذان او شاګردان:-

نومړی امام د زده کړو او نبوي حديثو د راټولولو په هدف په زياتو سفرونو مشهور دئ، مصر، عراق، حرمينو، شام، جزيره او نورو ډېرو سيمو ته يې اوږده او لنډ سفرونه کړي، د سيمو له سترو پوهانو يې زده کړې کړې او نبوي حديث يې ترې روايت کړي.

امام عثمان په سنتو کې امام او په مناظره کې رسېدلی وو، له ګڼو خلګو سره يې په ځينو مسايلو کې نظرياتي اختلاف در لود او د ځينو په رد کې يې د قلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څوکه کاغذ هم رنګولی چې د ليکنو په بحث کې به يې نومونه هم ياد کړو.

لنډه دا چې هروي د وخت وتلی امام او محدث وو، د خپل وخت له دوود سره سم يې هغه اړين علوم چې د يوه عالم لپاره يې ويل او لوست ضروري وو پر دې استاذانو ولوستل:

أبو اليمان، يحيى بن صالح الوحاظي، سعيد بن أبي مريم، مسلم بن إبراهيم، عبد الغفار بن داود الحراني، سليمان بن حرب، أبو سلمة التبوذكي، نعيم بن حماد، عبد الله بن صالح، د ليث کاتب، محمد بن كثير، مسدد بن مسرهد، أبوتوبة الحلبي، عبد الله بن رجاء الغداني، أبوجعفر النفيلي، أحمد بن حنبل، يحيى بن معين، علي بن المديني، إسحاق بن راهويه، فروة بن المغراء، أبوبكر بن أبي شيبة، يحيى الحماني، سهل بن بكار، أبوالربيع الزهراني، محمد بن المنهال، الهيثم بن خارجة.

يو مورخ د نومړي په اړه داسي کاږي:

> وتلقى علوم اللغة العربية على يد ابن الاعرابي (شيخ اللغويين والنحاة)، وعلم الفقه على المذهب الشافعي على يد أبي يعقوب البويطي، وعلم الحديث النبوي على يد يحيى بن معين وعلي بن المديني وأحمد بن حنبل وتقدم في هذه العلوم، وصار في كل منها إماماً. كما كان من أشهر رواة المسائل عن يحيى بن معين في علم الرجال.
>
> إشتهر بكثرة أسفاره، وسمع من علماء الحجاز والشام (مثل هشام بن عمار) ومصر (مثل نعيم بن حماد) والعراق وشبه الجزيرة العربية وبلاد العجم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: د عربي لغت علوم يې له ستر لغت پوه او نحوي ابن الاعرابي څخه ولوستل، له ابو يعقوب البويطي څخه يې شافعي فقه زده کړه، نبوي حديث يې له يحيى بن معين، على بن المديني او امام احمد بن حنبل څخه زده کړل او په دې کې ښه وځلېدى او په دې هر فن کې امام شو لکه چې له ابن معين څخه يې د حديثي راويانو په اړه د هغه اقوال نقل کړي.

په زياتو سفرونو مشهور شو، د حجاز او شام لويو پوهانو يې حديث واورېدل لکه هشام او عمار، همدارنګه د مصر لکه نعيم بن حماد، عراق، عربي جزيره او د عجمو نور ښارونه.

نومړى محدث د علم او عمل يوه ژوندۍ بېلګه وه، له همدې امله يې له بدعتيانو ډېر نفرت کېدى، د ده په اړه مورخين وايي چې د کراميه په شان ډلو څخه يې چې په دين کې يې بدعات ايجادول سخت بد وړل، يو مورخ ليکي:

كما عرف بشدته على الكرامية، فهو الذي قام وأنكر عليهم حتى طرد محمد بن كرام -رأس الكرامية- من مدينة هراة.

دى پر کراميه وو ډېر سخت وو، ده يې مقابله وکړه او نيوکې يې پرې وکړې؛ ان محمد بن کرام چې د کراميه وو مشر وو له هراته وشاړى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې له زده کړو فارغ شو، د زده کړي علم د انتقال چاره يې پيل کړه نو د اسلامي نړۍ له هر لوري د علم مينه وال ور ته را مات شول، د علمي ډېوې پتنګانو خپل همدې هدف ته په راتلو کې تلوار کاوه او په لږ وخت کې يې شهرت د اسلامي نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېد، د شاګردانو په لړ کې يې د مشهورو نومونه په دې ډول دي:

أبو عمرو أحمد بن محمد الحيري، محمد بن إبراهيم الصرام، مؤمل بن الحسين، أحمد بن محمد بن الأزهر، محمد بن يوسف الهروي، أبو إسحاق بن ياسين، محمد بن إسحاق الهروي أحمد بن محمد بن عبدوس الطرائفي، أبو النضر محمد بن محمد الطوسي الفقيه، حامد الرفاء، أحمد بن محمد العنبري، أبو الفضل يعقوب القراب، و خلق كثير من أهل هراة، وأهل نيسابور.

يعني په ټوله کې د هرات او نيشاپور زياتو پوهانو ترې ګټه پورته کړې.

د ده ليکنې، په اړه يې د پوهانو ويناوې او د حديثو په کتابونو کې يې روايات:-

قال عنه ابن حبان في كتابه الثقات: "إمام من أئمة الدنيا"، وروى له ابن حبان حديثاً في صحيحه، كما روى عنه الحاكم النيسابوري في "المستدرك على الصحيحين" والبيهقي في سننه العديد من الأحاديث.

ژباړه: په کتاب الثقات کې ابن حبان ليکي: د نړۍ له امامانو يو امام دئ. ابن حبان په خپل صحيح کې ترې يو روايت کړی، لکه چې امام حاکم په خپل مستدرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



على الصحيحين او بيهقي په خپل سنن کې ترې يو شمېر روايات کړي.
د ليکنو په اړه يې داسي کښل شوي:

صنف كتاب "المسند الكبير" (المعروف بمسند الدارمي هذا غير "مسند الدارمي" المشهور الذي صاحبه هو أبو محمد عبد الله الدارمي) كما صنف كتاباً في الرد على بشر المريسي اسمه نقض عثمان بن سعيد على المريسي الجهمي العنيد فيما افترى على الله في التوحيد، والمشهور باسم "النقض على المريسي" أو "نقض الدارمي"، كما صنف كتاب الرد على الجهمية، للرد على تلك الفرقة المعروفة.

يو ستر مسند چې (د مسند الدارمي په نوم مشهور دئ ليکلی داله هغه مشهور مسند الدارمي چې ابو محمد عبد الله الدارمي ليکلی بېل دئ) او يو بل کتاب يې د بشر المريسی په رد کې چې نوم يې « نقض عثمان بن سعيد على المريسي الجمهي العنيد فيما افترى على الله فى التوحيد» دئ ليکلی، خو په نقض المريسي او يا نقض الدارمي مشهور دئ همدارنګه يې بل کتاب د مشهورې ډلې جهميه پر رد کې د الرد على الجهمية په نوم ليکلی دئ.
قال الحاكم : سمعت محمد بن العباس الضبي , سمعت أبا الفضل يعقوب بن إسحاق القراب يقول : ما رأينا مثل عثمان بن سعيد.
امام حاکم ويل له محمد بن العباس الضبي څخه مي واورېدل ده ويل له ابو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفضل يعقوب بن اسحاق څخه مي واورېدل ويل يې: ما د عثمان بن سعيد په شان څوک نه دئ ليدلی.

وقال أبو حامد الأعمشي : ما رأيت في المحدثين مثل محمد بن يحيى وعثمان بن سعيد , ويعقوب الفسوي.

ابو حامد الاعمشي ويل: ما په محدثينو کې د محمد بن يحيی، عثمان بن سعيد او يعقوب الفسوي په شان کسان نه دي ليدلي.

وقال أبو عبد الله بن أبي ذهل : قلت لأبي الفضل القراب : هل رأيت أفضل من عثمان بن سعيد الدارمي ؟ فأطرق ساعة , ثم قال : نعم , إبراهيم الحربي , وقد كنا في مجلس الدارمي غير مرة , ومر به الأمير عمرو بن الليث , فسلم عليه , فقال : وعليكم , حدثنا مسدد . . . . ولم يزد على رد السلام.

ابو عبد الله بن ابی ذهل ويل ما ابو الفضل القراب ته وويل: ايا د عثمان بن سعيد الدارمي په شان کس دي ليدلی؟ لږ وخت چوپ شو بيا يې وويل: هو! ابراهيم الحربي، موږ تر څوځلې د دارمي په مجلس کې وو هلته به امير عمرو بن الليث تير شو سلام به يې ورته وکړ ده به ورته ويل: وعليكم، موږ ته مسدد حديث بيان کړ او يوازي يې سلام ځواباوی.

قال عثمان بن سعيد : من لم يجمع حديث شعبة وسفيان ومالك , وحماد بن زيد , وسفيان ابن عيينة , فهو مفلس في الحديث -يريد أنه ما بلغ درجة الحفاظ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان بن سعيد ويل: څوک چې د شعبه، سفيان، مالک، حماد بن زيد او سفيان بن عيينه حديث را غونډ نه کړي هغه په حديثو کې مفلس دئ، يعني په حديثو کې د حفظ درجې ته نه شي رسېدلای.

بيا وايي:

وبلا ريب , أن من جمع علم هؤلاء الخمسة , وأحاط بسائر حديثهم , وكتبه عاليا ونازلا , وفهم علله , فقد أحاط بشطر السنة النبوية , بل بأكثر من ذلك.

له شک پرته که چا د دې پنځو علم يوځای کړ او د دوئ پر ټولو احاديثو يې احاطه وکړه عالي او نازل يې نويشته کړل د حديثو علل يې وپېژندل نو هغه پر نيمايي سنتو احاطه وکړه بلکې تر دې هم پر زياتو.

قال محمد بن إبراهيم الصرام : سمعت عثمان بن سعيد يقول : لا نكيف هذه الصفات , ولا نكذب بها , ولا نفسرها.

محمد بن ابراهيم الصرام ويل له عثمان بن سعيد څخه مي واورېدل ويل يې: نه موږ د دې(الهي) صفاتو کيفيت بيانوو، نه يې دروغ ګڼو او نه يې تفسير وو.

ومن كلام عثمان -رحمه الله- في كتاب" النقض" له : اتفقت الكلمة من المسلمين أن الله -تعالى- فوق عرشه , فوق سماواته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عثمـان رحمـه الله پـه الـنقض نـومي کتاب کې خپله وينا ده: ټول مسلمانانو په يـوه خولـه دي چـې الله پـر عـرش لـوړ او تـر اسمانو هم لوړ دئ.

وقال الحسن بن صاحب الشاشي : سألت أبا داود السجستاني عن عثمان بن سعيد , فقال : منه تعلمنا الحديث.

حسـن بـن صـاحب الشاشـي ويـل لـه ابـو داؤد السجسـتاني مـي د عثمـان بـن سـعيد په اړه پوښتنه وکړه، نـو وې ويـل: لـه همـده مو حديث زده کړي.

مړينه:-

نوموړی امام په دوه سوه اتيا (۲۸۰ هـ) کـې لـه دې نړۍ وکوچېد.

مراجع:-

د لـا زيـاتو تفصـيلاتو لپـاره دې کتـابونو تـه رجـوع کولای شئ:

۱ ) سير أعلام النبلاء (۱۳ /۳۱۹)
۲ ) تاريخ مدينة دمشق لابن عساكر (۳۸ /۳۶۱)
۳ ) الجرح والتعديل لابن أبي حاتم (۶ /۱۵۳)
۴ ) الثقات لابن حبان (۴۵۵/۸)
۵ ) عقيـدة السـلف وأصـحاب الحـديث للصـابوني/ تحقيق: أبو اليمين المنصوري (ص۱۱۲-۱۱۳)
۶ ) طبقات الشافعية الكبرى (۲ /۳۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۱۹) علامه ملا علي قاري

### لنډه پېژندنه:-

ملا علي قارى د هرات وتلى محدث، مذهب يې حنفي، د ډېرو كتابونو ليكوال، غوره قاري چې له همدې امله ورته قاري يا هم په ځينو مواضعو كې مقرئ ويل شوي دي، تاريخ پوهانو يې د نسب سلسله داسي ښودلې ده:

الامام، المحدث، المفسر، الفقيه، المقرئ نور الدين ابو الحسن على بن سلطان محمد القارئ الهروي المكې چې په ملا على قاري شهرت لري.

قاري يې ځكه بولي چې په علم القراءت كې يې ښه مهارت درلود، له همدې كبله يې ځيني وختونه په ليكنو كې د قاري پر ځاى مقرئ هم ليكلى وي، هروي يې له دې امله بولي چې د افغانستان په لوېديځ كې مشهور ښار هرات ته يې نسبت كېږي او نوموړى د دې ښار اوسېدونكى وو، مكې ته يې ځكه نسبت شوى چې هلته اوسېدى او هملته وفات شوى دئ.

### زوكړه:-

نوموړى امام په هرات ښار كې د نهه سوه دېرش (۹۳۰ هـ) پر مهال زېږېدلى دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړه او سفرونه:-

ملا علي قاري په همدې ښار کې ستر شوی، دلته يې لومړۍ زده کړې کړې او قران يې هم حفظ کړی وو، علم تجويد يې د هرات ښار له مشهور مقرئ معين الدين بن الحافظ زين الدين الهروي څخه لوستی وو، اولنۍ زده کړې يې د خپل وخت پر سترو ښوونکو وکړې او بيا يې د عالي تحصيلاتو لپاره مکې مکرمې ته سفر وکړ.

نوموړي په مکه کې د سترو علماؤ له حلقوي غونډو ښه استفاده وکړه، هلته له شته علماؤ يې خپله ديني تنده خړوبه کړه، مکه د وخت علمي مرکز وو له دې امله امام هم بل لور ته سفر ونه کړ، په همدې ځای کې له عالي زده کړو فارغ او همدلته يې د ليکنو او نورو ته د زده کړو لړۍ هم پيل کړې ده.

نوموړي په مکه کې د هستوګنې پر مهال دا ليکنې کړې:

۱) فتح باب العنايه بشرح النقاية په (۱۰۰۳) هجري کې.

۲) په (۱۰۰۶) هجري کې د شرح شرح نخبة الفکر له تکملې هم فارغ شو.

۳ ) په (۱۰۰۸) کې يې مرقاة المفاتيح شرح مشکوة المصابيح شرح هم بشپړه کړه.

۴ ) په همدې کال کې يې جمع الوسائل فی شرح الشمائل هم وليکله.

۵ ) دارنګه له رفع الجُناح وخفض الجَناح باربعين حديثا فی فضل النکاح ليکنې څخه هم د ( ۱۰۱۰ هجري ) پر مهال وزګار شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ ) پـه (۱۰۱۱) هجـري کـې د الضـابطية للشـاطبية اللامية له ليکنې هم فارغ شو.

فقهي مذهب:-

په دې کې شک نه شته چې نومـوړی امـام حنفـي مذهبه وو، دا خبره په خپله امام په خپلو ليکنو کې ګڼ ځايونه کړې ده، لکه چې د « البسملة » په ( ۳۵ ) مخ کې ليکي:

وانا افقر عباد الله الغني المغنى على بن سلطان بن محمد الهروي القاري الحنفي.

دارنګه يې په مرقاة(۲/ ۵۰۵) کې ليکلي:

فان الفاتحة والسورة واجبتان فى مذهب ساداتنا الحنفية.

نوموړي د خپل ژوند پر مهال په ليکنو کـې د حنفـي مـذهب خـدمت هـم کـړی دئ، ښـې بيلګـي يـې « فـتح باب العناية بشرح النقاية، والاثمار الجنية فى اسماء الحنفية» ليکنې دي.

امـام د خپـل مـذهب د مسـائلو پـه اثبـات، تاييـد او ليکلو کې هم پوره ونډه اخيستې په دې ميدان کې يې غوره مثال د ده بـې جـوړې کتـاب « مرقـاة المفـاتيح » دئ.

استاذان:-

په خپل ښار هرات کـې چـې ده پـر کومـو اسـتاذانو زده کـړې کـړې د هغـو نومونـه نـه دي تـر لاسـه شـوي يـوازي د يـوه اسـتاذ نـوم چـې ده پـرې قـراءت لوسـتی نومـوړي پـه خپلـه رسـاله « شـم العـوارض فـی ذم الروافض » کې ياد کړی چې معين الدين نومېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام په مکه کې د مختلفو فنونو پر بېلا بېلو استاذانو زده کړې وکړې، چې د مشهورو نومونه یې دادي:

ابو العباس احمد بن محمد بن علی الهیتمي الشافعي، نوموړي ملا علی قاري په سترو القابو نازولی چې د ده پر ښه علمیت او ستر شان دلالت کوي.

یو شمېر لیکنې هم لري لکه « تحفة المحتاج فی شرح النهاج، والزواجر عن اقتراف الکبائر، الفتاوی الحدیثیة».

علاء الدین علي بن حسام الدین الهندي چې په علي المتقي الهندي شهرت لري، ملا علی قاري په مرقاة کې ښه ستایلی او ګڼې لیکنې لري چې مشهور تالیف یې کنز العمال دئ.

زین الدین عطیة بن علي بن حسن السلمي الشافعي ملا علي قاري په مرقاة کې په « عمدة المفسرین » لقب یاد کړی.

میر کلان محمد سعید الحنفي الخراساني ستر عالم او محدث وو.

عبد الله السندي الحنفي، غور او تکړه عالم وو؛ دا هم په مکه کې مړ شوی.

مفتي محمد بن علاء الدین مشهور په قطب الدین النهروالي الهندي الحنفي، په فقه، تفسیر، عربیت نظم او شعر کې یې لوی لاس در لود، د ملا علي قاري په وینا چې دا هم په مکه کې وفات شوی.

مشهور شاګردان:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل ښار هرات کې يې تدريس نه دئ کړی، البته په مکه کې ډېرو د علم مينه والو خپله علمي تنده پرې ماته کړه، په لاندي کرښو کې يې مشهور شاګردان يادوم:

محی الدين عبد القادر بن محمد بن يحيی الحسينی الطبري الشافعي المکې، د مکې امام او خطيب د يو شمېر ليکنو ليکوال لکه الاصداف السنية فی الاوصاف الحسينية، الايات المقصورة فی الابيات المقصوره، حسن السريره فی حسن السيرة او نور...

عبد الرحمن بن عيسی بن مرشد العمري المرشدي الحنفي د مسجد حرام خطيب او د احنافو مفتي، مشهور تاليفات يې براعة الاستهلال فيما يتعلق بالشهر والهلال، تعميم الفائده بتتميم السورة المائده، صفوة الراح من مختار الصحاح دي.

ابو عبد الله محمد بن عبد العظيم مشهور په محمد بن فروخ الموروي، د القول السديد فی بعض مسائل الاجتهاد والتقليد په نوم يې مشهوره رساله هم ليکلې.

زيات نور شاګردان يې هم شته چې په راوړلو يې ليکنه اوږدېږي.

ليکنې:-

نوموړي د تدريس تر څنګ د تاليف ميدان هم تش نه وو ايله کړی، په دې ميدان کې يې هم بې جوړې ليکنې کړې او نن هم ور څخه اسلامي نړۍ ګټه پورته کوي، يو شمېر ليکنو ته يې مورږ مخکې هم اشاره وکړه خو دلته به يې بيا هم د ده د ليکنو په نوملړ کې يادې کړو:

۱) الاثمار الجنية فی اسماء الحنفية

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢) الاحاديث القدسية والكلمات الانسية
٣) الادب فی رجب
٤) ادلة معتقد ابی حنيفة فی ابوی الرسول
٥) الاستدعاء فی الاستسقاء
٦) الاسرار المرفوعة فی الاخبار الموضوعة
٧) الاعتناء بحكم الغناء
٨) اعراب القاري على اول الابواب البخاري
٩) انوار الحُجج فی أسرار الحِجج
١٠) انوار القران و اسرار الفرقان
١١) بيان فعل الخير اذا دخل مكة مَن حج عن الغير
١٢) البينات فی بيان الايات
١٣) تبعيد العلماء عن تقريب الامراء
١٤) التجرين فی اعراب كلمة التوحيد وما يتعلق بمعناها من التمجيد
١٥) تخريج قراءات البيضاوي
١٦) التدهين للتزيين على وجه التبيين
١٧) تزيين العبارة لتحسين الاشاره
١٨) تسليم الاعمى عن بلية العَمى
١٩) التصريح فی شرح التسريح
٢٠) تطهير الطوية بتحسين النية
٢١) توضيح المباني شرح مختصر المنار
٢٢) جمع الوسائل فی شرح الشمائل
٢٣) حاشية الجمالين على تفسير الجلالين
٢٤) الحذر فی امر الخضر
٢٥) الحرز الثمين للحصن الحصين
٢٦) الحزب الاعظم والورد الافخم
٢٧) الحظ الاوفر فی الحج الاكبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸) الدرة المضية فى الزيارة المصطفوية الرضية
۲۹) الذخيرة فى رجاء المغفرة للكبير
۳۰) الرد على القائلين بوحدة الوجود
۳۱) رد الفصوص، المسمى : مرتبة الوجود ومنزلة الشهود
۳۲) رسالةٌ فى بيان افراد الصلاة عن السلام
۳۳) رفع الجُناح وخفض الجَناح
۳۴) الروضة البهية فى شرح احاديث القدسية الاربعينية
۳۵) سلالة الرسالة فى ذم الروافض من اهل الضلالة
۳۶) شرح رسالة الفاظ الكفر لبدر الرشيد
۳۷) شرح الشاطبية
۳۸) شرح شرح نُخبة الفكر
۳۹) شرح الشِفا فى حقوق المصطفى
۴۰) شرح عين العلم وزين الحلم
۴۱) شرح الفقه الاكبر
۴۲) شرح كتاب الموطأ برواية محمد بن الحسن الشيباني
۴۳) شرح مسند ابى حنيفة
۴۴) شفاء السالک فى ارسال مالک
۴۵) شم العوارض فى ذم الروافض
۴۶) صلاة الجوائز فى صلاة الجنائز
۴۷) الضابطية للشاطبية اللامية
۴۸) ضوء المعالي لبدء الامالى
۴۹) فتح الاسماع فى شرح السماع
۵۰) مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥١ ) الصنيعة الشريفة في تحقيق البقعة النيفة
٥٢ ) الطواف بالبيت ولو بعدم الهدم
٥٣ ) العفاف عن وضع اليد في الطواف
٥٤ ) العلامات البينات في فضائل بعض الآيات
٥٥ ) عمدة الشمائل
٥٦ ) فتح الاسماع في شرح السماع
٥٧ ) فتح باب الاسعاد في شرح قصيدة بانت سعاد
٥٨ ) فتح باب العناية لشرح كتاب النقاية
٥٩ ) فتح الرحمن بفضائل شعبان
٦٠ ) فرائد القلائد على أحاديث شرح العقائد
٦١ ) فر العون ممن يدعي ايمان فرعون
٦٢ ) الفصل المعول في الصف الاول
٦٣ ) فصول المهمة في حصول المتمة
٦٤ ) فيض الفائض في شرح الروض الرائض
٦٥ ) قوام الصوام للقيام بالصيام
٦٦ ) القول الحقيق في موقف الصديق
٦٧ ) القول السديد في خلف الوعيد
٦٨ ) كشف الخدر عن حال الخضر
٦٩ ) لب لباب المناسك في نهاية المسالك
٧٠ ) لسان الاهتداء في بيان الاقتداء
٧١ ) مبين المعين في شرح الاربعين
٧٢ ) المختصر الاوفى في شرح الاسماء الحسنى
٧٣ ) المرتبة الشهودية في منزلة الوجودية
٧٤ ) المسلك الاول فيما تضمنه الكشف للسيوطي
٧٥ ) المسلك المتقسط في المنسك المتوسط

(c) ketabton.com: The Digital Library



٧٦ ) المسألة في شرح البسملة
٧٧ ) المشرب الوردي في مذهب المهدي
٧٨ ) مصطلحات اهل الاثر على نخبة الفكر لابن حجر
٧٩ ) معرفة النساك في معرفة السواك
٨٠ ) المقالة العذبة في العمامة والعذبة
٨١ ) المقدمة السالمة في خوف الخاتمة
٨٢ ) منح الروض الازهر في شرح الفقه الاكبر
٨٣ ) المنح الفكرية على المقدمة الجزرية
٨٤ ) المورد الروي في المولد النبوي
٨٥ ) المعدن العدني في فضل اويس القرني
٨٦ ) الناموس في تلخيص القاموس للفيروزابادي
٨٧ ) نزهة الخاطر الفاتر في ترجمة الشيخ عبد القادر الحيلي
٨٨ ) النسبة المرتبة في المعرفة والمحبة
٨٩ ) النعت المرصع في المجنس المسجع
٩٠ ) هيئة السنيات في تبيين احاديث الموضوعات
٩١ ) الهية السنية العلية على ابيات الشاطبية
٩٢ ) الرائية في الرسم

مړينه:-

د ملا علي قاري د وفات په نيټه کې هم ژور اختلاف تر سترګو کېږي، ځيني يې وفات د (١٠١٦ هـ) پر مهال بولي، ځيني يې د (١٠١٠) يو شمېر بيا د (١٠١٤) او نور بيا د (١٠٤٤) سنه د ده د مړينې کال ګڼي.

خو تر ټول سيي او حق ته نژدې قول دا دئ چې نوموړی د (١٠١٤هـ) پر مهال په شوال کې وفات شوی؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا قول امام شوكاني(مړينه۱۲۵۰) هم غوره کړی دئ او په معلاة نومې هديره کې خاورو ته سپارل شوی دئ.

مراجع:-

۱ ) البدر الطالع بمحاسن من بعد القرن السابع، د(۲۱۷) کس معرفي: ۴۴۵/۱، د شوكانى ليكنه

۲ ) التعليقات السنية على فوائد البهية في تراجمه الحنفيه، د محمد عبد الحي ليكنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۲۰ ) عمر بن ابراهيم الهروي

### لنډه پېژندنه:-

عمر د خپل وخت امام، حافظ او يو زاهد شخص او د شيخ الاسلام ابو عثمان الصابوني ماما وو، د هرات اوسېدونکی او د نسب لړۍ يې په دې ډول ده:

الحَافِظُ، القُدْوَةُ،عُمَرُ بنُ إِبْرَاهِيْمَ بنِ إِسْمَاعِيْلَ أَبُو الفَضْلِ الهَرَوِيُّ.

### زوکړه:-

امام د ( ۳۴۵ هـ) پر مهال دې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

البته خطيب په دې ځای کې هم بېل نظر لري، کېدای شي د خطيب خبره حق ته نږدې وي ځکه هغه يې شاګرد پاتې شوی دئ، دی ليکي:

وسئل عَن مولده، وأنا أسمع، فقال: ولدت فِي سنة ثمان وأربعين وثلاث مائة.

ژباړه: له ده څخه يې د پيدائښت په اړه پوښتنه وشوه او ما اورېده ده وويل: زه د (۳۴۸ هـ) پر مهال زېږېدلی يم.

### زده کړې، استاذان او شاګردان:-

نومـوړي عالم په ماشومتوب کې اول په خپله سيمه کې پر پوهانو زده کړې وکړې او بيا يې د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تندې د ماتولو لپاره سفرونه پيل کړل، د هرات مشهور استاذان يې ابو الفضل بن حميرويه، بشر بن محمد المزني او ابو منصور النصروي دي.

په مرو کې يې پر عبد الله بن عمر بن علک الجوهري او د ده د طبقې پر استاذانو زده کړې وکړې.

په بغداد کې يې پر حسين بن محمد بن عبيد العسکري او نورو سبقان وويل.

په کوفه کې يې پر علي بن عبد الرحمن البکائي تحصيلات وکړل، همدارنګه يې په جرجان کې پر ابو بکر الاسماعيلي.

په اسفرايين کې پر بشر بن احمد، په نشياپور کې پر ابو عمرو بن حمدان او نورو عالي تحصيلات بشپړ کړل.

له ده څخه د ديني ميراث په توګه دا شاګردان پاتې شوي دي:

خوربيى يې أَبُو عُثْمَانَ،أَبُو إِسْمَاعِيْلَ عَبْدُ اللهِ بنُ مُحَمَّدٍ الأَنْصَارِيُّ، مُحَمَّدُ بنُ عَلِيٍّ العُمَيْرِيُّ الزَّاهِدُ، عَبْدُ الأَعْلَى بنُ عَبْدِ الوَاحِدِ المَلِيْحِيُّ او نور...

د ده په اړه د ځينو پوهانو ويناوې:-

ذهبي په « سير اعلام النبلاء » کې ليکي:

وَكَانَ مُقَدَّماً فِي العِلْمِ وَالعَمَلِ وَالزُّهْدِ وَالوَرَعِ.

ژباړه: دی په علم، عمل، زهد او تقوا کې ړومبى وو.

وَكَانَ مُحَدِّثَ هَرَاة وَشَيْخَهَا.

بيا هم ذهبي وايي: نوموړى د هرات محدث او شيخ وو.

خطيب بغدادي ليکې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



كتبنا عنه، وكان ثقة.

ژباړه: ليکل مو څنې وکړل، ثقه وو.

مړينه:-

ښاغلی امام د ( ۴۲۵ هـ) پر مهال د اتيا کالو په عمر ومړ.

خو خطيب په تاريخ بغداد کې وايي:

وبلغني أنه توفي بهراة في سنة ست وعشرين وأربع مئة.

ژباړه: او ماته رسېدلې چې دی په هرات کې د (۴۲۶) پر مهال وفات شو.

مراجع:-

١) تاريخ بغدادد(۶۰۴۲)کس معرفي ۱۱ / ۲۷۳، ۲۷۴
۲ ) العبر ۳ / ۱۵۸
۳ ) شذرات الذهب ۳ / ۲۲۹
۴ ) المنتظم، لابن الجوزي ۲۵۲/۱۵
۵) سير اعلام النبلاء د(۳۰۱) کس معرفي:۱۷/ ۴۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۲۱ ) عطاء الخراساني

د بلخ مشهور عالم او محدث عطاء الخراساني، د تاريخ په پاڼو کې يې د نسب لړۍ داسي خوندي شوې:

عطاء بن أبي مسلم الخراساني، أبو أيوب، يا: أبو عثمان، يا: أبو محمد، يا: أبو صالح البلخي.

زوکړه:-

د يوه قول له مخې نوموړی په ( ۵۰ ) هجري کې پيدا شوی.

استاذان او شاګردان:-

عطاء له هغو پوهانو څخه دئ چې د علم په زده کړه پسې يې خورا لوی او ستر سفرونه کړي، د ليرو سيمو له پوهانو يې حديث اورېدلي، د اسلامي نړۍ له ټولو علمي مرکزونو يې ليدنه کړې، ان د وخت له دې سترو پوهانو يې علم تر لاسه کړی:

ابن المُسَيِّبِ، عُروَة، عَطَاء بنِ أَبِي رَبَاحٍ، ابن بُرَيدَةَ، نَافِع، عَمرو بن شُعَيْبٍ.

له دې سره – سره يې په شاګردانو کې د دې وتلو پوهانو نومونه هم راځي:

مَعمَرٌ، وَشُعبَةُ، وَسُفيَانُ، وَمَالِكٌ، وَحَمَّادُ بنُ سَلَمَةَ، وَإِسمَاعِيْلُ بنُ عَيَّاشٍ.

ذهبي په « ميزان الاعتدال » کې زياتوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَتَّى إِنَّ شَيْخَه عَطَاءً حَدَّثَ عَنْهُ.

ژباړه: ان شيخ يې عطاء هم ترې حديث بيان کړي.

عطاء په جهادي ډګر کې:-

عطاء له هغو ګوتو په شمار علماؤ څخه دئ چې د علم تر څنګ يې د جهاد ميدان ته هم دانګلي، د جهاد تودې او سړې يې هم پر ځان منلې، د سنګر ترخه او خواږه يې هملته په سنګر کې خپله تجربه کړي.

عطاء د هغو مجاهدينو په شان هم نه وو چې له خپل جهاد سره يې په عبادت کې کمبود راوستی، عطاء له دې سره چې په جهادي ميدان کې به وو، بيا به يې هم د شپې عبادت نه ايله کاوه، خپل ملګري يې دې ته هڅول او تل به يې د قيامت هېښوونکی منظر ور ياداوه.

ذهبي ليکي:

قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بنُ يَزِيْدَ بنِ جَابِرٍ: كُنَّا نُغَازِي عَطَاءً الخُرَاسَانِيَّ، وَنَنـزِلُ مُتَقَارِبِيْنَ، فَكَانَ يُحْيِي اللَّيْلَ، ثُمَّ يُخْرِجُ رَأْسَه مِنْ خَيمَتِه، فَيَقُوْلُ:

يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ! يَا هِشَامَ بنَ الغَازِ! يَا فُلاَنُ! قِيَامُ اللَّيلِ، وَصِيَامُ النَّهَارِ أَيسَرُ مِنْ شُرْبِ الصَّدِيْدِ، وَلُبْسِ الحَدِيْدِ، وَأَكلِ الزَّقُّومِ، وَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ!

ژباړه: عبد الرحمن بن يزيد بن جابر ويل: موږ له عطاء سره يو ځای جهاد کاوه او نژدې به مو اړول، نو ده به شپه روڼوله بيا به يې له خيمې سر را بهر کړ ويل به يې: اې عبد الرحمانه! اې هشام بن الغازه! اې فلانيه! د شپې قيامه او د ورځې روژه د صديد( نونه يا ژړې اوبه) تر څښلو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسپنې تر اغوستلو، د زقوم ونې تر خوراک ډېر اسانه دي، ځان ساتنه او نجات!.

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

قَـالَ ابْـنُ حِبَّـانَ: أَصـلُه مِـنْ بَلْـخَ، وَعِـدَادُه فِـي البَصْرِيِّينَ، وَإِنَّمَا قِيْلَ لَهُ: الخُرَاسَانِيُّ؛ لأَنَّـهُ دَخَلَ إِلَـى خُرَاسَانَ، وَأَقَامَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى العِرَاقِ، وَكَانَ مِنْ خِيَارِ عِبَـادِ اللهِ، غَيْـرَ أَنَّـهُ كَـانَ رَدِيْءَ الحِفْظِ، كَثِيْـرَ الـوَهمِ، فَلَمَّا كَثُرَ ذَلِكَ فِي رِوَايَتِه، بَطَلَ الاحْتِجَاجُ بِهِ.

ژباړه: ابن حبان ويل: اصلا د بلخ دئ خو پـه بصـريانو کـې شـمېرل کېـږي، خراسـاني ورته ځکه وايـي چـې خراسـان تـه ولاړ هلتـه واوسېدى بيا بېرته ترې عراق ته ستون شـو، دى د الله لـه غـوره بنـدګانو څخـه وو، البتـه حافظه يې کمزورې وه، وهم يې ډېـر کـاوه، نو کله چې يې په روايت کې دا زيات شـول دليل پرې نيول هم روا نه دي.

د دې په اړه امام ذهبي وايي:

قُلْتُ: هَذَا القَوْلُ فِيْهِ نَظَرٌ.

ژباړه: زه وايم: پـه دې وينـا کـې څـه خبـره شته.

وَقَالَ أَحْمَدُ: ثِقَةٌ.

وَقَـالَ يَعْقُـوْبُ بـنُ شَـيْبَةَ: ثِقَةٌ، مَعْرُوْفٌ بِالفَتْوَى وَالجِهَادِ.

وَقَالَ أَبُو حَاتِمٍ: لاَ بَأْسَ بِهِ.

وَقَـالَ حَجَّـاجُ بـنُ مُحَمَّـدٍ: حَـدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا عَطَاءٌ الخُرَاسَانِيُّ، وَكَانَ نَسِيّاً.

احمـد ثقـه بـالى، يعقـوب بن شيبه ويل: ثقه، په فتوا او جهاد مشهور وو.

ابـو حـاتم ويـل: د لابـاس مرتبـه يـې وه، حجـاج بـن محمد ويـل مـوږ تـه شـعبه بيان وکړ ده وويل مـوږ تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عطاء الخراساني بيان وکړ او د ده حافظــه کمــزورې وه.

امام تر مذي د امام بخاري تر دې جرحې وروسته چې عام روايات يې مقلوب دي داسي کاري:

قَالَ التِّرْمِذِيُّ: هُوَ ثِقَةٌ، رَوَى عَنْهُ مِثْلُ مَالِكٍ، وَمَعْمَرٍ، وَلَمْ أَسْمَعْ أَحَداً مِنَ المُتَقَدِّمِيْنَ تَكَلَّمَ فِيْهِ.

قِيْلَ: إِنَّ الَّذِي فِي تَفْسِيْرِ سُوْرَةِ نُوْحٍ مِنْ (صَحِيْحِ البُخَارِيِّ) هُوَ عَطَاءٌ الخُرَاسَانِيُّ، وَلَيْسَ بِجَيِّدٍ، بَلْ هُوَ عَطَاءُ بنُ أَبِي رَبَاحٍ فَعَلَى هَذَا لاَ شَيْءَ لِلْخُرَاسَانِيِّ فِي (صَحِيْحِ البُخَارِيِّ) .

ژباړه: ترمذي وايي: ثقه دئ، له ده څخه مالک او معمر روايات کړي، د مخکېنيو له يوه عالم څخه مي هم دې ته ورته خبرې نه دي اورېدلې.

ذهبي کاري چا چې ويلي؛ د بخاري د نوح سورې په تفسير کې عطاء، خراساني دئ؛ دا قول غوره نه دئ بلکې هغه عطاء بن ابي رباح دئ، نو پر همدې بنسټ په بخاري کې د خراساني هيڅ شی نه شته.

لکن د الارنوؤط په شمول نورو څېړونکو پرې ليکلي چې امام ذهبي خطا شوی، بلکې هغه دوه حديثونه چې امام بخاري پـه کتـاب التفسـير کـې راوړي د خراساني په سند دي، څکه عبد الرزاق په مصنف کې هم د ده په سند راوړي او دا عطاء بن ابي رباح نه دئ خو حافظ په « تقريب التهذيب: ٣٩٢ » کې وايي: لم يصح أن البخارى أخرج له .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني دا قول نه دئ صحيح چې امام بخاري ترې روايت کړی.

البته حافظ په « تهذيب التهذيب » کې وايي چې امام بخاري عطاء په ضعفاؤ کې راوړی نو د هغه روايت به ولي په صحيح کې راوړي؟، بله دا چې د ده شيخ علي بن المديني په دې خبر وو چې نه ابن جريج له عطاء څخه اورېدنه لري او نه عطاء له ابن عباس څخه نو بيا به يې ولي روايت په صحيح البخاري کې ترې نقلاوه؟، کېدای شي چې دا روايات دواړه ابن جريج په خاص ډول له ابن ابي رباح څخه اورېدلي او هغه دي له تفسير پرته کوم بل مقام وي، په تفسير کې که له خراساني نقل وي دا خو د دې مانع نه ده چې بل ځای دي له ابن ابي رباح څخه هم ثبوت ولري.

قال الطبراني: لم يسمع من أحد من الصحابة إلا من أنس.

طبراني ويلي: له انس پرته يې له نورو اصحابو نه دي اورېدلي.

وَقَالَ الدَّارَقُطْنِيُّ: هُوَ فِي نَفْسِهِ ثِقَةٌ، لَكِنْ لَمْ يَلْقَ ابْنَ عَبَّاسٍ -يَعْنِي: أَنَّهُ يُدَلِّسُ-.

دارقطني ويلي: باوري کس دئ لکن له ابن عباس سره ملاقات نه لري، ياني تدليس کوي.

صلاح الدين العلائي په جامع التحصيل کې ليکي:

قال أحمد بن حنبل رأى بن عمر ولم يسمع منه ولم يسمع من بن عباس شيئا وقال أبو حاتم لم يدرك بن عمر وقال أبو زرعة لم يسمع من أنس وحديثه عن عثمان مرسل وفي التهذيب أنه أرسل أيضا عن أبي الدرداء والمغيرة بن شعبة ومعاذ بن جبل وأبي مسلم الخولاني وقال أبو موسى المديني لم يسمع من أبي هريرة وقال إسحاق بن منصور عن يحيى بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



معين لا أعلمه لقي أحدا من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم.

ژباړه: امام احمد ویل: ابن عمر یې لیدلی خو اورېدنه ترې نه لري او نه یې له ابن عباس څخه هیڅ اورېدلي، ابو حاتم ویل: ابن عمر یې بیخي موندلی نه دئ، ابو زرعه ویل: له انسه یې نه دي اورېدلي او له عثمانه احادیث یې مرسل دي، په تهذیب کې دي چې له ابو درداء، مغیره بن شعبه، معاذ بن جبل ابو مسلم الخولاني څخه یې هم ارسال کړی، ابو موسی المدیني ویل: له ابو هریره یې هم نه دي اورېدلي، اسحاق بن منصور د یحیی بن معین په حواله ویل: زه خبر نه یم چې د رسول الله له یوه صحابي سره دي ملاقات کړی وي.

له دې بیانونو جوته شوه چې عطاء له اصحابو سره ملاقات نه لري، له دې امله یې ابن حجر په اړه لیکلي دي:

صدوق ، يهم كثيرا و يرسل و يدلس.

رښتنی دئ، ډېر وهم کوي، مرسل حدیث راوړي او تدلیس هم کوي.

له امام بخاري پرته نور ټولو پنځه ګوني کتابونه ترې روایات لري.

یوه لطیفه:-

له عطاء خراساني څخه نقل شوی چې ده ویل: له ځوانانو څخه څه غوښتل د بوډاګانو تر غوښتنې اسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، په دلیل کې یې دا ایت راوړی چې یوسف ورونو ته داسي وایي:

قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ ۫ (یوسف: ۹۲)

ژباړه: نن ورځ پر تاسو ملامتیا نه شته الله به در ته بخښنه وکړي.

او بیا یې د بوډاګانو په اړه د یعقوب υ دا وینا راوړي ده:

قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيْؕ (یوسف: ۹۸)

ژباړه: ژر به تاسو ته له خپله ربه مغفرت وغواړم.

په دې کې وینو چې یوسف سمدستي ورونه معاف کړل او یعقوب υ تر یوه وخته وځنډول.

یوه بله خبره دا هم ورته منسوبه شوې ده چې ویل به یې:

مکتوب فی التوراة : کل تزویج علی غیر هوی حسرة و ندامة إلی یوم القیامة .

ژباړه: په تورات کې لیکلي دي چې له خوښې پرته نکاح به تر قیامته د افسوز او پښیمانۍ سبب شي.

مړینه:-

نومړی د ( ۱۳۵ ) پر مهال په اریحا کې وفات شوی، دا مهال یې عمر (۸۵) کاله وو او بیا وروسته په بیت المقدس کې خاورو ته وسپارل شو.

مراجع:-

۱) طبقات ابن سعد ۷ / ۳۷۹
۲ ) تاریخ خلیفة (۴۱۰)
۳ ) طبقات خلیفة (۳۱۳)
۴ ) التاریخ الکبیر ۶ / ۴۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ ) التاريخ الصغير ۲ / ۳۷
۶ ) كتاب المجروحين: ۲ / ۱۳۰
۷ ) الجرح والتعديل ۶ / ۳۳۴ - ۳۳۵
۸ ) تهذيب الكمال (۹۴۱)
۹ ) تاريخ الإسلام ۵ / ۲۷۹ - ۲۸۰
۱۰ ) ميزان الاعتدال ۳ / ۷۳ - ۷۵
۱۱ ) العبر ۱ / ۱۸۲
۱۲ ) تهذيب التهذيب(۳۹۵) كس معرفي ۷ / ۲۱۲ - ۲۲۵
۱۳ ) مقدمة فتح الباري (۴۲۴)
۱۴ ) النجوم الزاهرة ۱ / ۳۳۱
۱۵ ) طبقات الحفاظ (۶۰)
۱۶ ) خلاصة تذهيب الكمال (۲۶۷)
۱۷ ) العقد الثمين: ۱ / ۳۷۹
۱۸ ) شذرات الذهب ۱ / ۱۹۲ - ۱۹۳
۱۹) سير اعلام النبلاء د(۵۲)كس معرفي:۱۴۰/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ف )

## ( ٢٢) فاطمه بنت ابى بكر

لنډه پېژندنه:-

فاطمه د امام ابو داؤد د زوى ابو بكر عبد الله لور ده، د ابوداؤد لمسۍ او يوه ستره محدثه ده، له خپل پلار څخه يې حديث زده كړي او هم ترې روايات لري.

نه خو يې په تاريخونو كې د زوكړې نيټه ليكله شوې او نه يې هم د مړينې.

د استادانو او شاګردانو په اړه يې يوازې دومره څه موندل كېږي:

حدثت عن: أبيها. سَمع منها: أبو القاسم عبد الواحد بن زوج الحرة مُحمد بن جعفر، وغيره.

ژباړه: دې له خپل پلاره حديث نقل كړي او له دې څخه ابو القاسم عبد الواحد د زوج الحره (محمد بن جعفر) زوى او نورو حديث اورېدلي.

خطيب بغدادي ليكي:

قَرَأْتُ فِي كِتَابِ أَبِي الْقَاسِمِ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ بِخَطِّ يَدِهِ: حَدَّثَتْنَا أُمُّ سَلَمَةَ فَاطِمَةُ بِنْتُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ الأَشْعَثِ السِّجِسْتَانِيُّ، إِمْلاءً مِنْ حِفْظِهَا، فِي مَنْزِلِ أَبِي إِسْحَاقَ الْمُزَكِّي فِي سَنَةِ اثْنَتَيْنِ وَسِتِّينَ وَثَلاثِ مِائَةٍ، قَالَتْ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلا عَلَى شِرَارِ النَّاسِ ". ( انظر الحديث في: صحيح مسلم، كتاب الفتن باب ٣٧، وفتح الباري ١٩/١٣، ٧٧، ٨٥، ٢٩٤ )

ژباړه: د ابو القاسم عبد الواحد بن محمد بن جعفر په کتاب کې مي د ده خط ولوست چې موږ ته ام سلمې فاطمې بنت عبد الله بن سليمان بن الاشعث السجستاني حديث بيان کړ د ابو اسحاق المزکې په کور کې له حافظې يې راباندي املا کاوه دا درې سوه دېرش هجري وه، دې ويل: ما ته مي پلار حديث بيان کړ، ده ويل: موږ ته زما پلار حديث بيان کړ، ده وويل: موږ ته مسلم بن ابراهيم حديث بيان کړ، هغه له شعبه هغه له علي بن الاقمر هغه له ابو الاحوص هغه له عبد الله بن مسعوده روايت کړی دئ ويل يې چې رسول الله وويل: قيامت به يوازي پر بد ترينو خلګو راځي.

۱)تاريخ بغداد د(۷۸۱۸) کس معرفي:۱۴/ ۴۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ق )

## ( ۲۳) قاسم بن سلام الهروي

### لنډه پېژندنه:-

د هرات نوموتى فقيه، حديث پوه، نحوي او په لغت پوهنه کې ماهر قاسم بن سلام الهروي چې امام بخاري ترې معلق روايات کړي خو ابوداؤد او ترمذي مسندا روايات ترې نقل کړي، مورخين يې د نسب سلسله داسي بيانوي:

الإِمَامُ، الحَافِظُ، المُجْتَهِدُ، ذُو الفُنُوْنِ، أَبُو عُبَيْدٍ القَاسِمُ بنُ سَلاَّمِ بنِ عَبْدِ اللهِ الهروي.

### زوکړه:-

نوموړی په هرات کې د ( ۱۵۷ ) هجري پر مهال دې نړۍ ته سترګې غړولې، امام مزي وايي:

قال علی بن عبد العزيز البغوی : ولد أبو عبيد بهراة ، و کان أبوه سلام عبدا لبعض أهل هراة.

ژباړه: علي بن عبد العزيز البغوي ويل: ابو عبيد په هرات کې پيدا شوی، د ده پلار سلام د ځينو هراتيانو غلام وو.

### زده کړه، استاذان او شاګردان:-

نوموړی په هرات کې پيدا شوی، همدلته يې لومړۍ زده کړې کړې او بيا يې د عالي تحصيلاتو لپاره بغداد او نورو علمي مرکزونو ته سفرونه وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومـوړي د خپلـو زده كـړو پـر مهـال لـه ډېـرو دينـي پوهانو زده كړې وكړې، د ډېرو پوهانو په وړانـدي يـې د شاګردۍ ګونډه وهلې، له ګڼو علماؤ څخـه يـې علـم تـر لاسه كړی چې ځيني مشهور يې دا دي:

أبو زيد الأنصارى، أبو عبيدة، الأصمعى، اليزيدى(دا ټـول بصـريان دي) ابـن الـأعرابى، أبـو زيـاد الكلـابى، الأموى، أبو عمـرو الشـيبانى، الكسـائى، الأحمر، الفـراء، إسـماعيل بـن جعفـر، شـريك بـن عبـد الله، هشـيم، إسـماعيل بـن عيـاش، سـفيان بـن عيينـة، أبـو بكـر بـن عيـاش، عبـد الله بـن المبـارك، سـعيد بـن عبـد الـرحمن الجمحي، عبيد الله الأشجعي، غندر، حفص بـن غيـاث، وكيـع، عبـد الله بـن إدريـس، عبـاد بـن عبـاد، مـروان بـن معاويـة، عبـاد بـن العـوام، جريـر بـن عبـد الحميـد، أبـو معاويـة الضـرير، يحيـى القطـان، إسـحاق الـأزرق، ابـن مهدي، يزيد بـن هـارون، ان لـه خپـل ملګـري هشـام بـن عماره هم.

د شاګردانو په نوملړ كې يې دا مشهور دي:

نصر بن داود، أبو بكر الصاغاني، أحمد بن يوسـف التغلبـي، الحسـن بـن مكـرم، أبـو بكـر بـن أبـي الـدنيا، الحارث بـن أبـي أسـامة، علـي بـن عبـد العزيـز البغـوي، محمد بـن يحيـى المـروزي، عبـد الله بـن عبـد الـرحمن الدارمي، عباس الدوري، أحمد بن يحيى البلاذري.

د ده په اړه د پوهانو وينا وې:-

ذكره البخارى فى كتاب " القراءة خلف الإمام " ، قال : رأيت أحمد بن حنبل ، و علـى بن المدينى ، و إسحاق بن راهويـه ، و أبـا عبيد ، و عامـة أصحابنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يحتجون بحديث عمرو بن شعيب ، عن أبيه ، عن جده ماتركه أحد من المسلمين .

ژباړه: امام بخاري په القراءة خلف الامام کې ذکر کړی، ويلي يې دي: احمد بن حنبل، علي بن المديني، اسحاق بن راهويه، ابو عبيد او زموږ عام اصحاب(محدثين) مې وليدل چې د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده په روايت يې احتجاج کاوه هيڅ مسلمان نه دئ ايله کړی.

قال أبو حاتم الرازى : لم أر أهل الحديث عنده ، فلم أكتب عنه ، و هو صدوق .

ژباړه: ابو حاتم ويل: له ده سره مې اهل الحديث نه دي ليدلي نه ما ترې ليکل کړي، خو رښتنی وو.

و قال ابن حبان فى " الثقات " : كان أحد أئمة الدنيا ، صاحب حديث ، و فقه ، و دين ، و ورع ، و معرفة بالأدب ، جمع و صنف و اختار ، و ذب عن الحديث و نصره ، و قمع من خالفه.

ژباړه: ابن حبان په الثقات کې ويلي: دی له نړۍ والو امامانو څخه يو وو، د حديثو، فقهې، ديانت او تقوا خاوند وو، ښه ادب پېژاند وو، غونډېدل يې کړي، ليکنې او غوراوی يې کړی، د حديثو يې مرسته کړې او له سقيمو يې پاک کړي او د مخالفينو يې بيخ کېندی.

و قال الأزهرى فى كتاب " التهذيب " : كان أبو عبيد دينا ، فاضلا ، عالما ، فقيها ، صاحب سنة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ازهري په التهذيب کې ويلي: ابو عبيد د غوره دين، فضل، علم او فقاهت خاوند او د سنتو څښتن وو.

قال محمد بن سعد : كان مؤدبا صاحب نحو و عربية .

ژباړه: محمد بن سعد ويل: دی اديب، د نحوې او عربيت پوهنې خاوند وو.

قال إبراهيم بن أبى طالب النيسابورى : سألت أبا قدامة عن الشافعى ، و أحمد بن حنبل ، و إسحاق ، و أبى عبيد ، فقال : أما أفهمهم فالشافعى إلا أنه قليل الحديث، و أما أورعهم فأحمد بن حنبل ، و أما أحفظهم فإسحاق ، و أما أعلمهم بلغات العرب فأبو عبيد.

ژباړه: ابراهيم بن ابى طالب ويل: له ابو قدامه مي د شافعي، احمد، اسحاق او ابو عبيد په اړه پوښتنه وکړه؟، ده وويل: په دوئ کې يې ځيرک شافعي وو خو حديث يې لږ وو، پرهيزګار يې احمد وو، يادونکی يې اسحاق او عربي لغت پوهنه کې عالم يې ابو عبيد وو.

قال عبد الخالق بن منصور : سئل يحيى بن معين عن أبى عبيد ، فقال : ثقة.

ژباړه: عبد الخالق بن منصور ويل: له يحيی د ابو عبيد په اړه پوښتنه وشوه نو ده وويل: ثقه دئ.

قال أبو عبيد الآجرى : سئل أبو داود عن القاسم بن سلام ، فقال : ثقة مأمون . و قال أبو عبد الرحمن السلمى النيسابورى : سألت أبا الحسن الدارقطنى عن

(c) ketabton.com: The Digital Library



أبـى عبيـد ، فقـال : إمـام ثقـة جبـل ، و سـلام والـده رومى.

ژباړه: ابـو عبيـد الاجري ويـل چـې لـه ابـو داؤده د قاسـم بـن سـلام پـه اړه پوښـتنه وشـوه ده وويـل: ثقه او بـاوري وو. ابـو عبـد الـرحمن السـلمي ويـل: لـه ابـو الحسـن الـدارقطني څخـه مـي د ابـو عبيـد پـه اړه پوښتنه وکړه نو ده وويل: امام، بـاوري او يـو غر وو، پلار سلام يې رومي وو.

قـال أحمد بـن كامـل بـن خلـف القاضـى : كـان أبـو عبيد فاضـلا فـى دينـه ، و فـى علمـه ربانيـا مفتيـا فـى أصناف من علوم الإسلام ، من القرآن ، و الفقـه ، و الأخبار ، و العربية ، حسن الرواية ، صحيح النقل . لا أعلم أحدا من الناس طعن عليه فى شـىء مـن أمـره و دينه .

ژبـاړه: احمـد بـن كامـل بـن خلـف القاضـي ويـل: ابـو عبيـد ښـه ديـن دوسـته وو، ربـاني علميت يې در لود، د اسلامي علومو په څو څانگو کې مفتي وو، زه نه يم خبر يو چا دي د ده په يو كار يا دين كې طعن ويلى وي.

د ځينو لغاتو په تشريح کې د ده ويناوې:-

ذكره الترمذى فى " الجـامع " فـى غيـر موضـع ، منها فى القراءات : و قرأ أبو عبيد " و العين بـالعين " ـ يعنى بضم النون .

ژباړه: امـام ترمـذي پـه جـامع ترمـذي كـې څو ځايه ياد كړى يـو يـې پـه قـراءت كـې دئ چـې ابـو عبيـد دا ايـت والعـينُ بـالعينِ وايـه، ياني د نون په پيښ سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و فى " الصحيح " أيضا فى الزكاة : و قال أبو عبيد : كل بستان عليه حائط فهو حديقة . و فى كتاب الرقاق من " الصحيح " : قال الفربرى : قال أبو جعفر ـ يعنى وراق البخارى ـ : سألت البخارى ، فقال : سمعت أحمد بن عاصم يقول : سمعت أبا عبيد يقول : قال الأصمعى ، و أبو عمرو ، و غيرهما : جذر قلوب الرجال الجذر الأصل من كل شىء .

ژباړه: په صحيح البخاري کې د زکات پر موضوع هم ترې نقل شوی چې ابو عبيد ويل: هر باغ چې پرې ديوال وي هغه حديقه (باغ يا باغچه) دئ. د صحيح البخاري په کتاب الرقاق کې هم فربري وايي چې ابو جعفر وراق البخاري ويل له امام بخاري مي وپوښتل ده وويل: له احمد بن عاصم څخه مي واورېدل ويل يې چې له ابو عبيده مي واورېدل ويل يې چې اصمعي، ابو عمرو، او نورو ويل: جذر قلوب الرجال، جذر د هر شي اصل ته وايي.

ليکنې:-

نومـوړي يو شمېر کتابونه هم ليکلي، تر ټولو مشهور يې الغريب المصنف دئ، بل کتاب يې د الامثال په نوم دئ، په دې اړه بصريانو، کوفيانو، اصمعي او ابو زيد هم ليکنې کړې، دارنګه ابو عبيد، نضر بن شميل، المفضل الضبي هم، خو ابن الاعرابي دا ټول روايات راغونډ کړي او په خپل کتاب کې يې پر بابونو وېشلي او ښه ترتيب و اوډنه يې کړې.

په غريب الحديث کې معمر بن المثنى، قطرب، الاخفش او نضر هم ليکنې کړې وې خو سندونه يې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو راوړي، بيا ابو عدنان النحوي البصري کتاب وليکی سندونه يې هم راوړل خو ترتيب او اوډنه يې د سننو او فقهې په شان وه، البته وړوکی وو، ابو عبيد د دوئ ټول کتابونه په خپل کتاب کې راغونډ کړل، سندونه يې هم ور سره راوړل.

مسند يې وليکی د هر صحابي او تابعي روايات يې راوړل، د دې نوې ليکنې ايجاد يې وکړ، نو محدثينو او فقهاؤ هم ورته پاملرنه وکړه.

يو بل کتاب يې د « معاني القران » په نوم ليکلی، په دې اړه هم مخکې معمر، قطرب، اخفش، له کوفيانو کسائي او فراء ليکنې کړې وې.

ابو عبيد د دوئ ټول کتابونه راجمع کړل، اثار، سندونه ، د اصحابو، تابعينو او فقهاؤ تفسيرونه يې پکې راوړل، نيم کتاب يې روايت کړی وو چې ترې ومړ.

په فقه کې ليکلي کتابونه زياتره د شافعي او مالک پر مذهب ليکلي، د هغو مسلک تاييدوي، دلايل يې راوړي، له لغت او نحوې ورته استدلال کوي.

په قراءت کې يې هم داسي ليکنه کړې چې په کوفيانو کې تر ده مخکې هيچا نه وه کړې، د الاموال په نوم کتاب په فقه کې ډېر غوره او ښه کتاب دئ.

خلګو له ده څخه څه د پاسه تر شل زيات کتابونه د قران ، فقهې، غريب الحديث، الغريب المصنف، الامثال، معاني القران، معاني الشعر او نورو په اړه روايات کړي.

يو شمېر کتابونه يې شته چې تر موږ نه دي رسېدلي، خو د الطاهرينو په ميراثو کې تر لاسه کېږي، دا د وخت امير وو چې ده به هر کتاب لومړی هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندي کاوه او هغه خپل زوی ته وصيت کړی وو چې د دې عالم درناوی وکړي.

يو بل عالم يې د کتابونو نوملړ داسي ذکر کوي:

" الغريب المصنف - ط " مجلدان، في غريب الحديث، ألفه في نحو أربعين سنة، وهو أول من صنف في هذا الفن، و " الطهور - " في الحديث، و " الأجناس من كلام العرب - " و " أدب القاضي " و " فضائل القرآن - " و " الأمثال - " و " المذكر والمؤنث " و " المقصور والممدود " في القراآت، و " الأموال - ط " و " الأحداث " و " النسب " و " الايمان ومعالمه وسننه واستكماله ودرجاته.

ژباړه: الغريب المصنف دوه ټوکه، د حديثو د نااشنا توريو په اړه دئ چې په څلوېښت کاله کې يې ليکلی، دا لومړی کتاب دئ چې په دې فن کې ليکل شوی، الطهور نومی په حديثو کې، الاجناس د عربي کلام نومنې، ادب القاضي، فضائل القران، الامثال، المذکر والمونث، المقصور والممدود يې نور کتاونه دي چې وروستی يې د قراءاتو په اړه دئ، نور يې الاموال، الاحداث، النسب، الايمان معالمه وسننه واستکماله ودرجاته دي.

خو يو بل کتاب يې د ناسخ و منسوخ په نوم هم شته چې په المکتبة الاسلامية کې يې د ده په ليکنو کې راوړی وو. همدارنګه يې د ليکنو په ضمن کې د المواعظ يادونه هم کړې ده چې د ده غوره ليکنه يې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ده غريب روايات:-

محمد بن مرزبان وايي:

قال : حدثني العلاء بن أبي المغيرة الأندلسي ، قال : أخبرنا علي بن بقاء الوراق بمصر ، قال : أخبرنا عبد الغني بن سعيد الحافظ ، قال في كتاب الطهارة لأبي عبيد القاسم بن سلام حديثان ما حدث بهما غير أبي عبيد ، و لاعن أبي عبيد غير محمد بن يحيى المروزي ، أحدهما حديث شعبة عن عمرو بن أبي وهب ، و الآخر حديث عبيد الله بن عمر عن سعيد المقبري حدث به عن يحيى القطان عن عبيد الله ، و حدث به الناس عن يحيى القطان عن ابن عجلان .

ژباړه: ما ته علا حديث بيان کړ ده وويل مونږ ته علي په مصر کې خبر راکړ، ده وويل: مونږ ته عبد الغني خبر راکړ، ده ويل: د ابو عبيد په کتاب الطهارت کې دوه احاديث دي چې له ده پرته بل چا نه دي بيان کړي او نه له ابو عبيده بل شاګرد نقل کړي غير له محمد بن يحيى المروزي، يو يې د شعبه حديث دئ چې له عمرو بن ابي وهبه يې نقلوي، بل يې د عبيد الله بن عمر روايت دئ چې له سعيد المقبري يې بيانوي ده له يحيى القطان هغه له عبيد الله بيان کړی او خلګو له يحيى هغه له ابن عجلانه بيان کړی.

مړينه:-

نوموړی په مکه کې د دوه سوه ځلرويشت (۲۲۴) پر مهال وفات شوی چې دا مهال يې عمر ( ۶۷ ) کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. امام مزي(مړينه۷۴۲) په تذهيب الکمال کې ويلي چې همدا قول بخاري، حارث بن ابي اسامه او نورو هم خوښ کړی دی؛ ځکه يو بل مرجوح قول دادی چې په ۲۲۳ کې وفات شوی دی.

مراجع:-


۱ ) طبقات ابن سعد ۷ / ۳۵۵
۲ ) تاريخ ابن معين: ۴۷۹، ۴۸۰
۳ ) التاريخ الکبير ۷ / ۱۷۲
۴ ) التاريخ الصغير ۲ / ۳۵۰
۵ ) المعارف لابن قتيبة: ۵۴۹
۶ ) الجرح والتعديل ۷ / ۱۱۱
۷ ) مراتب النحويين: ۹۳، ۹۴
۸ ) طبقات الزبيدي: ۲۱۷، ۲۲۱
۹ ) الفهرست لابن النديم: ۷۸
۱۰ ) تاريخ بغداد ۱۲ / ۴۰۳ - ۴۱۶
۱۱ ) طبقات الشيرازي: ۲۶
۱۲ ) طبقات الحنابلة ۱ / ۲۵۹
۱۳ ) تاريخ ابن عساکر ۳۵ / ۸۲ - ۱۱۰
۱۴ ) نزهة الالباء: ۱۳۶ - ۱۴۲
۱۵ ) صفة الصفوة ۴ / ۱۳۰
۱۶ ) معجم الأدباء ۱۶ / ۲۵۴ - ۲۶۱
۱۷ ) الکامل لابن الأثير ۶ / ۵۰۹
۱۸ ) إنباه الرواة ۳ / ۱۲ - ۲۳
۱۹ ) تهذيب الأسماء واللغات ۲ / ۲۵۷، ۲۵۸
۲۰ ) وفيات الأعيان ۴ / ۶۰ - ۶۳
۲۱ ) المختصر في أخبار البشر ۲ / ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲ ) تهذيب الكمال، باب القاف، من اسمه القاسم د(۴۷۹۲)كس معرفي.
۲۳ ) تذهيب التهذيب ۳ / ۱۴۶، ۱۴۷
۲۴ ) تذكرة الحفاظ ۱ / ۴۱۷
۲۵ )  ميزان الاعتدال ۳ / ۳۷۱
۲۶ )  البداية والنهاية ۱۰ / ۲۹۱، ۲۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۲۴ ) امام قتيبه بن سعيد بغلاني ﷾

لنډه پېژندنه:-

په افسوس سره بايدووايم چې زمورګران وطن افغانستان د مختلفو عواملو او بحرانونو له کبله په دې نه دئ توانېدلی چې په اقتصادي، سياسي او نظامي ډګرونوکې د سيمې د هيوادونو په څېر پر مختګ وکړي، خو له نېکه مرغه په علمي ډګر کې يو وخت دغني هيوادونو په کتار کې وو؛ له دې جملې کولای شو چې امام قتيبه بن سعيد بغلاني ﷾ ته ګوته ونيسو هغه چې د امام بخاري اوامام مسلم رحمهماالله استاذ او د علم حديث مشهور امام دئ، د نوموړي قبر دبغلان په نوي ښار کې دئ.

امام قتيبه بن سعيد بغلاني يا بلخي يوازينی شخصيت دئ چې په صحيح البخاري او صحيح مسلم کې يې چې د اسلامي نړۍ د علماؤ په اتفاق تر قرآن کريم وروسته صحيح کتابونه دي نوم نهه سوه څلور اويا(۹۷۴) ځله راغلی دئ.

همداراز امام قتيبه بن سعيدبغلاني ﷾ د هيواد له هغو نوموتو شخصيتونو ګڼل کېږي چې د علم او معرفت په تمه يې خپل اصل ټاټوبی بلخ پرېښود او د خپلې زمانې مختلفو علمي مرکزونو او هيوادونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د علم په لټه سفرونه وکړل، اخير د خپل زيار او هڅو په پايله کې د حديث پوهنې د يو تکړه او منلي امام په حيث ومنل شو.

خو د ډېر افسوس ځای دئ چې زموږ هيوادوال په ځانګړي ډول لوستي اوباسواده خلګ د امام قتيبة بن سعيد بغلاني ؒ په څېر د علمي، فرهنګي او تاريخي شخصيتونو له ژوند، کړنو او کارنامو ناخبره دي.

سره له دې چې موږ بايد د هغوئ په ستر پوهنيز مقام، علمي هڅو، تاريخي پر مختګونو او لاسته راوړنو خبر وای، څو مو په ځان کې د دوئ هغه صفات اوځانګړتياوې پيدا کړې وای چې د څو پېړيو په تېرېدويې لا هم د دوئ نومونه ژوندي وساتل.

هو! که موږ په لاس کې د علم ډيوه واخلو او د مطالعې فرهنګ پياوړی کړو؛ نو ناشوني نه ده چې موږ هم د خپلو اسلافو او هغو نېکونو مقام تر لاسه کړو چې نومونه يې تراوسه لاهم په ديني مراجعو (د حديثو په کتابونو)، د مسلمانانو په تاريخ او فرهنګ (د تراجمو او رجال الحديث په کتابونو) کې ثبت دي او ان شاء الله تر قيامته به همداسې ثبت وي، ځکه له مطالعې پرته د تېرو اسلافو له کړنو او کارنامو الهام اخيستل او د هغوئ لار تعقيبول؛ ناشونې برېښي.

دا ډول علمي څېړې پر موږ يو بل حق دا هم لري چې د هغوئ له نوم اوکارنامو سره اشنايي ولرو او نورو ته يې ور وپېژنو، ځکه د همدوئ په سر ښندنه او هڅو زموږ د سپېڅلي دين اساسي متون (علم حديث) تر اوسه ساتل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـوږ خپلـې ټـولنې تـه د علمـي شخصـيتونو پـه وروپېژندنه کولای شو چـې یـو لورتـه د هغـه مسـؤليت له يوې برخې ځان خلاص کړو چې دوئ يـې پـر مـوږ لري اوپـه ضـمن کـې خپـل ننني او راتلـونکې نسـلونه ددوئ له علمي اوفرهنگي خدمتونو خبر کړو چې پـه همدې لړ کې يـو بـل علمـي او وتلـی شصخيت امـام قتيبه بن سعيد بغلاني ﷬ درپېژنم.

نوم او نسب:-

د امام قتيبه ﷬ د نوم، نسب او کامـل شـهرت پـه اړه سپرت ليکونکو داسي ويلي دي:

قتيبة بن سعيد بن جميل بن طريـف بـن عبـد الله الثقفی مولاهم، أبو رجاء البلخی البغلاني.

د تاريخ ليکونکو له وينا سره سم د امام قتيبـه بـن سعيد﷬ د نسب پـه لـړۍ کـې لـه ثقفـي مـراد هماغـه مشـهور ثقفـي حجـاج بـن يوسـف الثقفـي دی چـې د عبدالملک بن مروان له لوري د عراق او خراسان والـي ټاکل شوی وو.

مشهور محدث او مورخ امام خطيـب بغـدادي ﷬ د بغداد په تاريخ کې په دې اړه وايي:

قتيبـة بـن سـعيد بـن جميـل بـن طريـف مـولی الحجاج بن يوسف .

امام قتيبة بـن سـعيد تـه لـه دې کبلـه ثقفـي ويـل کېږي چـــي نيکه جميـل يـې د حجـاج بـن يوسـف ازاد شوی غلام وو او د همـدې اړيکـو لـه کبلـه امـام قتيبـه بن سعيد بغلاني ﷬ ثقفي بلل شوی دئ. له بلخي او بغلاني د تاريخ ليکونکـو مقصـد هماغـه دوه ولايتونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې نن يې دافغانستان په جغرافيايي جوړښت کې مور پېژنو.

زوکړه:-

د امام قتيبه ﷺ د زوکړي په اړه درې قولونه يا روايتونه شته.

لومړی روايت وايي چې دی په (۱۴۸ هـق) کې زېږېدلی دئ، دويم روايت وايي چې په (۱۴۹ هـق) کې زېږېدلی دئ او درېيم وايي چې په (۱۵۰ هـق) کې زېږېدلی دئ.

د امام قتيبه بن سعيد يو شاګرد احمد بن سيار مروزي وايي:

ما له امام قتيبه ﷺ څخه واورېدل ويل يې : (ولدت سنة خمسين ومائة ) معنی داچې زه په (۱۵۰ هـق) کې زېږېدلی يم.

همدا قول حافظ ابن حجر عسقلاني ﷺ هم په تهذيب التهذيب کې راجح ګڼلی دئ او پر هغو نورو به يې دراجح والي لامل دا بيانوي چې دا قول په خپله له امام قتيبه ﷺ څخه نقل شوی دئ او معلومه خبره ده چې يو انسان د خپلې زوکړې په نېټه تر نورو ښه پوهېږي.

مشهوراستاذان:-

امام قتيبه بن سعيد بغلاني ﷺ د ښه استعداد او د ډېري علمي مينې له کبله خپل اصلي ټاټوبی بلخ پرېښود او د هغه وخت مشهورو علمي مرکزونو بغداد، حجاز، مکې ، مدينې، بصرې، کوفې، شام او مصر ته يې سفرونه وکړل ،د علم حديث پر مشهورو استاذانو اوپوهانو لکه : امام مالک بن انس (په مدينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منوره کې د حديثومشهورامام ) ليث بن سعدمصري، حمـادبن زيـد، ابـو عوانـه او د هغـه وخـت پـر نـورو مشهورو استاذانو يې زده کړې وکړې، د همدې هڅو او زيار په پايله کې وتوانېد چې ځان په حديث پوهنه کې د يو منلي محدث په توګه مطرح کړي.

امام ذهبي ﷺ د ده د ځينو مشهورو استاذانو په يادولو وايي:

فحمـل الکثيـر عـن مالـک، والليـث، وشـريک، وحماد بن زيد، وأبی عوانـة، وابن لهيعة، وبکر بن مضـر، وکثيـر بـن سـليم صـاحب أنـس بـن مالـک، وعبثـر بـن القاسـم، وعبـد الواحـد بـن زيـاد، وأبـی الأحـوص سـلام بـن سـليم، ومفضـل بـن فضـالة . . . وخلق کثير.

ژبـاړه: نـو پـر امـام مالـک، ليـث، شـريک، حماد بن زيد، ابو عوانة، ابـن لهيعـة، بکـر بـن مضر، د امام مالک پر شاګرد کثير بن سليم، عبثـر بـن القاسـم، عبـد الواحـد بـن زيـاد، ابـو الاحوص سلام بن سليم، مفضل بن فضالة او نورو ډېرو پوهانو يې تحصيلات وکړل.

مشهور شاګردان:-

څرنګـه چـې امـام قتيبـة بـن سـعيد بغلاني ﷺ د حديث پوهنې په دواړو برخو روايت او درايت کې نـوم تر لاسه کړی وو، له همدې امله يـې د حـديث پوهـانو په منځ کې خورا لوړ، وتلی او اوچت ځای درلود.

د حـديث پـوهنې او روايـت پـه فـن کـې د ده دا ستر علمـي مقام لامل شـو چـې د حديث پـوهنې د ښوونځي زده کـوونکې پـر ده د شـاګردۍ او زده کـړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویاړ تر لاسه کړي او مور په عمل کې وینو چې د حدیث پوهنې ستر استاذان او د امت لوی امامان لکه: امام احمد بن حنبل، امام بخاري، امام مسلم، امام ابو داؤد، امام ترمذي، امام نسایي او نور مشهور شخصیتونه له ده روایت کوي او دی یې د مشهورو استادانو په کتار کې وتلی ځای لري، ان په صحیح بخاري، صحیح مسلم، سنن ابی داؤد، سنن ترمذي او سنن نسایي کې به ډېری بابونه او کتابونه د ده له یاده خالي نه وي چې د ژوند لیکونکو او رجال پېژندنې ټول کتابونه په ځانګړي ډول د وتلي امام او معتبر شخصیت حافظ ابو الحجاج مزي ﷺ مشهور کتاب (تهذیب الکمال فی أسماء الرجال) هم پر دې حقیقت شاهدي ورکوي، هلته د هغو ټولو علمي شخصیتونو نومونه یاد شوي چې له ده یې روایتونه کړي دي.

زمور د پورتنۍ خبرې یو ښه لاسوند د امام ذهبي ﷺ هغه الفاظ هم دي چې د امام قتیبة بن سعید بغلاني ﷺ د یو شمېر مشهورو استادانو تر پېژندګلوي وروسته وایي:

حدث عنه الحمیدی، ونُعیم بن حماد، ویحیی بن عبد الحمید الحرانی، وأحمد بن حنبل – فأكثر -، ویحیی بن معین، وعلی بن المدینی، ومحمد بن عبد الله بن نُمیر، وأبوبكر بن أبی شیبة، وطائفة ماتوا قبله.

ژباړه : له امام قبیة بن سعید ﷺ څخه حمید، نعیم بن حماد.... او نورو چې تر ده وړاندي مړه شوي روایات نقل کړي دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو په پر تله امام احمد بن حنبل ﷬ ډېر روايات ترې کړي او بيا زياتوي:

وروى عنـــه : البخـــارى، ومســلم، وأبـــو داود، والنسائى، والترمذى فى كتبهم فأكثروا.

ژباړه : له ده امام بخاري، امام مسلم، امام ابوداؤد، امام نسايي او امام ترمذي په خپلو کتابونو کې ډېر روايات کړي دي.

## د امـام قتيبـة بـن سـعيد ﷬ د احـاديثو او رواياتو شمېر:-

د امام قتيبة بن سعيد بغلانـي ﷬ ګڼو استاذانـو او ډېرو علمي منډو - ترړو و سفرونو ته په کتلو هر سړي ته دا حقيقت په ډاګه کېداى شي چې دې ستر امام ګڼ روايات، مسموعات او علمي توکي لرل.

امام ذهبي ﷬ د ده د علمي سفرونو د يادولو په لړ کې د ده ګڼو رواياتو ته په نغوته ليکي:

وكتب ما لايوصف كثرته.

ژبـاړه : امـام قتيبـة بـن سـعيد ﷬ دومـره ډېـرې ليکنې کړې چې بيان يې نه شي کېداى.

کـه څـه هـم پـه دقيـق ډول د ده د ټولـو روايـاتو شمېر مالومول ګران کار دئ، خو بيا هم ځينو ژوند ليکونکو او څېړونکو لکه امام ذهبي ﷬ د يوې واقعې پـه تـرڅ کـې د امـام قتيبـة ﷬ د ټولـو روايـاتو او مسموعاتو شمېر يو لک احاديث او اثار بللي دي، دى وايي:

وكان شيخ صدق ، قد روى نحوا من مئة ألف .

ژباړه : قتيبة بن سعيد ﷬ يو رښتنى شخص وو چې نژدې تر يو لک زيات روايات يې نقل کړي دي.

د ده د ډېرو رواياتو يو بل ژوندی ثبوت په صحيح البخاري او صحيح مسلم کې د قتيبة بن سعيد د نقل شويو رواياتو په اړه د ځينو علماوو احصايه ده، حافظ ابن حجر د زهرةکتاب د ليکوال په نقل ليکي:

روى عنه البخارى ثلاثمائة وثمانية أحاديث، ومسلم ستمائة وثمانية وستين.

ژباړه : امام بخاري له ده (۳۰۸) او امام مسلم (۶۶۸) احاديث ترې روايت کړي دي.

د صحيحينو ټولو رواياتو ته په پام دا خورا لوړه شمېره ده.

## له بلخه يې د وتلو او په بغلان کې يې د مېشتېدو سبب:-

د سېرت او ژوند ليکونو د کتابونو له مطالعې په ډاګه کېږي چې امام قتيبة بن سعيد بغلاني بلخ په خپله خوښه نه وو پرېښې بلکې د مجبوريت له امله يې خوشي کولو ته اړشوی وو، امام ذهبي په خپل کتاب کې له حافظ ابو يعلی نقل کړی چې د بلخ په وتلو او مشهورو فقهاوو کې يو تن ابراهيم بن يوسف بلخي يوه ورځ د امام قتيبة بن سعيد بغلاني په حضور کې له امام مالک څخه دا حديث (کل مسکر خمر) واورېد چې له دوئ دوو پرته بل چا ترې نه وو اورېدلی، امام قتيبه امام مالک ته وويل : دا سړی يعنی ابراهيم بن يوسف د ارجاء عقيده لري، مانا د مرجئه ډلې ګروهې ته ژمن دئ، امام مالک په غوسه شو او د بلخ دا مشهور عالم و فقيه يې له خپله مجلسه وايستی، له همدې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بلخي له امام مالک ﷺ او امام قتيبة بن سعيد ﷺ څخه خپه شو او په زړه کې يې له هغوئ سره يو ډول کرکه پيدا شوه چې په پايله کې يې بلخ ته په ستنيدو امام قتيبة بن سعيد ﷺ له بلخه وشاړی، ځکه هغه په دې سيمه کې پراخ نفوذ درلود او امام قتيبة ﷺ مجبور شو چې خپل پلرنی ټاټوبی بلخ خوشي کړي او په بغلان کې مېشت شي، ده له بلخه بغلان ته تبعيد د قدر او قضا پرېکړه بللې او دا حالت يې په خپلو دوو بيتونو کې داسي انځور کړی دئ:

لو لا القضاءُ الذی لابد مدرکه
والرزقُ يأکله الإنسانُ بالقدر
ماکان مثلی فی بغلان مسکنه
ولا يمُرُّ بها إلا علی سفر

ژباړه: که الهي قضا چې وجود يې حتمی دئ نه وای او همدارنګه هغه رزق او اوبه چې خوړل يې اوله ورځ د هر انسان په تقدير او ازل کې نوشته دي نه وای نو بغلان له مسافر پرته د بل چا استوګنځای نه وو.

د امام قتيبه بن سعيد ﷺ علمي سفرونه:-

په لومړيو پېړيو يعني د صحابه کرامو، تابعينو، تبع تابعينو او تر دوئ وروسته پېړيو کې د علم او پوهي د تر لاسه کولو غوره وسيله علمي سفرونه بلل کېدل.

نن هم علمي سفرونه خورا ارزښتمن دي چې د علم مينه وال د خپلې سيمې له ښوونکو تر زده کړې وروسته نورو سيمو ته د پوهي او علم د تر لاسه کولو په موخه سفر کوي. په لومړيو پېړيو کې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړنې ښتنان تر ډېره محدثين وو لکه حافظ ابن الصلاح ﷫ دې وصف ته ګوته نيسي او ليکې:

وإذا فرغ من سماع العوالى والمهمات التى ببلده فليرحل إلى غيره.

ژباړه: محدث يا روايت ليکوونکی چې کله د لوړو سندو او د حديثو او رواياتو تر اورېدنې او زده کړې وروسته فارغ شي د نورو رواياتو د اخيستنې په موخه بلې سيمې ته سفر کوي.

علمي سفرونه د علمي ذخيرې په بډايه کولو کې مهم رول لري همدې اهميت ته په پام هغه محدث چې د خپلې سيمې پر استاذانو به يې بسنه کوله او د رواياتو و علم په موخه به يې نورو سيمو ته سفرونه نه کول علمي وړتيا او شخصيت به يې تر پوښتنې لاندي راتلی، خلګو به يې علميت او علمي پانګې ته د شک او ترديد په سترګو کتل .

لکه څرنګه چې د پنځمې پېړۍ مشهور ژوند ليکونکی خطيب بغدادي په خپل کتاب ( الرحلة فی طلب الحديث ) کې د حديث پوهنې له وتلي او ستر عالم يحی بن معين څخه په نقل کاږي:

أربعة لاتؤنس منهم رشدا . . . ورجل يكتب فى بلده ولايرحل فى طلب الحديث.

ژباړه: له څلورو بايد د خير تمه ونه شي د دوئ له ډلې يو هغه دئ چې د خپلې سيمې پر علمي کړيو تر زده کړې وروسته نورو سيمو ته د حديثو د ترلاسه کولو او علم موندلو په موخه سفر نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطيب بغدادي ﷬ د علمي سفرونو د اهميت تر روښانولو وروسته د دې سفرونو موخه او هدف هم بيانوي ، ليکې:

والمقصود بالرحلة فى الحديث امران: أحدهما تحصيل علو الإسناد وقدم السماع. والثانى: لقاء الحفاظ، والمذاكرة لهم، والاستفادة عنهم.

ژباړه: علمي سفرونه چې د حديث پوهنې د زده کړې په موخه ترسره کېږي دوه عمده او اساسي هدفونه لري (١) د لوړ سند تر لاسه کول او له مخکېنيو خلګو اورېدنه دا په تېره زمانه کې د محدثينو مهم هدف وو. (٢) د حديثو له حفاظو سره ليدل ، له هغوئ سره په علمي مجلسونو کې ګډون کول او د هغوئ له علمي پانګې ګټه اخيستل .

د علمي سفرونو اهميت او پکې نغښتو پټو اهدافو ته په پام قتيبه بن سعيد بغلاني ﷬ د( ٢٣ ) کلنۍ پر مهال د حديثو د زده کړې، د علمي پانګې د بډاينې، له سترو استاذانو د ګټې اخيستنې او ليدنې په موخه د خپل وخت مهمو علمي مرکزونو ته سفر پيل کړ، له همدې کبله امام ذهبي نوموړی د ( جوال ) يا ډېر ګرزېدونکې په نوم ياد کړ.

خطيب بغدادي ﷬ د هغو عملي مرکزونويادونه کوي چې قتيبه بن سعيد ﷬ سفرونه ورته کړي، له دې لړليکه د يو څو مهمو نومونو په يادولو خطيب بغدادي ليکې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحل إلى العراق، والمدينة، ومكة، والشام، ومصر، وقدم بغداد، وحدث بها.

ژباړه : قتيبه بن سعيد د عراق ، مدينې منورې، مکې مکرمې ، شام، مصر او بغداد لور ته سفرونه وکړل ، همالته يې په عملي ډول د استاذ دنده پر غاړه واخيسته له زده کړې سره – سره د حديثو پر تدريسي مسند کښېناست او د پوهي د مينه والو پام ور واووښت .

کله چې قتيبه بن سعيد بغلاني ﷺ بغداد ته د زده کړې په موخه ولاړ نو سترو محدثينو هڅه وکړه چې د ده له علمي پانګې ګټه واخلي، له همدې کبله نوموړي همالته له زده کړې سره – سره د استاذۍ دنده هم پر مخ وړله .

امام ذهبي ﷺ د قتيبه بن سعيد د علمي سفرونو ټاکلې او محدوده نېټه په ګوته کوي او د نوموړي علمي سرمايې او زياتو سفرونو ته په اشاره وايي:

نعم، وارتحل قتيبة فی طلب العلم وكتب ما لايوصف كثرة. وذلک فی سنة ثنتين وسبعين ومائة، فحمل الكثير عن مالک، والليث، وشريک، وحماد بن زيد، وأبی عوانة، وابن لهيعة، وبكر بن مضر، وكثير بن سليم، صاحب أنس بن مالک.

ژباړه: هو ! قتيبه د علم په لټه سفر وکړ او دومره روايتونه يې وليکل چې بيانول يې ناشوني دي، دا سفر په ( ۱۷۲ هـ) کې پيل او په پايله کې يې نوموړي له امام مالک،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليث ، شريک او د هغه وخت له مشهورو محدثينو حديثونه نقل کړل.

ښاغلی ذهبي ﷺ په ( تذکرة الحفاظ ) نومي کتاب کې قتيبه بن سعيد ﷺ هغه ډېر ګرزېدونکی او د زياتو سفرونو په کوونکې معرفي کوي، وايي:
وكان ثقة، عالما، صاحب حديث ورحلات.

ژباړه : قتيبه بن سعيد ثقه، عالم، د حديث پوهنې امام او په دې لار کې د ګڼو سفرونو کوونکی دئ.

د هغو ښارونو له ډلې چې امام قتيبه بن سعيد ﷺ علمي سفرونه ورته کړي يو هم بغداد او کوفه دي، لکه څرنګه چې امام قتيبه بن سعيد ﷺ عراق ته د خپل لومړني سفر يادونه کوي او وايي:
انحدرت إلى العراق أول مرة سنة اثنتين وسبعين – يعنى بعد المائة – وكنت يومئذ ابن ثلاث وعشرين سنة.

ژباړه: زه په ( ۱۷۲ هـ) کې په لومړي ځل عراق ته ولاړم او هغه مهال زه ( ۲۳ ) کلن وم .

امام ابوداود عراق ته د ده راتګ يادوي او وايي:
قدم قتيبة بغداد في سنة ست عشرة ومائتين، فجاءه أحمد ويحيى.

ژباړه : قتيبه بن سعيد ﷺ د ( ۲۱۶ هـ) پر مهال بغداد ته ولاړ او د حديث پوهنې دوه مشهور استادان امام احمد بن حنبل ﷺ او د نقد و کره کتنې ( جرح و تعديل ) پوهاند يحی بن معين له ده د ګټې اخيستنې په موخه ورته راغلل .

امام ابو حاتم رازي بغداد او کوفې ته د امام قتيبه ﷺ د سفر او له ده د محدثينو زده کړه يادوي، ليکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضـرته ببغـداد، وقـد جـاءه أحمـد، فسـأله عـن أحاديث فحدثه بها . وجاء أبو بكر بن أبى شيبة وابنُ نُمير بالكوفة إليه ليلة، وحضرت معهما، فلم يزالا ينتخبان عليه، وأنتخب معهما إلى الصبح.

ژبـاړه: زه پـه بغـداد کـې امـام قتيبـه تـه ورغلم ، امام احمد بن حنبل ﷬ هم له ده د يـو شـمېر حـديثو پـه اړه پوښـتنې تـه راغـی امام قتيبه ورته ولوستل، په کوفه کـې امـام قتيبه ته ابو بکر بـن ابـی شـيبه او ابـن نميـر راغلـل چـې زه هـم ورسـره وم، مـوږ تـر سهاره له ده سره د شته احاديثو پر چاڼ او انتخاب مصروف وو.

د عبدالله بن محمد بن سيار په نوم يـو بـل محـدث وايي:

قتيبة صدوق، ليس أحد من الكبار إلا وقد حمل عنه بالعراق. وحدث عنه أحمد بن حنبل، وأبوخيثمة وعباس العنبرى، والحميدى بمكة.

ژبـاړه: قتيبـه بـن سـعيد رښـتنی وو، پـه عراق کې هيڅ داسي ستر عالم نه دئ پاتي شـوی چـې لـه ده يـې روايـت نـه وي کـړی، همدارنگه امام احمـد بـن حنبـل، ابـو خيثمـه، عباس عنبري او حميدي هم په مکه کـې لـه ده حديث روايت کړي دي.

مړينه:-

امـام قتيبـه بـن سـعيد بغلانـي ﷬ خپـل ارزښـتمن ژوند د رسول الله ρ احـاديثو تـه چـې پـه اسلام کـې د قرآن کريم تشرېح او توضيح گڼل کېږي وقف کړ او پـه دې لړ کـې يـې د امـام بخـاري، امـام مسـلم بـن حجـاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیشاپوري، ابوداود ستجستاني، ابو عیسی ترمذي، امام نسایي په څېر شخصیتونه وروزل، دوئ د اسلامي نړۍ هغه نوموتې څېرې دي چې کتابونه یې د مسلمانانو لپاره د قرآن کریم په تشریح او توضیح کې د لارښوونکو حیثیت لري.

دا د همدوئ هڅې وې چې مسلمانانو ته په صحیح ډول د نبي ﷺ په ژبه د قرآن کریم تشریح ورسېده په رښتیا هم دا لیکنې د مسلمانانو علمي او فکري سرچېنې دي.

همدا راز یې د دوئ په څېر د نورو سلګونو کسانو په روزلو د اسلام علمي بڼ لا زرغون کړ.

تر دې هڅو، زیار، زده کړې او ښوونې وروسته یې بالاخره د نوي (۹۰) یا (۹۱) کلونو په عمر د (۲۴۰ هق) کال د شعبان په میاشت کې د اجل بلونکې ته لبیک ووایه او د ابد لپاره یې له نړۍ سره مخه ښه وکړه.ښاغلی قتیبه بن سعید ﷬ همالته په خپل ټاټوبي کې خاورو ته وسپارل شو، قبر یې تر ننه هم د بغلان د مرکز شهرنو په اطرافو کې خوندي پاتي دئ.

د امام قتیبه بن سعید بغلاني ﷬ تر وفات وروسته بغلان د حدیثو او رجالو په کتابونو کې یو نه هېرېدونکی نوم شو او ورو – ورو د خلګو پام ور واووښت مګر تر دې وراندي بغلان د بلخ ولایت یو کلی ګڼل کېدی.

روح یې ښاد او یاد یې ژوندی

۱)تاریخ بغداد(۶۹۴۲) کس معرفي:۱۲/ ۴۶۰
۲)تهذیب الکمال(۴۸۵۲)کس معرفي:۵۲۳/۲۳
۳) تذکرة الحفاظ الطبقة الثامنة: ۲/ ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



( م )

## ( ۲۵) مکي بن ابراهيم

لنډه پېژندنه:-

د وخت غوره محدث، فقيه، د سترو محدثينو استاذ، ثقه او وتلی عالم مکې بن ابراهيم د خراسان د ګوتو په شمار علماؤ څخه ګڼل کېږي.

نوموړی د بلخ شمالي ولايت ته منسوب دئ او محدثينو خراسانی بللی دئ، له اوولسو تابعينو خوله په خوله روايات لري او له ده څخه د صحاح سته وو د ليکوالانو ترڅنګ د امام احمد غوندي لوړ شخصيت هم روايات نقل کړي دي، امام بخاري په خپل صحيح کې زيات ثلاثي روايات له همدې جيد محدث څخه نقل کړي دي. په تاريخ کې يې د نسب سلسله په دې توګه بيان شوې ده:

مكي ابن إبراهيم بن بشير بن فرقد او يا فرقد بن بشير، الإمام الحافظ الصادق، مسند خراسان، أبو السكن، التميمي الحنظلي البلخي.

لکه څرنګه چې يې په نسب نامه کې وينو چې بلخ ته منسوب شوی دئ او ځينو محدثينو هم خراساني بللی دئ نو دا اشارې موږ ته هم په پوره ډاډ دا الهام

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکوي چې نوموړی د همدې ولايت دئ چې همدا اوس د هيواد په جغرافيه کې خورا ارزښتمن رول لري.

امام مزي په تهذيب الكمال کې ليکې:

ذكره خليفة بن خياط فى الطبقة الخامسة من أهل خراسان.

ژباړه: دی خلفيه بن خياط د پنځمې طبقې خراسانی عالم بللی دئ.

زوکړه:-

دا چې نوموړی په څو هجري کې پيدا شوی نو د ده له خولې به يې واورو:

سأله محمد بن علي بن جعفر البلخي : في أي سنة ولدت؟. قال : في سنة ست وعشرين ومائة.

ژباړه: محمد بن علي بن جعفر البلخي له ده پوښتنه وکړه چې په کوم کال زېږېدلی؟ نو ده وويل: په يو سل او شپږ ويشت (۱۲۶) هجري کې.

زده کړې:-

نوموړی وايي: په يوولس کلنۍ کې به پلار د سبق لپاره بوتلم خو زه نه په پوهېدم نو کله چې اوولس کلنۍ ته ورسېدم بيا مي د زده کړو لپاره تلوسه ښکاره کړه.

نوموړی څو ځله د حج لپاره مکې ته تللی او په لار کې يې له محدثينو د زده کړو تنده هم خړوبوله.

د وخت له سترو محدثينو يې زده کړې کړې او د ديني علومو مرکزونو لکه کوفه، بصره، مکه، مدينه، خراسان، بغداد او نورو ښارونو ته يې د علمي تندې د خړوبولو لپاره سفرونه کړي دي او هلته يې د وخت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذانو، پوهانو، علماؤ، محدثينو او ... څخه زده کړې کړې څو چې نوموړى خپل اصلي منزل ته ورسېد او بيا يې نورو زده کوونکو ته همدا لړۍ جاري وساتله.

له نوموړي ستر محدث څخه د صحاح سته وو د پوهانو ترڅنګ امام احمد، امام يحى بن معين، امام ابن المديني او نورو مشهورو محدثينو هم حديث روايت کړى او مکې بن ابراهيم د دې ښاغلو د غوره، مشهورو او نوم وتلو استاذانو په کتار کې راځي.

د بخاري زياتره ثلاثيات ( ثلاثي روايات ) د همدې افغان او بلخي عالم په لنډ سند را نقل شوي دي، نوموړى په خپله وايي که زه پوهېداى چې ما ته به خلګ دومره زياته اړتيا ولري نو ما به ټول روايات له تابعينو نقل کړي واى او په سند کې به مي بل چا ته ځاى نه واى ور کړى.

دا جمله يې هم پر لوړ شان، علمي ذوق او ښه وړتيا دلالت کوي، نوموړى له تابعينو خوله په خوله روايات لري او په يو شمېر سندونو يې له تابعينو پرته له نورو محدثينو هم روايات نقل کړى دي.

## استاذان:-

مکې بن ابراهيم د خپلو زده کړو پر مهال د اسلامي نړۍ له وتلو پوهانو څخه زده کړې وکړې چې زيات شمېر يې په کې تابعين هم ول چې د ځينو مشهورو استاذانو نوملړ يې په دې توګه دئ:

يزيد بن أبي عبيد، بهز بن حکيم، عبد الله بن سعيد بن أبي هند ، ابن جريج ، هشام بن حسان ، الجعيد بن عبد الرحمن ، حنظلة بن أبي سفيان ، موسى بن عبيدة، عثمان بن سعدالکاتب ، أبو حنيفة ، أيمن بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابل، داود بن يزيد الأودي ، فائد أبي الورقاء ، فطر بن خليفة ، هاشم بن هاشم بن عتبة ، هشام الدستوائي ، عثمان بن الأسود ، مالك بن أنس ، يعقوب بن عطاء.

شاگردان:-

کله چې نوموړی امام له زده کړو فارغ شو نو په خپله سيمه او بيلابېلو علاقو کې يې له نبوي چېنې څخه د هغو زده کوونکو تنده خړوبوله چې د همدې چېنې څخه د تندې ماتولو لپاره به ده ته راغلي ول، په دې سلسله کې يې ډېر شاگردان تربيه کړي دي چې د ځينو ښاغلو نومونه يې په لاندي ډول دي:

البخاري، أحمد بن حنبل، عبيد الله القواريري، يحيى بن يحيى، يحيى بن معين ، بندار، سهل بن زنجلة، عبد الصمد بن الفضل البلخي، عباس الدوري، أحمد بن عبيد الله النرسي، الكديمي، معمر بن محمد البلخي، يزيد بن سنان البصري، عمر بن مدرك القاص، حفيده محمد بن حسن، إبراهيم بن زهير الحلواني، إبراهيم بن عثمان البلخي، إبراهيم بن يعقوب الجوزجاني، أحمد بن نصر مقرئ نيسابور، إسماعيل بن محمد بن أبي كثير البلخي، حامد بن محمود بن حرب، أبو عوف البزوري، عبد الصمد بن سليمان البلخي الأعرج، محمد بن أحمد بن ماهان البلخي، محمد بن أحمد بن مدويه الترمذي، محمد بن بشر السرخسي، محمد بن خشنام بن صالح البلخي، محمد بن صالح الصيدلاني ، ومحمد بن عامر بن كامل ، عبد الصمد بن غالب ، محمد بن عبد الحميد البزاز، محمد بن عيسى بن قاسم ، محمد بن علي بن جعفر بن الزبير د الحافظ أبو علي پلار ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد بن عمرو السواق ، عبد الله بن محمد ، عبد الرحيم بن حازم، په دې کې لس بلخيان دي.

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

قال الكوسج : سألت أحمد عن مكي ، فقال : ثقة.

کوج ويل له امام احمده مي د مکې په اړه پوښتنه وکړه نو ويې ويل: ثقه دئ.

وروى أحمد بن زهير عن يحيى: صالح.

احمد بن زهير له يحى نقل کړی چې صالح دئ.

وقال أبو حاتم: محله الصدق.

امام ابو حاتم ويل چې صدوق يعنی رښتنی دئ.

وقال العجلي: ثقة.

عجلي ويل:باوري دئ.

وقال النسائي: ليس به بأس.

نسائی ويل: پروا نه شته پرې، معنا روايت يې صحيح دي.

پوهانو يې په اړه کښلی دي چې د نجاشي د جنازې د لمانځه په روايت کې تېروتلی وو ده داسې بياناوه:

حدث عن مالك ، عن نافع ، عن ابن عمر أن النبي -صلى الله عليه وسلم -صلى على النجاشي فكبر أربعا فتفرد بهذا ، ثم رجع عنه ، لما بان له أنه وهم ، وأبى أن يحدث به.

ده له مالک هغه له نافع هغه له ابن عمره حديث بياناوه چې رسول الله ρ پر نجاشي په څلور تکبيره لمونځ وکړ، په دې سند يوازي ده روايت کړی وو څکه يې بيا رجوع وکړه او دا ورته ښکاره شوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروتې دئ نو د روايت له بيانولو يې هم ډډه کوله.

بيا يې داسي بياناوه:

ثم وجده في كتابه ، عن مالك ، عن الزهري ، عن سعيد ، عن أبي هريرة وقال : هكذا في كتابي.

بيا ده په خپل كتاب كې داسې وموندل چې دى له مالک هغه له زهري هغه له سعيد او هغه له ابوهريره روايت كوي، نو ده بيا ويل زما په کتاب کې همداسي دي.

قال الدارقطني : مكي ثقة مأمون.

دارقطني ويل: مكې ثقه او باورى دئ.

وقال محمد بن عبد الوهاب الفراء: حدثنا مكي بن إبراهيم ، الرجل الصالح بنيسابور.

محمد بن عبد الوهاب الفراء ويل: موږ ته نېک سړي يعني مكې بن ابراهيم په نيشاپور كې حديث بيان كړ.

ذهبي وايي: لم يلق البخاري بخراسان أحدا أكبر منه . روى له الجماعة.

د ده يو ژوند ليكوونكى كاږي چې بخاري په خراسان كې تر ده له بل لوى او ستر محدث سره نه دئ مخ شوى او له ده ټولو صحاحو سته وو روايات كړي.

ده ده په سند راغلى روايت چې بخاري هم نقل كړى دئ:

أخبرنا يوسف بن أبي نصر ، وعبد الله بن قوام ، وطائفة ، سمعوا الحسين بن أبي بكر ، قال : أخبرنا أبو الوقت ، حدثنا أبو الحسن المظفري ، أخبرنا ابن حمويه ، أخبرنا محمد بن يوسف ، حدثنا البخاري ، حدثنا مكي بن إبراهيم ، حدثنا عبد الله بن سعيد بن أبي هند ، عن أبيه ، عن ابن عباس ، قال : قال النبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ρ : -نعمتان مغبون فيهما كثير من الناس : الصحة والفراغ.

ابن عباس وايي چې رسول الله ρ وويل: په دوو نعمتونو کې زيات خلګ ښه رايه نه لري: روغتيا او فراغت.

مړينه:-

د دقيقې نېټې په اړه يې د پوهانو اخلاف شتون لري، د ځينو اقوال يې دا دي:

قال أبو حاتم والبخاري: مات سنة أربع عشرة.

ابوحاتم او بخاري وايي :په دوه سوه او څورلس کې مړ شوی دئ.

وقال ابن سعد ومطين وعبد الصمد بن الفضل وغيرهم : سنة خمس عشرة ومائتين . زاد ابن سعد : ببلخ في النصف من شعبان ، وقد قارب المائة ، وكان ثقة ، ثبتا في الحديث -رحمه الله.

ابن سعد ، مطين ، عبد الصمد او نورو ويل:په دوه سوه او پنځلس کې مړ شوی دئ، ابن سعد اضافه کړې چې مړينه يې په بلخ کې د نيمايي شعبان پرمهال وه او دی په دې وخت کې سلو کلونو ته لنډ شوی وو او دی په حديثو کې ثقه او اعتمادي کس وو.

أَبُو عَلّي ونا مُحَمَّد قَالَ وَمَات مكي بن إِبْرَاهِيم لَيْلَة الْأَرْبَعَاء قبيل الصُّبْح لِلنِّصْفِ من شعْبَان سنة 215 قَالَ البُخَارِيّ فِي التَّارِيخ الصَّغِير مَاتَ سنة أَربع عشرَة أَو 215 وَقَالَ فِي الْكَبِير مَاتَ سنة 214 وَلم يشك فِيهِ وَقَالَ أَبُو عِيسَى مَاتَ سنة 214 وَقَالَ ابْن سعد توفّي سنة 215 .

ژباړه: ابوعلي وايي چې مور ته محمد حديث بيان کړ ده ويل: مکې بن ابراهيم د چار شنبې په شپه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار لیږ مخکې د دوه سوه پنځلس ( ۲۱۵ هـ) پر مهال د شعبان د میاشتې په نیمایي کې مړ شو.

بخـاري پـه تـاریخ صـغیر کـې ویلـي دي چـې پـه ځورلس یا (۲۱۵هـ ) کې مړ شو او په تاریخ کبیر کې یې ویلي دي په (۲۱۴هـ) کې مړ شو او په دې ځای کې یـې شک نه دئ کړی، امام ترمذي ویلي دي چې په ( ۲۱۴ ) کې مړ شوی دئ او ابن سعد ویلي دي چې پـه ( ۲۱۵ ) کې وفات شوی دئ.

مراجع:-
۱ ) طبقات ابن سعد ۷ / ۳۷۳
۲ ) طبقات خلیفة: ت ۳۱۴۳
۳ ) التاریخ الکبیر ۸ / ۷۱
۴ ) التاریخ الصغیر ۲ / ۳۳۳
۵ ) الجرح والتعدیل ۸ / ۴۴۱
۶ ) تاریخ بغداد ۱۳ / ۱۱۵
۷ ) تهذیب الکمال: ۱۳۶۹
۸ ) تذهیب التهذیب ۴ / ۶۸ / ۲
۹ ) العبر 1 / ۳۶۸
۱۰ ) تذکرة الحفاظ 1 / ۳۶۵
۱۱ ) الکاشف ۳ / ۱۷۳
۱۲ ) دول الإسلام 1 / ۱۳۱
۱۳ ) تهذیب التهذیب ۱۰ / ۲۹۳
۱۴ ) طبقات الحفاظ: ۱۶
۱۵ ) خلاصة تذهیب الکمال: 398
۱۶ ) شذرات الذهب ۲ / ۳۵
۱۷)سیر اعلام النبلاء(۲۱۴) کس معرفي:۵۵۳/۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ٣٦) محمد بن ابان البلخي

د نوموړي په اړه مو تر ډېري لټې وروسته هم پوره او دقيق مالومات ترلاسه نه کړل، خو دا چې افغانی عالم دئ له دې امله يې ژوند ليک دلته راوړم که څه هم د کمو مالوماتو له کبله به ځينې نيمګړتياوې ولري.

د نومړی د نسب لړۍ داسي ذکر شوې:

محمد بن أبان بن وزير البلخي أبو بكر بن إبراهيم المستملي الحافظ ويعرف بحمدويه.

زوکړه:-

د زوکړه په اړه يې ما ته هيڅ ډول مالومات هم نه دي شوي.

زده کړه، استاذان او شاګردان:-

له امام وکيع سره يې څه د پاسه لس کاله تېر کړي، له ده يې زده کړې هم کړې او د نورو استاذانو نومونه يې په دې ډول دي:

ابن عيينة، ابن علية، عبد الوهاب الثقفي، عبد الرزاق، ابن مهدي، ابن إدريس، ابن نمير، إبراهيم بن صدقه، أيوب بن سويد الرملي، أبو أسامة، عبدة بن سليمان، ابن عدي، ابن أبي فديك، معن بن عيسى، يزيد بن هارون، غندر، محمد بن فضيل، النضر بن كثير، شبابة بن سوار، يحيى بن سعيد القطان، عبد الله بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهب، أبو أمامة، أَبو بَكْر بْن عياش، عقبة بـن خالـد، أبـو خالد الأحمر، مروان بن معاوية او نور...

د علم او پوهي په ترلاسه كولـو كـې يـې د سـتړيو تر ګاللو وروسته نورو ته د پوهي نقلولو دنده ومنلـه او لانديني شاګردان يې وموندل:

د صحاحو ليكوالانو تـرې روايـات كـړي البتـه يـوازي مسلم په خپل صحيح كې ترې نه دي نقـل كـړي خـو پـه نورو كتابونو كې ترې روايات لري.

موسى بـن هـارون، إبـراهيم الحربـي، عبـد الله بـن أحمـد، أبـو حـاتم، حسـين بـن محمد القبـاني، المعمـري، أحمـد بـن سـلمة، إبـراهيم بـن أبـي طالـب، ابـن خزيمـة، السراج، أبو القاسم البغوي او نور...

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

محمد بن أبان أبو بكر البلخي ثقة.

ژباړه: محمد بن ابان ابو بكر البلخي ثقه دئ.

زركلي يې په اړه وايي:

محمد بن أبان البلخي، أبو بكر: من حفاظ الحديث. كان مستملى " وكيع ". له تصانيف في الحديث. توفي ببلخ.

ژبـاړه: محمد بـن ابـان البلخـي ابـو بكـر د حـديثو لـه سـترو حافظـانو څخـه وو، دی د وكيـع ملګـری وو، پـه حديثو كې يې ليكنې كړې او په بلخ كې وفات شوی.

يو شمېر نور پوهان يې په اړه وايي:

وقال بن أبي حاتم عن أبيه صدوق وقال النسائي ثقة وذكره بن حبان في الثقات وقال كان حسن المذاكره ممن جمع وصنف.

ژباړه: ابن ابی حاتم د خپل پلار پـه حوالـه ويـل چـې رښتنی دئ، نسائي ويل: باوري دئ، ابن حبان په كتـاب الثقـات كـې راوړی او ويلـي يـې چـې غـوره بحـث يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



كاوه، له هغو پوهانو څخه وو چې حديث يې را غونډ کړي او ليکنې يې کړې.

له نومړي څخه امام بخاري ( ۳۸ ) روايات نقل کړي، البته دا ټول په صحيح کې نه دي.

مړينه:-

نوموړی په محرم کې د ( ۲۴۴ هـ) پر مهال په بلخ کې وفات شوی. دا د موسی بن هارون قول دئ، قباني بيا د بخاري په حواله ويلي چې په ( ۴۵ ) کې وفات شوی.

مراجع:-

۱ )تهذيب الكمال(۵۰۲۱)كس معرفي:۲۴/ ۲۹۶

۲)موسوعة اقوال الامام احمد بن حنبل في رجال الحديث وعلله، المجلد الثالث حرف الميم د(۲۲۶۴) كس معرفي:۲۲۸/۳.

۳)تاريخ بغداد، تتمة باب محمد، ذكر من اسمه محمد و اسم ابيه ابان،(۴۵۸) كس معرفي: ۷۶/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۲۷ ) امام ابن حبان رحمه الله

### لنډه پېژندنه:-

زمونږ په هيوادکې ډېرې داسې شخصيتونه تېر شوي دي چې د ژوند په ډېرو ډګرونو کې يې لوى نوم اوشهرت ګټلى دئ، مسلمان امت ته يې نه هېرېدونکې خدمتونه ترسره کړي دي اودومره ستړې يې ګاللې چې يادول يې هم ګران کار دئ.

### نوم يې:-

الإمام العلاّمة الحافظ أبوحاتم محمد بن حبان بن أحمدبن حبان بن معاذ بن معبد بن سهيد بن هديَّة بن مرة بن سعد بن يزيد التميمي الدارمي البُستي .په ابن حبان ډېرمشهوردى اوكنيه يې ابوحاتم دى.

### وطن يې:-

نومونږى د بُست دئ، پر مشاهير علماء الامصار كتاب يې محقق ليكي: ولد ببست وهي مدينة كبيرة هراة وغزنة (من بلاد كابل عاصمة افغان اليوم). بُست كې پيدا شوى دا د غزنـــــي اوهرات ترمنځ يولوى ښاردئ؛ د كابل له ښارونو بلل كېږي چې د ننـي افغان پلازمېنه دى. شاوخوا سيمه يې په ګرمسېرسره هم يادېږي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تودو اطرافوپه معنا دئ. دا سيمه ډېرې ويالي اوشنې سيمې لري چې په وروستيوکې يوځه ويجاړي هم پکې پېښه شوې ده.

ويکيپيډيا پـه دې اړه ليکـي: «د بسـت کلا د افغانستان د هلمند ولايت د بست په سيمه کي يوه لرغونې کلا ده. په هغه ځای کي چي د افغانستان دوه نـامتو هلمنـد او ارغنـداب سيندونه سره يوځـای کيږي يوه ډيره لويه کلا چي د هغي له پورتنې برخې ټـول لښـکرګاه ښـا مالوميږي جوړه شوي ده دا کلا د بست په نامه ياديږي چي د هلمند ولايت د لښکرګاه ښار ته څيرمه پرته ده چې د افغانستان او آن د نړي په تاريخ کي ځانګړی او مشهور نوم لري.»

ستر محدث، علامه، حافظ ابو حاتم محمد بن حبان رحمه الله د همدې سيمې اوسيدونکی دئ.

## علمي سفرونه:-

د علم موخه يې سفرونه وکړل، بېلابېلو ښارونو او هيوادونو ته ولاړ چې په دې لړکې بصرې، مصر، موصل، نساء، جرجان، بغداد، دمشق، نيشاپور، عسقلان، بيت المقدس، طبري، هرات او نورو سيمو ته ولاړ.

د استاذانو شمېر يې نژدې دوه زره دئ، ده هم د خپل يوه کتاب ( التقاسيم والانواع ) په مقدمه کې داخبره کړې او ليکلي يې دي:

لعلنا قد كتبنا عن أكثرمن ألفي شيخ من إسبيجاب إلى الإسكندرية.

يعني کېدای شي له اسيجابه تراسکندرې ماله دوو زرو استاذانو احاديث ليکلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ذهبي يې پر خبرو داسې تبصره کړې:
( كذا فلتكن الهمم ) يعني عزم بايدهمداسې وي.
نومـوړي پـه ګڼوعلومـوکې خورامهـارت ترلاسـه کړ،که په احاديثو کې دده مهارت ته وګورو نـو پـه دې فن کې يې پراخه پوهه او معلومات درلودل او پـر دې هـم قـادر وو چـې د نصوصـوپه رڼـاکې يـې احکـام او مسائل استنباط کړي وای .
همدارنګه يې په عربي پوهنه، طب، علم نجوم او نـورو کـې هـم پـوره لـاس درلـود د ده دا مهارتونـه لـه هغو کتابونو چې موږ ته يې د علمي پـانګي پـه توګـه پرېښې په ډاګه معلومېږي.
امام حاکم د ده په اړه ويلي:
ابن حبان من أوعية العلم في الفقه واللغة والحديث والوعظ، ومن عقلاء الرجال.
ژبـاړه: امـام ابـن حبـان رحمـه الله پـه فقـه، لغـت، حديث او وعـظ کـې ډېـر وتلـی او خـورا هوښـيار سړی دئ.
د ده پـر کتاب(مشـاهير علمـاء الامصـار و اعلـام فقهـاء الاقطـار) محقـق مـروزق علـي ابـراهيم، د ابـن حبـان پـه سـتاينه کـې د ابـو سـعد عبـد الـرحمن وينـا راوړې ده:
(أبو حاتم البستي كان من فقهاء الناس وحفاظ الاثار المشهورين في الامصار والاقطار عالما بالطلب والنجوم وفنون العلوم الف المسند الصحيح والتاريخ والضعفاء والكتب المشهورة في كل فن وفقه الناس بسمرقند ثم تحول الى بست).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ابو حاتم له فقيهو وګړو ؤ؛ په ښارونو او د نړۍ په ګوټ کې د مشهورو اثارو حافظ، په طب، نجوم او نوور علمي فنونو عالم وو؛ صحيح مسند، تاريخ، کتاب الضعفاء او په هر فن کې يې مشهور کتابونه ليکلي دي، په سمرقند کې يې خلکو ته پوهاوى ور کړ او بيا بست ته ولاړ.

امام خطيب د ده په اړه ويلي:

کان ابن حبان ثقة نبيلاً فهماً .

يعني نوموړى ثقه، هوښيار او ځيرک وو.

ياقوت الحموي د ده په اړه ويلي:

کان ابن حبان مکثرا من الحديث والرحلة والشيوخ عالما بالمتون والاسانيد أخرج من علوم الحديث ما عجَزَ عنه غيره،ومن تأمل تصانيفه تأمُّل منصف علم أنّ الرجل کان بحراً في العلوم.

ژباړه: ابن حبان ډېر حديث لرل، له زياتو شيخانو د زدکړې په پار يې ډېر سفرونه کړي، په متونو او سندونو پوه وو؛ دحديثو له فنه يې هغه څه استنباط کړي چې نورو يې وس نه درلود، چاچې په انصاف د ده پر تصانيفو فکر کړى هغه پوهېږي چې نوموړى د علومو سمندر وو.

مګر دا يو حقيقت دئ چې ابن حبان د جرحې او تعديل په فن کې له تساهل يا هم اسانۍ څخه کار اخيست او د خلګو په اړه يې فيصلې تر ډېره د تساهل بنياد لري. (ضوابط الجرح و التعديل : ۴۸ د دکتور عبد العزيز بن محمد بن ابراهيم ليکنه )

استاذان:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه چې ده په خپله ویلي نوموړي تر دوه زره له ډېرو استاذانو روایتونه کړي دي، موږ به یې دلته څو مهم یاد کړو:

١) احمدبن الحسن بن عبدالجبار بن راشد البغدادي ، (أبو محمد)،وثقه الخطيب وغيره وكان صاحب حديث وإتقان.

٢) أحمد بن علي بن المثنى بن يحيى بن عيسى بن هلال التميمي (أبو يعلى الموصلي) محدث الموصل وصاحب المسند والمعجم.

٣) الحسن بن سفيان بن عامربن عبد العزيز ، أبو العباس الشيباني الخراساني النسوي،صاحب المسند (ت 303هـ)، وقد حضر دفنه ابن حبان .

٤) الحسين بن محمد بن أبي معشر مودود، أبو عروبة السلمي الحراني الجزري، مفتي أهل حَرّان ومصنف كتاب ( الطبقات) و ( تاريخ الجزيرة )

٥) ابن خزيمة إمام الأئمة وشيخ خراسان

٦)السَرّاج: - هومحمدبن إسحاق بن إبراهيم بن مهران،أبوالعباس السراج الثقفي مولاهم الخراساني النيسابوري، صاحب «المسند الكبير.

## علمي اثار:-

ابن حبان رحمه الله یوله هغوعلماووګڼل شوی چې زښتې ډېرې لیکنې یې کړې او تر شا یې ګڼ علمي اثار پرېښې دي.

ده ګڼ شمېر لیکنې کړې چې ډېره برخه یې په احادیثو او جرح وتعدیل کې ده، په دې فنونوکې یې بې حده مهارت ترلاسه کړی، لکه وړاندې چې موږویل امام حموي د ده په اړه ویلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أخرج من علوم الحديث ما عجَزَ عنه غيره،ومن تأمل تصانيفه تأمُّل منصف علم أنّ الرجل كان بحراً في العلوم.

ژباړه: د حديثوله فنه يې هغه څه استنباط کړي چې نورو يې وس نه درلود، چا چې په انصاف دده پر تصانيفو فکر کړی هغه پوهېږي چې نوموړی دعلومو سمندر وو.

د ده د تصنيفاتو په اړه معاصرو څېړونکولکه شيخ شعيب الارنوط د ( الإحسان ) (۱/۲۹-۳۳)په مقدمه کې تفصيلي بحث کړی چې چاپ، ناچاپ اورک شوي اثار يې پکې بيان کړي دي په هغوکې يې ځينې دادي:

۱) أسامي من يعرف بالكنى – درې ټوکه

۲ ) أنواع العلوم وأوصافها - درې ټوکه

۳ ) التقاسيم والأنواع په مرتب ډول داحسان په نوم چاپ شوی.

۴ ) الثقات - داهم چاپ شوی دی.

۵ ) روضة العقلاء ونزهة الفضلاء - چاپ

۶ ) علل أوهام أصحاب التواريخ - لس ټوکه

۷ ) علل حديث مالك - لس ټوکه

۸ ) المجروحين من المحدثين والضعفاء والمتروكين - چاپ شوی اود علماوو تر منځ مشهور دی.

۹ ) مشاهير علماء الأمصار – چاپ

داسې نور تصانيف چې د اعلامو او تراجمو په کتابونو کې يې يادونه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړينه:-

زمـوږ دا بـې جـوړې محـدث لـه هغومعلوماتوسـره سم چې موږترلاسه کړي د( ۳۵۴هـ) د شوال يا کـوچني اختر په مياشت همدې بست کې وفات شوی دئ.

۱)مختصر تاريخ دمشق حرف الميم:۲۲/ ۷۹

۲)تاريخ الاسلام و وفيات المشاهير و الاعلام، المجلـد السـادس والعشرون، الطبقـة السادسـة والثلاثون، وفيـات سنة اربع وخمسين وثلاث مئة: ۱۱۳/۲۶

۳)معجم البلدان:۱/ ۴۱۴

۴)مشـاهير علمـاء الامصـار، د محقـق مـرزوق علـي ابـراهيم پـه مقدمـه کـې د ابـن حبـان معرفـي. دا کتـاب پـه (۱۹۹۱م) کـې د دار الوفـاء للطباعـة والنشر والتوزيـع لـه خـوا چاپ شوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۲۸ ) محمد بن یوسف الفریابي

### لنډه پېژندنه:-

امام فریابي د فریاب ستر محدث، عالم، زاهد او له هغو کسانو څخه وو چې په کتلو اشارې ورته کېدې، د احمد بن حنبل او د ټولو صحاحو د لیکوالانو په شان سترو محدثینو پرې زده کړې کړې، مورخینو یې د نسب سلسله داسي بیان کړې:

محمد بن یوسف بن واقد بن عثمان الفریابي ، الإمام الحافظ ، شیخ الإسلام أبو عبد الله الضبي.

### زوکړه:-

نوموړی امام په یوسل او شل (۱۲۰) کې دې نړۍ ته سترګې غړولې.دا قول د ابن حجر دئ.

خو امام ابن حبان د الثقات په باب المیم کې لیکي:

وَكَانَ مولده سنة سِتّ وَعشْرين وَمِائَة.

ژباړه: د فریابي زوکړه په ( ۱۲۶ ) کې شوې ده.

### زده کړه، استاذان او شاګردان:-

نوموړی د وخت له دوود سره سم لومړی د خپلې سیمې پر پوهانو زده کړې پیل او بیا یې د اسلامي نړۍ ډېر ښارونه پسې ګز وپل کړل، د وخت سترو علمي مرکزونو ته ورغی او خپله علمي تنده به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې ماتوله، د بغداد، کوفې، قیسارېې او نورو ښارونو علاقې يې د علم او پوهې په لټون کې وکتلې.

نوموړي د تحصیلاتو پر مهال له دې استاذانو پوهه اخيستې:

يونس بن أبـي إسحاق، فطـر بـن خليفـة، مالـك بـن مغول، عمـر بـن ذر، الأوزاعي، الثـوري لـه ده څخـه يـې زيات روايات نقلول، إسرائيل، جرير بن حازم، عيسى بـن عبد الرحمن البجلي، صبيح بن محرز المقرائي، أبان بـن عبد الله البجلي، إبراهيم بن أبي عبلة، عبـد الحميـد بـن بهرام، فضيل بن مرزوق، ورقاء، نافع بن عمر او نور...

د شاګردانو په لړ کې يې د دې مشـهورو شـاګردانو نومونه د يادولو وړ دي:

البخـاري، أحمـد بـن حنبـل، محمد بـن يحيـى، إسحاق الكوسج، سلمة بن شبيب، أبو بكر بن زنجويه، محمد بـن سهل بن عسكر، أبو محمد الدارمي، محمد بن عبد الله بن البرقي، مؤمـل بـن يهـاب، حميـد بـن زنجويـه، أحمـد بـن عبد الله العجلي، عباس الترقفي، عبد الله بـن محمد بـن أبي مريم، عبد الله (د ده زوی), عبد الوارث بن الحسن بـن عمـرو بـن الترجمـان البيسـاني، عمـرو بـن ثـور الجذامي، محمد بن مسلم بن وارة او نور...

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

د عجلي پر تاريخ الثقات کتاب يې محقق ليکي:

متفق على توثيقه، أخرج له الجماعة. وقـال المزي: روى لـه الجماعة.

پــر بــاوريتوب يــې اتفــاق دئ او د صــحاحو ټولــو ليکوالو ترې روايات کړي. مزي هم ويلي چې د صحاحو مصنفينو ځنې روايات کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال أحمد: كان رجلا صالحا ، صحب سفيان ، كتبت عنه بمكة.

احمد ويل: نېک سړی وو، له سفيان سره يې وخت تېر کړی او ما په مکه کې ترې حديث ليکلي.

قال أبو عمير بن النحاس : سألت يحيى بن معين : أيما أحب إليك ، كتاب قبيصة أو كتاب الفريابي ؟ قال : كتاب الفريابي.

ژباړه: ابو عمير بن النحاس ويل: له يحيى بن معين څخه مي وپوښتل: د قبيصه کتاب دي خوښ دئ که د فريابي؟، ده وويل د فريابي کتاب.

روى عباس عن يحيى قال : قبيصة ، ويحيى بن آدم ، وأبو أحمد الزبيري ، والفريابي ، كلهم عن سفيان قريب من السواء.

ژباړه: عباس له يحيى روايت کړی ده ويل چې قبيصه، يحيى بن ادم، ابو احمد الزبيري او فريابي له سفيانه په روايت کې سره نژدې دي.

قال عثمان الدارمي : قلت لابن معين : الفريابي في سفيان ؟ قال : مثلهم ، يعني مثل عبيد الله بن موسى وقبيصة، وعبد الرزاق.

عثمان الدارمي ويل: ابن معين ته مي وويل: له سفيانه فريابي په روايت کې څنکه دئ؟، ده وويل: د عبيد الله بن موسى، قبيصه او عبد الرزاق په شان دئ.

وقال العجلي : الفريابي ثقة.

عجلي ويل: فريابي باوري دئ.

وقال البخاري فيما حكاه عنه الدولابي : حدثنا محمد بن يوسف - وكان من أفضل أهل زمانه - عن سفيان بحديث . . . ذكره.

دولابي له امام بخاري څخه نقل کړی چې ده ويل موږ ته محمد بن يوسف حديث بيان کړ او دی د خپل وخت غوره عالم وو، ده له سفيانه حديث روايت کړی بيا يې نور ذکر کړ.

وقال النسائي : ثقة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقال أبو زُرْعَة : الفريابي أحب إليَّ من يحيى بن يمان.
وقال أبو حاتم : ثقة صدوق . وسئل الدارقطني عنه ، فوثقه.

ژباړه: نسائي ثقه بللی، ابو زرعه ويل: فريابي راته تر يحيى بن يمان خوښ دئ، ابو حاتم ويل: باوري او رښتنی دئ او له دارقطني د ده په اړه پوښتنه وشوه نو توثيق يې وکړ.

وقال ابن زنجويه : ما رأيت أورع من الفريابي.

ژباړه: ابن زنجويه ويل: ما تر فريابي زيات پرهېزګار نه دئ ليدلی.

وقال ابن عدي : لـه عن الثوري أفرادات ، ولـه حديث كبير عن الثوري ، ويقدم على جماعة في الثوري ، كعبد الرزاق ونظرائه ، وقالوا : الفريابي أعلم بالثوري منهم .

ژباړه: ابن عدي ويل: دی له ثوري افراد لري، خو همدی له ثوري ډېر نقل کوي، د ثوري په روايت کې پر يوې ټولۍ مخکې دئ، لکه عبد الرزاق او امثال يې، دوئ ويل: فريابي د روايت له مخې تر دوئ د ثوري په احاديثو ډېر ښه عالم دئ.

خو عجلي په خپل کتاب کې له ځينو بغداديانو څخه نقل کړی چې له ثوري څخه په رواياتو کې زياتې تېروتنې هم لري، ان په ( ۱۵۰ ) کې ترې خطا شوی دئ.

له بدعت څخه زيات نفرت:-

وقال البخاري : رأيت قوما دخلوا إلى محمد بن يوسف الفريابي ، فقيل له : إن هؤلاء مرجئة ، فقال : أخرجوهم ، فتابوا ورجعوا.

ژباړه: امام بخاري ويل: يو شمېر خلګ مې وليدل چې محمد بن يوسف الفريابي ته ورغلل، ده ته وويل شول چې دا مرجئه دي، ده وويل: وې باسئ، نو هغو توبه وکړه او له دې عقيدې يې رجوع وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې جوتېږي چې نوموړي امام په دين کې له بدعت څخه خومره نفرت کاوه، له قران او سنت سره متصادمه هيڅ بله عقيده يې نه شواى منلاى.

مړينه:-

قال البخاري وابن يونس : مات في شهر ربيع الأول سنة اثنتي عشرة ومائتين.

ژباړه: بخاري او ابن يونس ويل: دى د ربيع الاول په مياشت دوه سوه دوولس(۲۱۲) هجري کې وفات شو.

مراجع:-


۱ ) التهذيب ۹: ۵۳۷
۲ ) وثقات أتباع التابعين ۷: ۴۳۴
۳ ) تاريخ الثقات باب الميم ۱/ ۴۱۶ د عجلي
۴ ) تاريخ ابن معين: ۵۴۳
۵ ) التاريخ الكبير(۸۴۴) کس معرفي: ۱ / ۲۶۴
۶ ) التاريخ الصغير ۲ / ۳۲۴
۷ ) المعرفة والتاريخ ۱ / ۱۹۷، ۱۹۸
۸ ) الجرح والتعديل ۸ / ۱۱۹
۹) اكمال تهذيب الكمال ۴۳۷۵ کس معرفي:۱۰/۴۰۰
۱۰ ) تذكرة الحفاظ ۱ / ۳۷۶
۱۱ ) العبر ۱ / ۳۶۳
۱۲)تهذيب الكمال د(۶۴۱۵) راوي معرفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ( ٣٩ ) ابو عبد الله محمد بن عبد الرحمن الهروي

لنډه پېژندنه:-

د هرات وتلی عالم، تکړه محدث، نامتو حافظ محمد بن عبد الرحمن، چې تاریخونو یې د نسب سلسله داسې راوړې:

أَبُو عَبْدِ اللهِ مُحَمَّدُ بنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الهَرَوِيُّ.

زوکړه:-

نوموړی عالم د دویمې هجري په پیل کې پیدا شوی.

استاذان او شاګردان:-

ابو عبد الله له ښو تکړه زده کوونکو زده کړې وکړې، سفرونه یې وکړل او د اسلامي نړۍ په علمي مرکزونو کې یې له ډېرو پوهانو څخه استفاده وکړه، علامه ذهبي یې د زده کړو او استاذانو په اړه داسې لیکي:

سَمِعَ: أَحْمَدَ بنَ يُوْنُسَ اليَرْبُوْعِيَّ وَطَبَقَتَهُ بِالكُوْفَةِ، وَإِسْمَاعِيْلَ بنَ أَبِي أُوَيْسٍ وَغَيْرَهُ بِالمَدِيْنَةِ، وَأَحْمَدَ بنَ حَنْبَلٍ، وَطَبَقَتَهُ بِبَغْدَادَ، وَإِبْرَاهِيْمَ بنَ مُحَمَّدٍ الشَّافِعِيَّ بِمَكَّةَ، وَمُحَمَّدَ بنَ مُعَاوِيَةَ النَّيْسَابُوْرِيَّ، وَمُحَمَّدَ بنَ مُقَاتِلٍ المَرْوَزِيَّ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ده په کوفه کې له احمد بن يونس اليربوعي او د ده د طبقې له علماؤ اورېدلي، په مدينه کې يې له اسماعيل بن ابي اويس او نورو اورېدلي، په بغداد کې يې له احمد بن حنبل او د ده له مثل پوهانو اورېدنه کړې، په مکه کې يې له ابراهيم بن محمد الشافعي څخه اورېدلي، همدارنګه يې له محمد بن معاويه نيشاپوري او محمد بن مقاتل المرزوي څخه اورېدل ثابت دي.

دی يې وړاندي د شاګردانو په اړه داسي کاږي:

حَدَّثَ عَنْهُ: أَبُو حَاتِمِ بنُ حِبَّانَ فِي (صَحِيْحِهِ) وَالعَبَّاسُ بنُ الفَضْلِ النَّضْرَوِيُّ، وَبِشْرُ بنُ مُحَمَّدٍ المُزَنِيُّ، وَسَائِرُ عُلَمَاءِ هَرَاةَ.

ژباړه: له ده څخه او حاتم بن حبان په خپل صحيح کې حديث روايت کړي، همدارنګه عباس بن الفضل النضروي، بشر بن محمد المزني او د هرات نورو علماوو.

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

امام ذهبي نوموړی په دې القابو ستايلی:

الإِمَامُ، المُحَدِّثُ، الثِّقَةُ، الحَافِظُ.

بيا وروسته د ده په اړه کاږي:

وَجَمَعَ وَصَنَّفَ.

ژباړه: علوم يې راغونډ کړي او ليکنې يې کړې.

مړينه:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



امـام ذهبـي يـې د مړينـې پـه اړه پـه « ميـزان الاعتدال » کې دوه قوله ذکر کړي:

مَاتَ: فِي ذِي القَعْدَةِ، سَنَةَ إِحْدَى وَثَلاَثِ مائَـةٍ عَلَـى الأَصحّ.

وَقِيْلَ: تُوُفِّيَ فِي صَفَرٍ سَنَةَ اثْنَتَيْنِ وَثَلاَثِ مائَـةٍ وَقَدْ قَارَبَ المائَةَ.

ژباړه: دى پـه ذى القعـده کـې د تـر ټولـو سـهي قـول لـه مخـې د ( ۳۰۱ ) هجـري پـر مهال ومړ، چا ويلـي چـې پـه صـفره کـې د ( ۳۰۲ ) پر مهال مړ شو چې دا وخت يې عمر سلو کالو ته نژدې وو.

مراجع:-


۱) مختصـر طبقـات علمـاء الحـديث لـابن عبـد الهادي: ورقة ۱ / ۱۳۱

۲ ) تذکرة الحفاظ(۷۱۸)راوي معرفي:۱۹۳/۲

۳ ) العبر: ۲ / ۱۲۰

۴ ) الوافي بالوفيات: ۳ / ۲۲۶

۵ ) طبقات الحفاظ: ۳۰۴

۶ ) شذرات الذهب: ۲ / ۲۳۵

۷ ) ميزان الاعتدال د ( ۵۸ ) راوي پېژندنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۳۰ ) محمد بن احمد ابو الفضل الهروي

د ده په اړه هم لیږ مالومات تر لاسه کېږي، په تاریخونه یې په اړه ډېر څه نه دي لیکل شوي یوازي نسبي سلسله یې په تاریخ کې خوندي ده:

مُحَمَّد بن أَحْمد بن مُحَمَّد الْحَافِظ أَبُو الْفضل الجارودي الْهَرَوِيّ.

### زوکړه:-

د زوکړي نیټه یې هم دقیقه نه ده مالومه البته تر ( ۴۰۰ ) هجري مخکې به په درې سویمه پېړۍ کې پیدا شوی وي، خو مالومه نیټه یې نه شته.

### استاذان او شاګردان:-

د تاریخ په پاڼو کې د نوموړي عالم د دې استاذانو نومونه موندلای شو:

أَبَو عَليّ حَامِد بن مُحَمَّد الرفاء, مُحَمّد بن عبد الله السليطي, أَبو إِسْحَاق القراب, پلار یې أبو يَعْقُوب, عبد الله بن الْحُسَيْن الْبَصْرِيّ الْمروزِي, سليمَان بن أَحْمد الطَّبَرَانِيّ, مُحَمّد بن عَليّ بن حَامِد, إِسْمَاعِيل بن نجيد السّلمِيّ, أحمد بن مُحَمَّد بن سلمويه النَّيْسَابُورِي, عمر بن مُحَمَّد بن جَعْفَر الْأَهْوَازِي الْبَصْرِيّ.

په شاګردانو کې یې د دې اشخاصو نومونه یادولای شو:

أَبُو عَطاء المليحي, عبد الله بن مُحَمَّد الْأَنْصَارِيّ الملقب شيخ الْإِسْلَام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې به يې له ده حديث بياناوه ويل به يې: حَدثنَا إِمَام أهل الْمشرق أَبُو الْفضل.

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

سبکي په طبقات الشافعيه کې ليکي:

قَالَ أَبُو النَّصْر الفامي كَانَ عديم النظير فِي الْعُلُوم خُصُوصا فِي علم الْحِفْظ والتحديث وَفِي التقلل من الدُّنْيَا والاكتفاء بالقوت وحيدا فِي الْوَرع.

ژباړه: ابو النصر الفامي ويل: په علومو کې بې جوړې وو په ځانګړې توګه په حفظ، احاديثو، له دنيا څخه په مخ اړونه، په لږ څه قناعت او په تقوا کې يوازينی وو.

بيا کاږي:

وَقَالَ بَعضهم هُوَ أول من سنّ بهراة تَخْرِيج الْفَوَائِد وَشرح الرِّجَال والتصحيح.

ژباړه: ځينو ويلي: دی لومړی هغه دئ چې په هرات کې يې تخريج الفوائد، د راويانو پېژندنه او سمونه دوود کړه.

تقی الدين عراقي يې په اړه ليکي:

شَيْخُ هَرَاةَ فِي عَصْرِهِ الْمَشْهُورُ بِالْحِفْظِ، كَثِيرُ الْحَدِيثِ، كَثِيرُ الشُّيُوخِ، رَحَلَ وَأَدْرَكَ مَشَايِخَ خُرَاسَانَ، وَالْجَبَلِ، وَأَصْبَهَانَ، وَبَغْدَادَ، وَالْبَصْرَةِ.

ژباړه: په خپل وخت کې د هرات شيخ، په حفظ مشهور، د ډېرو حديثو او شيخانو خاوند، سفرونه يې کړي او د خراسان، جبل، اصفهان، بغداد او بصرې مشايخ يې موندلي.

مړينه:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام د شوال پر ( ٢٣ ) تاريخ د ( ۴١٣ ) هجري پر مهال ومړ.

مراجع:-

١) طبقات الشافعية الكبرى د ( ٣٠٣ ) راوي د سبكي ليكنه

٢ ) المنتخب د ( ٢١ ) راوي پېژندنه، د حافظ تقى الدين العراقي ليكنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۳۱ ) ابو منصور محمد بن احمد الهروي

### لنډه پېژندنه:-

ابــو منصــور د هــرات لــه وتلــو پوهــانو، علمــاؤ، ليکوالانو او غوره محدثينو څخه ګڼل کېدی، د تفسـير او حديثو تر څنګ يې په يو شمېر فنونـو کـې ليکنـې کـړې دي، مورخينو يې د نسب سلسله داسي ذکر کړې:

مُحَمَّد بن أَحْمد بن الأَزْهَر بن طَلْحَة أَبُو مَنْصُور الْهَرَوِيّ الأَزْهَرِي اللّغَوِيّ الشَّافِعِي.

امـام خپـل نيکـه ازهـر تـه پـه نسـبت کولـو ازهـري بولي، دی په هرات کې پيدا شوی او هم په هرات کـې مړ شوی دئ.

### زوکړه:-

ښاغلی امـام د ( ۲۸۲ ) هجـري پـر مهال پـه هـرات کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې.

### زده کړه او استادان:-

ده د وخـت لـه دوود سـره سـم لـومړی لـه خپلـې سـيمې زده کـړې پيـل کـړې، بيـا بغـداد تـه ولاړ او همدارنګه يـې نـور سفرونه هـم وکړل، د تحصـيلاتو پـر مهال يې له دې استاذانو زده کړې کړې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَبَو الْقاسم الْبَغَوِيّ, أَبو بكر ابْن أبي دَاوُد, إِبْرَاهِيم بن عَرَفَة نفطويه, ابْن السراج، الْحُسَيْن بن إِدْرِيس, مُحَمّد بن عبد الرَّحْمَن
السامی، أَبو الْفضل المنذری, عبد الله بن عُرْوَة.

په شاګردانو کې يې دا مشهور دي:
أَبُو ذَر عبد بن أَحْمد, أَبُو عُثْمَان سعيد القرشی, الْحُسَيْن الباشانی, عَلی بن أَحْمد بن خمرويه، أَبُو يَعْقُوب القراب او نور...

د ده په اړه د پوهانو نظرونه:-

سبکي په طبقات الشافعيه الکبرى کې ليکي:

وَكَانَ إِمَامًا فِی اللُّغَة بَصيرًا بالفقه عَارِفًا بِالْمذهبِ عالی الْإِسْنَاد ثخين الْوَرع كثير الْعِبَادَة والمراقبة شَدِيد الِانْتِصَار لألفاظ الشافعی.

ژباړه: دی په لغت کې امام، په فقه کې هوښيار، د مذهب پېژندونکی، د لوړ سند خاوند، د ښې تقوا څښتن، ډېر عبادت او مراقبه کوونکی او د شافعي د الفاظو ډېر کومک کوونکی وو.

امام سمعاني په المنتخب کې ليکي:

كان إمامًا فاضلًا، مكثرًا من الحديث، مبالغًا في طلبه، قرأ بنفسه على الشيوخ وكتب.

دی ډېر غوره امام، د زياتو حديثو لرونکی، د حديثو په لټه کې مبالغه کوونکی، په خپله يې پر يو شمېر شيخيانو لوست کړی او هم يې ليکنې کړې.

ليکنې:-

نوموړي د خپل ارزښتمن ژوند پر مهال څو خورا په زړه پوري او ارزښتمنې ليکنې هم کړې، تاريخونه يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليكنو نوملړ خوندي كړى، د ليكنو فهرست يې په دې ډول دئ:

۱) تهذيب اللغه، لس ټوكه
۲) التقريب ( په تفسير كې)
۳) كتاب تفسير الفاظ المزني
۴) علل القراءآت
۵) الروح وما ورد فيه من الكتاب والسنة
۶) تفسير اسماء الحسنى
۷) الرد على الليث
۸) تفسير اصلاح المنطق
۹) تفسير السبع الطوال
۱۰) تفسير ديوان ابى تمام
۱۱) كتاب الادوات

او له دې پرته نور كتابونه هم لري.

نوموړي په عربيت كې لوى لاس در لود، له دې امله يې له ښارايي عربو سره ملاقاتونه كول او د هغوئ لور ته به يې سفرونه كول.

مړينه:-

امام اللغه د (۳۷۰) هجري پر مهال په ربيع الاول كې له دې نړۍ د ابديت لور ته وكوچېد.

مراجع:-

۱) الوفيات ۱: ۵۰۱
۲) مجلة المجمع العلمي العربيّ ۱: ۲۷۰
۳) إرشاد الأريب ۶: ۲۹۷
۴) آداب اللغة ۲: ۳۰۸
۵) فهرست الكتبخانة ۴: ۱۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ ) الفهرس التمهيدي ۲۴۱ په دې کې يې د تهذيب ۱۸ ټوک هم ياد کړی.

۷ ) والسبكي ۳/ ۱۰۶

۸ ) مفتاح السعادة ۱/ ۹۷ بيا ۲/ ۱۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( ۳۲ ) محمد بن يوسف الهروي

### لنډه پېژندنه:-

نوموړی عالم د هرات د سترو علماؤ په کتار کې ګڼل کېدی، د شافعي مذهب له وتلو پوهانو څخه وو، د ذهبي په وينا نوموړي زده کړې ډېرې وروسته پيل کړې که يې له پيله ورته ملا تړلې وای نو د خپلې زمانې ستره علمي مرجع به وای، د نسب لړۍ يې په دې ډول ده:

الحافظ الفقيه الشافعي محمد بن يوسف بن بشر بن النضر بن مرداس أبو عبد الله الهروي ويعرف بغندر.

### زوکړه:-

نوموړی امام د ابن عساکر په قول(۲۲۹، له بل قول سره سم ۲۳۰ ) هجري پر مهال دې نړۍ ته راغلی.

### زده کړه، استاذان او شاګردان:-

امام لکه ذهبي چې وايي خپلې زده کړې وروسته پيل کړې، د خپل ژوند له پيله يې داسې نه دي کړې او که يې له اوله ځان زده کوونکی جوړ کړی وای نو د ده په څېر چې د خپلې زمانې له باوري سرچينو به ګڼل کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زده کړو پر مهال بصرې، حمص، بغداد، دمشق او نورو ښارونو ته سفرونه کړي او هلته يې له دې استاذانو د زده کړې تنده ماته کړې:

مُحَمَّدُ بْنُ عَبْد اللَّـهِ بـن عَبـدِ الحَكَـمِ، الربيـع بـن سليمان (دواړه مصريان دي)، بكار بـن قتيبـة، إبـراهيم بـن مـرزوق (دا دواړه بصـريان دي)، وإبـراهيم بـن منقـذ الخولاني، محمد بـن عـوف (دواړه حمصيان دي)، سـعد بن محمد البيروتـي، محمد بـن حمـاد الطهرانـي، أحمـد بـن عبـد الله بـن عبـد الـرحيم البرقـي، عبـاس بـن الوليـد البيروتـي، حسـن بـن مكـرم، محمد بـن عـوف الطـائي او نور.

دين، ملت او قوم ته د خدمت لپاره ده هم زيات شاګردان وروزل البته د مشهورو نومونه يې دا دي:

الطَّبَرَانِيّ، وَالزُّبَيْر بن عَبْدِ الوَاحِدِ الأَسدَاباذِي، وَالقَاضِـي أَبُـو بَكْرٍ الأَبْهَرِيّ، وَعَبْد الوَاحِدِ بن أَبِي هَاشِمٍ المُقْرِئ او نور...

د ده په اړه د پوهانو ويناوې:-

امام ابن عساکر(مړينه۵۷۱) په خپل کتاب تاريخ دمشق کې د نومـوړي د پېژنـدنې پـر مهـال امـام د الحافظ او الفقيه په القابو ستايلی دئ.

امام خطيب بغدادي يې په اړه ليکي:

وكان أحد الحفاظ الثقات.

ژباړه: او دی له باوري حافظانو يو وو.

امام ذهبي يې په اړه په سير اعلام النبلاء کې کاږي:

الحَافِظُ، الصَّادِقُ، الرَّحَّالُ، أَبُو عَبْدِ اللهِ الشَّافِعِيُّ، الفَقِيْهُ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: د حادیثو حافظ، ربښتنی، ډېر کوچېدونکی، ابو عبد الله شافعي مسلکه فقیه وو.

مړینه:-

د هرات دا ښاغلی امام د روژې په میاشتي کې د (۳۳۰) هجري پر مهال له دې نړۍ د ابدیت لورته وکوچېد. ابن عساکر وایي: تر سل کاله اوښتی وو.

مراجع:-


۱) تاریخ بغداد: ۳ / ۴۰۵ - ۴۰۶
۲) تاریخ ابن عساکر(۷۱۳۴) کس معرفي
۳) تذکرة الحفاظ: ۳ / ۸۳۷ - ۸۳۸
۴) العبر: ۲ / ۲۲۳ - ۲۲۴
۵) الوافي بالوفیات: ۵ / ۲۴۶
۶) مرآة الجنان: ۲ / ۲۹۸
۷) غایة النهایة: ۲ / ۳۲۸
۸) طبقات الحفاظ: ۳۴۸
۹) شذرات الذهب: ۲ / ۳۲۸


د دویم ځل تصحیح کار یې د (۵/۱۱/۲۰۱۹) ماښام پر شپږ بجې پای ته ورسېد.

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهرست


| | | |
|---|---|---|
| | سريزه | ۱ |
| ۱ | ابراهيم بن يعقوب الجوزجاني | ۳ |
| ۲ | امام نسائي | ۷ |
| ۳ | ابو يعقوب الطالقاني | ۱۱ |
| ۴ | ابو يعقوب اسحاق الهروي | ۱۵ |
| ۵ | ابراهيم بن عبد الله الهروي | ۱۷ |
| ۶ | ابو سعيد بن طهمان الهروي | ۲۲ |
| ۷ | اما ابو سليمان الخطابي | ۳۰ |
| ۸ | سعيد بن يعقوب الطالقاني | ۳۵ |
| ۹ | سعيد بن منصور | ۴۰ |
| ۱۰ | اما ابو داؤد | ۴۵ |
| ۱۱ | ابو النصر عبد الرحمن الهروي | ۵۸ |
| ۱۲ | ابو روح عبد المعز الهروي | ۶۰ |
| ۱۳ | ابو الموفق عبد الواسع الهروي | ۶۲ |
| ۱۴ | ابو الخير عبد الله الهروي | ۶۴ |
| ۱۵ | عبد الله بن محمد الهروي | ۶۷ |
| ۱۶ | عبد الله بن سليمان السجستاني | ۷۳ |
| ۱۷ | ابو ذر عبد الله بن احمد الهروي | ۸۲ |
| ۱۸ | امام عثمان بن سعيد الدارمي | ۸۸ |
| ۱۹ | علامه ملا علي قاري | ۹۶ |
| ۲۰ | عمر بن ابراهيم الهروي | ۱۰۶ |
| ۲۱ | عطاء الخراساني | ۱۰۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | فاطمة بنت ابي بكر السجستاني | ۱۱۷ |
| ۲۳ | قاسم بن سلام الهروي | ۱۱۹ |
| ۲۴ | امام قتيبة بن سعيد البغلاني | ۱۳۰ |
| ۲۵ | مكي بن ابراهيم | ۱۴۵ |
| ۲۶ | محمد بن ابان البلخي | ۱۵۳ |
| ۲۷ | امام ابن حبان | ۱۵۶ |
| ۲۸ | محمد بن يوسف الفريابي | ۱۶۳ |
| ۲۹ | محمد بن عبد الرحمن الهروي | ۱۶۸ |
| ۳۰ | محمد بن احمد الهروي | ۱۷۱ |
| ۳۱ | ابو منصور محمد الهروي | ۱۷۴ |
| ۳۲ | محمد بن يوسف الهروي | ۱۷۸ |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**